







# سياسي اقتصاد

ليکوال: محمد رضا قرباني

# سیاسي اقتصاد

لیکوال: محمد رضا قرباني
ژباړن: محمد اکبر نیازی

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| • د کتاب نوم: | **سیاسي اقتصاد** |
| • لیکوال: | **محمد رضا قرباني** |
| • ژباړن: | **محمد اکبر نیازی** |
| • بیا ټایپ: | **اختر بخت** |
| • چاپ کال: | **۱۳۹۵ل.** |
| • د بیا ټایپ او بریښنایي خپرېدو نېټه: | **۱۴۰۳ل.** |

# د محتوياتو لړ

**سرليک ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ صفحه**

## لومړی څپرکی


انسانان يو بل ته اړتيا لري ............................................. ۱

توليد څه ته وايي؟.............................................................. ۲

ماده څه ته وايي؟ ............................................................... ۵

مؤلده (توليدونکي) ځواکونه................................................ ۸

د توليد مناسبات يا اړيکې څه ته وايي؟ ................................ ۹

د مؤلده ځواکونو او د توليد د وسايلو ترمنځ اړيکې ................. ۱۰

ويش څه ته وايي؟ ............................................................ ۱۳

لگښت څه ته وايي؟........................................................... ۱٤

سياسي اقتصاد څه ته وايي؟ ............................................... ۱۵


## دويم څپرکی


تر پانگوالۍ وړاندې د توليد طريقې ........................................ ۱٦

په لومړنيو اشتراکي ټولنو کې مؤلده ځواکونه.............................. ۱٦

په لومړنيو ټولنو کې د توليد مناسبات ..................................... ۱۷

طبيعي يا جنسي اقتصاد.......................................... ١٩
اشتراکي ټولنې د له منځه تلو په لور .......................................... ٢٠
د اشتراکي ژوند له منځه تلل.......................................... ٢١
مرئيتوب ( غلامي ) .......................................... ٢٢
په مرئيتوب (غلامي) نظام کې مؤلده ځواکونه.......................................... ٢٢
په مرئيتوب (غلامي نظام) کې د توليد مناسبات.......................................... ٢٤
د مرئيتوب او مرئيتوب نظام تضادونه او سقوط .......................................... ٢٦
فيوډالي نظام.......................................... ٢٨
په فيوډالي نظام کې مؤلده ځواکونه .......................................... ٢٩
په فيوډالي ټولنه کي د توليد مناسبات.......................................... ٢٩
په فيوډاليزم کې د توليد اساس.......................................... ٣٢
ټولګي ( اصناف ).......................................... ٣٣
د توليدي ځواکونو وده.......................................... ٣٤
د سرمايه دارۍ (پانګوالۍ) توليد پيدايښت .......................................... ٣٥
په ايران کې د بزګرانو پاڅونونه .......................................... ٣٧
په نورو هېوادونو کې د بزګرانو پاڅونونه .......................................... ٣٩
د توکو (څيزونو) توليد .......................................... ٤١

د توکو ساده او پانگوالي تولید ........................................................ ٤٥
د مصرف ارزښت ................................................................................ ٤٦
لازم او زیات کار ................................................................................. ٥٣
ساده او پیچلی (مرکب) کار ................................................................. ٥٤
مجرد او مشخص کار ........................................................................... ٥٥
مجسم او مجرد کار ............................................................................. ٥٦
د مبادلې او د ارزښت د ډولونو وده ................................................. ٥٨
د ارزښت او بیې (قیمت) ترمنځ توپیر ............................................... ٦٠
د توکو د تولید تضادونه ...................................................................... ٦٣
د توکو فیتیشیزم (پیروي) .................................................................. ٦٤
پیسې څنگه را منځته شوې؟ ............................................................. ٦٦
د پیسو گټې ........................................................................................ ٦٩
د ارزښت قانون .................................................................................. ٧٤

**دریم څپرکی**

پانگه او اضافي ارزښت ..................................................................... ٧٦
د پانگې ابتدایي راټولونه .................................................................... ٧٦
په پانگې د پیسو بدلول ..................................................................... ٧٨

د اضافي ارزښت تولید ............................................ ۸۱
ثابته او متغیره پانګه ............................................ ۸٤
د اضافي ارزښت بیه (قیمت)............................................ ۸۵
مطلق او نسبي اضافي ارزښت............................................ ۸۵
په صنعت کې د پانګوالۍ وده ............................................ ۸۷
د ماشیني تولید او لوی صنعت پړاو ............................................ ۸۸
کاري مزد (اجوره) ............................................ ۸۹
د مزد مختلف ډولونه............................................ ۹۱
اسمي او واقعي مزد ............................................ ۹۳

## څلورم څپرکی

بیا ځلي تولید............................................ ۹٦
د ساده پانګوالۍ بیا ځلي تولید ............................................ ۹۷
پراخ بیا ځلي تولید ............................................ ۹۸
د پانګې ارګانیکي جوړښت ............................................ ۹۹
د پانګې ټولونې عام قانون............................................ ۱۰۱
ملي ګټې یانې څه؟ ............................................ ۱۰۱

## پنځم څپرکی

د استثمارروونکو ترمنځ د اضافي ارزښت ویش د پانګې دایروي دوران.۱۰۳
د پانګوالو لپاره د تولید لګښتونه.......................................................۱۰۴
د ګټې (سود) بیه...............................................................................۱۰۵
د تولید بیه یانې څه؟.........................................................................۱۰۷
د تنزل په لور د ګټې د بیي تمایل........................................................۱۰۷
سوداګریزه پانګه او ګټه (سود)...........................................................۱۰۹
کورنۍ سوداګري..............................................................................۱۱۱
بهرنۍ سوداګري...............................................................................۱۱۱
استقراضي پانګه...............................................................................۱۱۲
بانکونه............................................................................................۱۱۳
بانکي ګټې ( سود)............................................................................۱۱٤
ونډه ایز (سهامي) شرکتونه.................................................................۱۱۵
په پانګوالي نظام کې د مالکانو ګټه.......................................................۱۱۷
پانګواله اجاره....................................................................................۱۱۷
تفضیلي اجاره ( د غوره ځمکې اجاره)...................................................۱۱۸
مطلقه (ځانګړې ) اجاره.......................................................................۱۱۹

## شپږم څپرکی

د پانگوالۍ کړکیچونه (بحران)........................................................ ۱۲۰
د پانگوالۍ دورې او پړاوونه ........................................................ ۱۲۱
د بزگرۍ کړکیچونه ( بحران) ........................................................ ۱۲۳

## اووم څپرکی

امپریالیزم........................................................ ۱۲٤
مالي پانگه ........................................................ ۱۲۷
مالي الیگارشي........................................................ ۱۲۹
د پانگې صدور (انتشار) ........................................................ ۱۳۰
د امپریالیستي هېوادونو ترمنځ د پانگې ویش ........................................................ ۱۳۱

# لومړی څپرکی

## انسانان یو بل ته اړتیا لري

یوه ورځ یو اسـتاکار یوه نېزه جوړه کړه، تر څو چې انسـان يې په وسیله وکولی شـي په آسـانی سـره ښـکار وکړي. استاکار فکر وکړ څنګه به وي، چې دی د خپلې نیزې په وسیله نن په خپله ښکار وکړي؟

اسـتاکار کېناست او فکر يې وکړ بیا يې فکر وکړ، او د دریم ځل لپاره يې فکر وکړ، تر هغې چې د ښــکار په کولو کې په خپلې ناتوانۍ باندې پوه شــو او بیا يې لـه ځـان ســره وویـل: اخ څومره بېځـایـه، نن مې خپـل وخـت پـه بیځایه کوښښونو تېر کړ، اخر زه یو صنعتکار او کار مې د نیزې جوړول دي. ښکار د ښکاري کار دی، یوازې ښکاري دی چې د ښکار کولو په ټولو هنرونو باندې پوهېږي، صنعتکار ښکار نه کوي، خو د ښکار لپاره ښه او په زړه پورې وسایل جوړولی شي.

هماغه ورځ چې استاکار ځنګل ته د ښکار لپاره تللی وو، نو ښکاري د ښکار د وســایلو پیرلو لپاره د اســتاکار د کار ځای ته راغلی وو، خو روښــانه ده چې هغه صنعت کار پیدا نه کړ، نو پریکړه يې وکړه چې په خپله د نیزې په جوړولو پیـل وکړي، خو د ده کوښــښــونه هم بېځایه وه. ځکه د زیات وخت تېرولو وروســته يې داســې یو څه جوړ کړ چې یوازې شــکل يې نیزې ته ورته وو او بس، په آسـانی وربانديې ښـکار نه کېده. وروسـته يې له ځان سره وویل: زه یو

ښکاري یم. نیزه جوړول د استاکار کار دی، استاکار په آسانی سره کولی شي د ښکار وسایل جوړ کړي او زه هم کولی شم پرې ښکار وکړم. ښکاري او استاکار یو بل ته اړتیا لري او نشي کولی چې یو له بل سره اړیکې پرې کړي، استاکار له دې پلوه ښکاري ته اړتیا لري چې خپلې نیزې وربانديې خرڅې کړي، او ښکاري هم ورته له دې کبله اړتیا لري چې د ښکار لپاره ورته وسایل جوړ کړي نو په همدې سره دواړه خپل ژوند ته دوام ورکوي.

## تولید څه ته وایي؟

انسانان د خپل ژوند دوام لپاره مجبور دي داړتیا وړ وسایل تولید کړي، خو څه ډول؟ ایا کولی شو د خپلې اړتیا وړ ټول شیان په یوازیتوب سره تولید کړو؟ مثلاً یوه کارخانه په پام کې ونیسئ، په دې کارخانه کې ټول هغه توکي چې د تولید لپاره لازم وي؛ موجود دي. د تولید له مناسبو توکو څخه نیولې تر خامو موادو او نورو... پورې، خو ایا دا ټول د تولید لپاره بسنه کوي؟ که کارکونکي ټول په یو ځل له کار څخه لاس واخلي؟ دا کارخانه کولی شي له خپلو ټولو وسایلو سره په خپله کار وکړي؟ یا کارکونکي کولی شي د کارخانې له وسایلو پرته تولید وکړي؟ نه، هیڅ شی به په خپله تولید نه شي، داسې نشي کېدای چې انسان دې لاس تر زنې کیني او پرته له دې چې کوم کار تر سره کړي؛ د اړتیا وړ توکي يې جوړ شي د تولید لپاره کار تر ټولو لومړنی شرط دی. دکار سربېره د کار وسایل او موضوع هم اړینه ده، کله چې انسان وغواړي یو ډول ځانګړي توکي تولید کړي په پیل کې تر هرڅه وړاندې پوهېږي چې لومړی

بایـد کـار وکړي خو پـه څـه؟ په کومو شـــیانو باید کار وکړي، ترڅو د خپلې خوښې وړ توکي تولید کړي .

د کار وسـایل، هغو شـیانو ته چې انسـان وربانديې کار کوي او غواړي د خپلې خوښـې په توکو يې بدل کړي؛ د کار موضوع ویل کېږي، مثلاً د جامو ګنډلو لپـاره خیـاط مجبور دی چې پـه ټوکر بـانـدې کار وکړي چې دلته ټوکر د کار موضـوع ده. دلته یوه مسـئله پاتې کیږي، هغه دا چې لا انسـان کولی شـي په تش لاس دهغه کار په وسیله چې دی يې تر سره کوي د کار موضوع د خپلې خوښې په توکو بدله کړي؟

انســان د کار وســایلو ته اړتیا لري، ترڅو وکولی شـــي په وســیله يې د کار په موضــوع کار وکړي او هغه د خپلې خوښـــې په جامو واړوي، نو د تولید لپاره درې شرطونه ضروري دی.

**۱ -کـار** : چې د انســان لـه فعالیت څخه عبارت دی، خو ایا د انســان هر کار فعـالیـت نومېږي؟ مثلا د فوټبـال لوبه هم د انســان له فعالیتونو څخه ده؟ ایا د فوټبال لو به یو کار دی؟ نه، نو کار څه ته وایي؟

کار د انسـان آګاهانه فعالیت دی، د شـطرنج لوبه د انسـان له آګاهانه فعالیتونو څخه ده، ځکه د لوبې دواړه خواوې په آګاهانه توګه دا هڅه کوي چې یو بل مات کړي.

اوس ایا د شـطرنج لوبه کار بلل کیږي؟ نه، دکار بشپړ او سم تعریـف (پیژندنه) په لاندې ډول ده، کار د انســـانانو له هغه آګاهانه اوګټور فعالیت څخه عبارت

دی چې د اړتیاوو د پوره کولو په موخه بیلابیل مواد کاروي. له کار پرته د انسان ژوند دوام نشي کولای.

**۲ - د کار موضوع :** هر هغه څه چې انسان وربانديې کار وکړي او د خپلې خوښې وړ په توکو یې بدل کړي د کار موضوع بلل کیږي، یا هم دکار موضوع کیدای شي، هغه څه وي چې په طبیعت کې په مستقیم ډول موجود دي. لکه ځمکه، او به او داسې نور.. یا هم داسې شیان کیدای شي چې وړاندې پرې کار شوی وي، یانې انسان وربانديې وړاندې کار کړی وي.

کله چې د ډبرو سکاره د فولادو یوې کارخانې ته یوسئ او د ذوب کوونکې لوښې په منځ کې یې واچوئ، ترڅو له هغه څخه فولاد او اوسپنه جوړه کړئ، نو ویلای شو چې د ډبرو سکاره دیو کار موضوع ده او فولاد او اوسپنه یې دکار محصول دي. د فولاد د کارکوونکو لپاره د ډبرو سکاره د کار موضوع ده او اوسپنه او فولاد د کار محصول دی، دیو کان کیندونکي لپاره چې د ډبرو سکاره استخراجوي؛ د ډبرو سکرو کان د کار موضوع ده او د ډبرو سکاره د کار محصول دی.

د ماشین جوړونې کارکونکو لپاره فولاد او اوسپنه دکار موضوع ده او ماشین د کار محصول دی.

د نساجۍ ماشین کارکوونکو لپاره پنبه د کار موضوع ده او تار د کار محصول دی.

داوبدلو د کارخوني کارکونکو لپاره تار د کار موضــوع ده او ټوکر يې د کار محصـول دی. د خياط لپاره ټوکر د کار موضـوع ده او جامې د کار محصـول دي.

څرنګه مو چې وړاندې وويل چې د کار موضــوع کېدای شـــي، هغه څه هم واوســـي چې پـه طبيعت کې پيدا کېږي او له دې وړاندې ورباندې چا کار نه وي کړی، لکه د ډبرو سکاره او داسې نور.... او کېدای شي داسي يو شی هم وي چې انســان ورباندې کار کړی وي او په طبيعت کې په مســتقيم ډول پيدا شــي او انســان يې د را منځته کولو لپاره کوم کار نه وي کړی، لکه اوبه، د ونې لرګي، بيلابيل کانونه، ځمکه او داسې نور او هم کېدای شي داسې يو شي وي چې انسان ورباندې کار کړی وي او د خپلې خوښې وړ په څيز باندې يې بدل کړی وي، لکه تار چې وړاندې وړی يا پنبه وي او وروسته ورباندې کار وشي او په تار باندې تبديل شي، يا هغه ټوکر چې وړاندې تار وي وروسته ورباندې کار وشي او ټوکر ترې جوړ شي. له پورتنيو مطالبو څخه دا پايله اخلو چې هر څه کېدای شـــي په ځينو شـــرايطو کې د کار موضــوع او په ځينو کې د کار محصول وي. مثلاً ټوکر چې د خياط لپاره د کار موضوع ده، خو د کارکوونکو لپاره ټوکر او بدل دکار محصول دی.

### ماده څه ته وايي؟

اومه ماده د هغه کار موضـوع ده چې په مستقيم ډول په طبيعت کې موجود نه وي، لکه ونه، لوبه، ځمکه، کانونه او داســې نور. دا د کار هغه موضــوعګانې دي چې پـه مســقيم ډول پـه طبيعـت کې موجودې دي او د رامنځتـه کولو او

چمتو کولو لپاره يې هيڅ ډول کار نه وي تر سره شوی. له همدې پلوه د اومې مادې له ډلې څخه نه دي، خو د ډېرو سکاره چې يو اندازه کار پرې شوی؛ توږل شوي او دې ته چمتو کړای شوي چې له کان څخه استخراج شي؛ اومه ماده ده. د ماشين جوړونې په کارخانه کې فولاد د کار موضوع او اومه ماده ده، د نساجۍ په کارخانه کې پنبه د کار موضوع او اومه ماده ده او داسې نور...
ايا ځمکه اومه ماده ده؟

**ځواب،** نه ځکه په مستقيم ډول په طبيعت کې موجوده ده او انسان يې د رامنځته کولو لپاره هيڅ ډول کار نه دی تر سره کړی.

آيا ځمکه د کار موضوع کېدای شي؟

ځواب، هو د هغه بزګر لپاره چې ځمکه يوې کوي او بيا پکې تخم شيندي؛ ځمکه هم د کار موضوع کېدای شي.

آيا پنبه اومه ماده ده؟

**ځواب**، هو ځکه پنبه هم مستقيم ډول چمتو کړای شوې او په طبيعت کې موجوده نه ده.

آيا پنبه د کار موضوع ده؟

**ځواب**، هو د اوبدلو په کارخانه کې پنبه دکار موضوع ده له همدې پلوه هره اومه ماده د کار موضوع کېدای شي، خو هره کاري موضوع اومه ماده نشي کېدای، لکه پنبه چې هم اومه ماده ده او هم د کار موضوع ده، په داسي حال کې چې، لکه ځمکه اومه ماده نه ده، خو د کار موضوع کېدای شي.

**۳ – د کار توکي**: د کار توکي له يوې خوا د طبيعي سرچينو شکل او ګټور مواد دي چې په طبيعت کې موجود دي او دغه ګټور مواد لکه کانونه،

اوسـپنه، سرب، د تېلو کانونه، د ډبرو سکاره، او به او داسي نورو څخه عبارت دي، له بله پلوه د هغو توکو ټولګه ده چې انســان يې په وســيله په کاري موضـوعاتو کار کوي. د توکو د ټولګي څخه موخه د توليد اسـباب، ماشـين الات او هغه پرمختللي وسـايل دي چې په وسيله يې کولی شو، ګټورو طبيعي سـرچينو او کانونو ته لاسـرسـی پيداکړو. تر ټولو مهمه دا چې د دې پرمختللو وســايلو له لارې کولای شــو دغه طبيعي ســرچينې په نورو ګټورو بڼو چې صـنعتي وي؛ په لاس راوړو په دې وسـايلو سـره کولی شو، اومه تيل په سپينو تيلو، ګـازو، بنزينو او قير بـاندې بدل کړو او همدارنګه د توليد اســـبابو او پرمختللو وسايلو په وسيله کولای شو نفتي مواد پلاستيکي کڅوړې، لوښي او نورو شيان جوړ کړو.

تردې ځايه مو وليدل چې نه انسان په يوازيتوب سره توليد کولی شي او نه هم د کار وســايل (که څومره پرمختللی هم وي) کولی شــي چي توليد دي وکړي او د انساني ځواک پرته په خپله کوم کار ترسره کړي. په همدې سبب د انسان کاري ځواک د کار وسـايل او د کار موضـوعګانو ته توليدونکی ځواک ويل کيږي.

### د توليد وسايل

د کار موضوع او د کاري وسايلو ټولګي ته د توليد وسايل وايي.

د کار موضوع + د کار وسايل = د توليد وسايل

## مؤلده (تولیدونکي) ځواکونه

تولیـدونکي ځواکونـه د انســانانو د کاري ځواک او وســایلو ټولگه ده چې د تولید سـبب کیږي. د کار موضـوع + د کار وسایل + د انسان کاري ځواک او وړتیا = تولیدونکي ځواکونه

وړاندې مو هم وویل، چې د کار وسـایل، د مادي شـرایطو او د تولیدي اسبابو ټولگه ده. مادي شــرایط هغه طبیعي او گټورې ســرچینې دي چې په طبیعت کې موجود وي، لکه د سرو زرو، سپینو زرو، اوسپنې، د ډبرو سکرو، اومو تېلو کانونه، اوبه، لرگي او داســې نور... پر دې بنســټ ټول پورتني موارد په لاندې ډول بیانولی شو.



## د تولید مناسبات یا اړیکې څه ته وایي؟

انسان په ډله ایزه توگه کار کوي، نو په پایله کې یې تولیدات هم په ټولنیز ډول ترسره کېږي، کله چې انسانان کار کوي او دکار په وسیله په تولید لاس پورې کوي؛ ترمنځ یې اړیکې ټینگیږي. دغه اړیکې له مبادلې، ویش او د توکو له مصرف څخه عبارت دي.

دې ډول اړیکو ته د تولید اړیکي یا مناسبات وایي چې د تولید د ویش او مصرفولو په بهیر کې د انسانانو ترمنځ پیدا کېږي. پر دې سربېره د تولیدي اړیکو یا مناسباتو څخه موخه دا ده، چې د تولید وسایل د ټولنې د کومې طبقې په لاس کې دي، آیا د داسې افرادو په لاس کې دي چې د نورو استثمارونکي دي او له گټو څخه د نورو طبقاتو د بې برخې کولو لپاره یې کاروي؟

او یا، آیا د داسې ټولنې په لاس کې دي او له هغو څخه خلکو د اړتیاوو پوره کولو گټه اخلي؟ که چېرې وسایل د استثمارونکې طبقې په لاس کې وي، نو په دې سره د استثمارونکې او استثماریدونکې طبقې ترمنځ یو ډول اړیکې رامنځته کېږي، چې د تولیدي اړیکو یو بیلگه یې گڼلی شو، مثلاً د کارگر او سرمایه دارې طبقې ترمنځ اړیکې.

### تولیدي اړیکې په دوو برخو ویشل کېږي:

**۱ - د همکارۍ اړیکې**، په سوسیالیستي هېوادونو کې چې خصوصي ملکیت خپل ځای عمومي ملکیت ته پرېږدي او تولیدي وسایل د ټولو خلکو په واک

وي؛ د انسان له لوري د انسان استثمار له منځه ځي. په سوسیالیستي هېوادونو کې خلک د ځان او ټولنې لپاره کار کوي او ټول یو له بل سره مرسته کوي.

**۲ـ جعلي اړیکې**، د فیوډالیزم، مرئیتوب او پانګوالۍ په طبقاتي نظامونو کي چې د تولید وسایل د لږو وګړو په لاس کې وي او له هغو وسایلو څخه د نورو طبقو د استثمار او خپلو ګټو لپاره کار اخلي. په طبقاتي نظامونو کې استثماریدونکې طبقه مجبوره ده چې د تولید وسایلو د خاوندانو تر لاس لاندې کار وکړي او د هغوی تابع واوسي.

## د مؤلده ځواکونو او د تولید د وسایلو ترمنځ اړیکې

مؤلده ځواکونه څه ته وایي؟

وړاندې مو وویل چې مؤلده ځواکونه د انسان د کاري وړتیا، ځواک او تولیدي وسایلو (د کار وسایل او د کار موضوع ) مجموعه ده. ښه په دې پوهېږو چې د وخت په تېریدو سره په کار کې د انسان وړتیا او تجربه زیاتیږي، همدا ډول د تولید وسایل هم وده کوي او پراختیا مومي، خو تولیدي اړیکې (مناسبات) د توکو د مبادلې، تولید، ویش او مصرفولو له څرنګوالي او د اسبابو د مالکیت له څرنګوالي څخه عبارت دي.

یانې دا چې د تولید وسایل د کومې طبقې په لاس کې دي، ایا د داسې افرادو په لاس کې دي چې د نورو د استثمار لپاره یې کاروي؟ یا، ایا د داسې افرادو په لاس کې دي چې د ټولني او خلکو د اړتیاوو پوره کولو لپاره یې کاروي؟

د تولید اړیکي تر یوې مشخصې کچې پورې مؤلده ځواکونو ته اجازه ورکوي، تر څو وده وکړي، خو همدا چې هغه طبقه چې د تولید وسایل یې په لاس کې دي؛ د مؤلده ځواکونو وده د ځان لپاره گواښونکي بولي، کوښښ کوي چې د مؤلده ځواکونو د ودي مخه ونیسي. هغه طبقه چې تولیدي وسایل یې په لاس کې وي؛ د تولید د پخوانیو اړیکو په ساتنه کې د خپل ژوند دوامویني، خو مؤلده ځواکونه په خپل ډول خپلې ودې ته دوام ورکوي، تر څو د پخوانیو اړیکو ځای نوي اړیکې ونیسي، په همدې ترتیب د ټولنې په نظامونو کې هر نظام تر هغه وخته دوام مومي او خپل عمر ته دوام ورکوي، تر څو پوري چې په هغه نظام کې مؤلده ځواکونه د تولیدي وسایلو د مناسباتو سره همغږي وي، له همدې کبله که چېرې د تولید اړیکې د مؤلده ځواکونو چې تل د ودې په حال کې وي؛ د ودې مخنیوی وکړي، نو له دې سره یې اړیکې ناهمغږې کېږي او ژر تر ژره نوې تولیدي اړیکې چې له مؤلده ځواکونو سره همغږې وي؛ د پخوانیو تولیدي اړیکو ځای نیسي او په همدې سره د تولید ډول بدلون مومي. هغه څه چې په لاندې ډول یې لولی؛ کېدای شي علمي نه وي، خو د پورتنیو خبرو په روښانولو کې مرسته کوي.

یو ماشوم په پام کې ونیسئ، دغه ماشوم د وخت په تېرېدو سره وده کوي او لویېږي. د ماشوم جامې هم په پام کې ونیسئ، ټول پوهېږو چې جامې په هیڅ ډول وده نکوي او نه هم لویېږي او فرض کړئ چې ماشوم مؤلده ځواک او د هغه جامې د تولید اړیکي (مناسبات) واوسي، کله چې ماشوم جامې اغوندي، نو دغه جامې به تر یو وخته د هغه لپاره مناسبې او برابرې وي، یانې جامې په

یوځل اغوستلو سره نه تنګیږي، خو ماشوم ورځ په ورځ وده کوي او غټیږي، په داسي حال کې چې جامې یې چې په کومه اندازه جوړې شوي؛ په هماغه اندازه پاتې کیږي او په پایله کې هغه وخت رارسیږي چې جامې د ماشوم پر بدن کوچنی شي. په داسې یو حال کې که د دغو زړو جامو ځای چې د ماشوم لپاره نورې مناسبې نه دي نوې جامې وانه خلي؛نو د وخت په تېرېدو سره ماشوم نوره هم وده کوي او جامې یې په تدریجي ډول څیریږي.

د ماشوم او جامو اړیکه د مؤلده ځواکونو او تولیدي وسایلو ترمنځ د اړیکې سره ورته والی لري. دلته د مطلب د لا روښانتیا لپاره لاندینی پرتلنه د ماشوم او جامو او مؤلده ځواکونو او د تولید وسایلو له اړیکو څخه په لاس راوړو.

ماشوم دوخت په تېرېدو سره وده کوي؛ کټ مټ همداسي مولده ځواکونه هم د وخت په تیرېدو سره وده کوي او غټیږي. جامې دیوې ټاکلې مودې لپاره د ماشوم لپاره مناسبې او برابرې وي، جامې د ماشوم د تولید اړیکې تر یوې مشخصې کچې پورې مؤلده ځواکونو ته د ودې اجازه ورکوي. څکه ماشوم د وخت په تېرېدو سره وده کوي، له همدې سره یې په  پایله کې په بدن کې تنګیږي او له ګټې اخیستنې څخه وځي. مولده ځواکونه دوخت په تیریدو سره پراختیا مومي، چې په پایله کې د تولیدي وسایلو له اړیکو سره ناهمغږې کیږي او د ودې مخنیوی یې کوي. د ماشوم په ډېري ودي سره زړې جامې په تدریجي ډول له منځه ځي او ماشوم ته باید یو ډول مناسبې جامې واغوستل شي. د مؤلده ځواکونو په ډېرې ودې سره پخوانۍ تولیدي اړیکې په تدریجي

ډول له منځه ځي او د تولید نوې اړیکې چې د مؤلده ځواکونو لپاره مناسبې دي؛ د زړو اړیکو ځای نیسي.

## ویش څه ته وايي؟

وړاندې مو وویل انسانان د دې لپاره چې خپل ژوند ته دوام ورکړي؛ باید تولید وکړي ویش یانې په خلکو باندې د تولید شویو توکو ویش، خو د دغو جامو ویشل د تولید له هغو وسایلو سره تړلی چې د جامو له ویشلو وړاندې ترسره شوی وي؛ مثلاً په سرمایه داري ټولنو کې تولید شوي وسایل په غیر عادلانه توګه وېشل کېږي او یوازې د لږو شمېر وګړو په لاس کې وي، چې د سرمایه داري طبقې په نوم یادېږي، او دا په داسې حال کې ده چې ګڼ شمېر وګړي تولیدي وسیلې نه لري. په دې ترتیب دا چې تولید شوي وسایل په غیر عادلانه توګه وېشل کېږي، نو تولید شوي محصولات هم په عادلانه توګه نشي ویشل کېدلای، ځکه د توکو ویشل په بشپړه توګه د مخکینیو تولید شویو وسایلو له ویش سره تړاو لري. کله چې وسایل او پرې مالکیت خصوصي وي؛،نو کېدای شي چې ویش هم نابرابره بڼه غوره کړي.

یوه کارخانه چې بینز موټرونه جوړوي په پام کې ونیسئ، ټول پوهېږو هغه کارکونکي چې په خپل کار سره موټر جوړوي؛ هېڅکله تر دې چې په خوب کې هم دا فکر نشي کولی چې د ده په لاس جوړ شوی موټر د ده دی. کله چې تولید شوي وسایل په غیر عادلانه توګه ویشل شوي وي، نو غوره کالي، خواړه او د لوبو وسایل به ټول د هغه چا په برخه وي چې وړاندې یې وسایل د ځان

په ګټه ویشلي دي او په پایله کې به ټول بې کیفیته او ارزانه توکي د هغو په برخه شي، چې هیڅ ډول تولیدي وسیله نه لري، دغه ډول افراد د ژوند له هر ډول آسانتیاوو څخه بې برخې دي او په ډېرو ستونزو سره کولای شي، خپله ګېډه مړه کړي، خو که تولید شوي وسایل وړاندې په عادلانه توګه ویشل شوي وای؛ یانې مالکیت یې ډله ایز وای، نو هغه وخت د ټولنې ټولو افرادو کولای شوای، له تولید شویو محصولاتو څخه یو ډول او مساوي ګټه پورته کړي.

## لګښت څه ته وایي؟

هر ډول توکي چې تولیدیږي د خلکو یوه اړتیا په یو ډول پوره کوي که دا توکي جامې، خواړه، پوښاک او بل هر شی وي، چې په مستقیم ډول په مصرف رسیږي او یا د تولیدي ماشینونو په شکل وي، چې د تولید په برخه کې ترې ګټه اخیستل کیږي؛ په همدې سره ټول هغه توکي چې تولیدیږي په دوه برخو وېشل کیږي.

ا. هغه توکي چې په مستقیم ډول لګول کیږي یا مصرفیږي، لکه ډوډی، بوټان، جامې اوداسې نور.....

۲. هغه توکي چې د تولید وسایل دي او د مصرف په برخه کې لګول کیږي.

کېدای شي ځینې محصولات هم په مستقیم ډول ولګول شي او هم کېدای شي د تولید په برخه کې ترې ګټه واخیستل شي، لکه سکاره چې کولی شو، په ژمي کې د کوټې تودولو لپاره ترې ګټه پورته کړو او هم کولی شو په وسیله یې د کارخوني ماشینونه په کار راولو. هماغه ډول چې ویش د تولیدي وسایلو په

وړاندیني ویش پورې تړلی؛ نو مصرف یې هم په دې پورې اړه لري چې د تولیدي وسایلو مالکیت خصوصي وي، یا عمومي. مثلاً په هغو ټولنو کې چې تولیدي وسایل د کمو افرادو په واک وي، نو دا به یو غیر عادلانه ویش وي، ځکه همدا کم مصرفوونکي افراد په هماغه اندازه چې پیسې لري؛ کولای شي خپل داړتیا وړ توکي وپېري او مصرف یې کړي.

اوس ټولو مطالبو ته په کتو سره چې وړاندې مو ولوستل کولی شو د سیاسي اقتصاد تعریف په لاندې ډول وکړو:

## سیاسي اقتصاد څه ته وايي؟

سیاسي اقتصاد هغه علم دی چې په هر ټولنیز او اقتصادي نظام کې په تولید، مبادلې، ویش او هغه مادي وسایلو باندې چې د ژوند د دوام لپاره ضروري دي؛ حاکم قوانین څرګندوي. سیاسي اقتصاد دا هم څرګندوي چې تولیدي اړیکې د مؤلده ځواکونو د ودې مخنیوی څه ډول کوي، څه ډول یو له بل سره ناهمغږي کېږي او د همدې ناهمغږۍ په پایله کې د تولید نوې بڼه څرنګه د زړې هغې ځای نیسي.

# دويم څپرکی

## تر پانګوالی وړاندې د توليد طريقې په لومړنيو اشتراکي ټولنوکې مؤلده ځواکونه

لومړني انسانان ډېر کمزوري او ناتوانه ول او لومړني شيان چې دوی ترې ګټه پورته کول؛ هغه کاڼي او لرګي وه. د همدې وسايلو په وسيله انسان کولی شول په آسانی سره خپل کار وکړي، د اوږدې مودې لپاره انسان د خوراکي توکو را ټولولو او د کوچنيو حيواناتو په ښکار سره خپل ژوند تېراوه، په دې موده کې انسان تل د خواړو د کمښت څخه رنځېده او په پايله کې د خواړو همدې کموالي له کبله د بل انسان غوښې خوړني (آدم خوری) ته اړ شو او انسان خوړنه يې کول. زرګونه کاله تېر شول تر څو انسان په دې وتوانيد چې د ساده کاري وسايلو په جوړولو لاس پورې کړي او وې کولی شول هغه د ټکولو، پرې کولو، ريښې ايستلو او نورو ساده کارونو لپاره وکاروي. د داسي وسايلو په جوړولو کې هغوی له چخماق (هغه کاڼی چې پخوا پرې انسانانو اور بلوو) کاڼو څخه تر ډېره ګټه واخيستل، هغوی به د دې کاڼو په وسيله نور ځانګړي کاڼي توږل او له همدې لارې به يې چړې او نورې وسلې جوړولې، د وخت په تېرېدو سره تجربې پرمختګ وکړ او تخنيکونو پراختيا ومونده، لومړنيو انسانانو په مختلفو ځايونو کې له مختلفو لارو د مختلفو کوچنيو او نازکو شيانو په جوړولو پيل وکړ. د اور کشف انسان له حيوان څخه جلا کړ، انسان وکولی شول، د اور په کشفولو سره د طبيعت په يو ځواک باندې حاکم شي، په سړه هوا کې به انسان په اور باندې ځان توداوه او هم به يې له حيواناتو څخه پرې

ځان ساته او انسانانو ته يې دا امکانات ورکول چې غوښه او نورو خواړه پرې کباب کړي. دغه راز له انسانانو سره يې مرسته وکړه چې له فلز څخه وسايل جوړ کړي، لومړی يې له مسو بيا له اوسپنې څخه ګټه پورته کړه، په همدې ترتيب له هغې دورې وروسته چې انسان به هډوکی او لرګي کارول؛ بيا مس شول او په پايله کې د اوسپنې وخت راورسېد. انسان د لرګيو او فلزاتو څخه په ګټې اخيستې سره بېل، کلنګ، چاقو او نور وسايل جوړ کړل، البته وړاندې له دې چې انسان وکولای شي له فلزاتو څخه ګټه پورته کړي، يانې هماغه د لرګي او هډوکي دورې غشی يې اختراع کړ چې لويه لاسته راوړنه وه، ځکه د دې وسيلې په اختراع سره د ژوند لومړنی اړتياوې د ښکار له لارې په غوره ډول پوره شوې. په لومړني شکل د ښکار په را منځته کېدو سره مالداري هم د دې سبب شول، تر څو حيوانات اهلي شي. لومړنی حيوان چې انسان وتوانيد اهلي يې کړي؛ هغه سپی وو، بيا وروسته پسه، غوا او خنزير هم اهلي شول. څرنګه چې د حيواناتو پالنه هم د ښکار ابتدايي حالت له کبله وشول، نو بزګری هم د بېلا بېلو ميوو او خوراکي نباتاتو په را ټولوني سره چې په وحشي ډول يې وده کوله؛ رامنځته شول.

## په لومړنيو ټولنو کې د توليد مناسبات

په دې دوره کې انسانان مجبور وه، چې په اشتراکي ډول ژوند وکړي، مثلاً يو وحشي حيوان به يې په ډله ائيزه توګه له منځه وړه، د ميوې ټولولو لپاره به يو ځايي ځنګل ته تلل، دلته بيا مجبور وه ترڅو په ډله ايزه توګه دغه کار تر سره کړي. هغوی هر کار په اشتراکي يا ډله ايزه شکل ترسره کاوه، په پايله کې به

یې چې هر څه ترلاسه کول هم به یې په خپل منځ کې به یې په مساویانه توګه ویشل؛ په دې دوره کې استثمار نشو موجودیدلای؛ یو د اشتراکي کار له پلوه، بل دا چې د تولید مهمو و سایلو شتون نه درلود.

همدا ډول خلکو به په ډله ایزه توګه کار، تولید او ښکار کاوه او ټولو به په یو شي کي برابره  برخه درلوده، یانې خصوصي مالکیت بې مانا وو، حالت داسې وو چې که چا له خپلې برخې څخه ډېر څه اخیستل؛ نو بل شخص به وږی پاتې کېده.

اویا زره کاله مخکې پرته له دې چې د نیزې د اختراع یو څو کلونه تیر شوي وه؛ لږ لږ کارونه د ښځینه توب یا نروالي په اساس وویشل شول، نارینه به د حیواناتو په ښکار او پوستکو په جوړولو پسې تلل او ښځې به په زیږون، د کبانو په ښکار او ماشومانو په ساتنو بوختې وې، تر دې چې ماشومانو او سپین ږیرو به هم له خپلې انرژۍ سره سم کارونه ترسره کول. په ښکار کې د نارینه و تخصص او د کور په کارونو او خوراکي توکو په راټولولو کې د ښځو تخصص د محصولاتو او کارونو د زیاتوالي سبب شول.

په ابتدایي وسلو سره ښکار کول د نارینه و کار وو، خو په دې سره نشو کېدای چې د هغوی ژوند تامین شي. همدا وو چې بزګرۍ او مالدارۍ ډېر ارزښت پیدا کړ، د دې لپاره چې بزګري او مالداري د انسان د اړتیاوو د پوره کولو ډاډمنې سرچینې واوسي؛ تر هغه مهاله چې بزګري او مالداري په خپل ساده او ابتدایی ډول وه، نو کرکیله او مالداري به د ښځینه وو لخوا تر سره کېدل، ځکه هغوی په کور کې پاتې کېدلې او نارینه به ښکار ته تلل.

په هغه وخت کې د ښځې او نر تر منځ واده کول د اوس په څېر نه وو، بلکې په ډله ایزه توګه وو او ماشوم به یوازې خپله مور پېژندل، په داسې حال کې چې ماشوم په هیڅ نه پوهیده چې پلار یې څوک دی، له همدې کبله ماشومانو خپلوي او نومونه به د مورنې نیکونو له پلوه ټاکل کېدل. سربېره پر دې موضوع د بزګرۍ او مالدارۍ کارونه به هم د ښځو له لوري تر سره کېدل او همدا د دې لامل شول چې ښځه د رهبرۍ رول ولري. دغه دوره چې تر یوې کچې اوږده هم وه، نو د موروواکۍ په نوم یادېده، خو وروسته چې بزګرۍ غوره بڼه خپله کړه او مالدارۍ هم پرمختګ وکړ، نو په همدې سره کرکیله او د مالونو د روزنې کارونه د نارینه و په غاړه شول. په دې ترتیب پلار واکۍ د موروواکۍ ځای ونیو.

## طبیعي یا جنسي اقتصاد

په لومړنیو اشتراکي ټولنو کې د اقتصاد بنسټ طبیعي اقتصاد وو، یانې انسانانو د خپلو شخصي لګښتونو لپاره تولید کاوه، طبیعي اقتصاد یانې د شخصي لګښت لپاره تولید. په دې ټولنه کې به داسې هم کېدل چې یوې قبیلې به د خپلو محصولاتو یوه برخه له بلې قبیلې سره مبادله یا تبادله کوله، مثلاً یوې بزګري قبیلې به چې کله وغوښتل؛ د خپلو غنمو یوه برخه چې د هغې قبیلې تولو غړو له خوا په اشتراکي توګه تولید شوي؛ له بلې قبیلې سره د غواګانو او پسونو د وړیو په مقابل کې تبادله کول. البته دغې تبادلې تصادفي بڼه لرله او په تصادفي توګه ترسره کېدل، خو هغه څه چې مهم دي، هغه دا دي چې په هغې ټولنې کې انسان د پلورلو لپاره تولید نه کاوه.

## اشتراکي ټولنې د له منځه تلو په لور

د بزګرۍ او مالدارۍ تکامل اوه یا اته زره کاله وړاندې د غوا، پسه او خنزیر په اهلي کولو سره وشو او د دې لامل شول چې بزګري له مالدارۍ څخه جلا شي، په لومړیو کې د بزګرۍ او مالدارۍ دکمزورتیا له کبله چې د حیواناتو له ښکار او غوښو ذېرمه کول وه؛ د هرې قبیلې افرادو کولی شول چې هم بزګر اوسي او هم مالدار، خو د دواړو تکامل د بزګرۍ او مالدارۍ د پېچلتیا او جلا والي سبب شوه، البته د دې جلا والي یو بل لامل دا وو، چې مالدار تر ډېره د حیواناتو د خرڅلاو و ځایونو ته اړتیا درلوده. دې جلا والي د ټولنې په منځ کې د کار لومړنی ویش را منځته کړ. د کار په دې ویش کې مالدار قبایل له بزګرو قبایلو څخه جلا شول. بزګري قبایلو د بزګرۍ د پرمختګ په لار کې او مالدارو قبایلو د ښکار په لاره کې هڅې او کوښښونه کول، له بزګري قبایلو څخه د مالدارو قبایلو په جلا کېدو سره دواړو قبیلو خپلو اړتیاوو ته په کتو، نه یوازې خپلمنځي اړیکې پرې نه کړې، بلکې یو بل سره به یې خپلې تجربې او نوښتونه هم شریکول.

د انسان ژوند د تولیدي وسایلو د نور تکامل او مبادلاتو له پراختیا سره نور هم آسانه شو، خو د تولیدي وسایلو تکامل د دې سبب شو چې انسان وکولی شوای، د اړتیا په نسبت هم زیات تولید ترسره کړي. په همدې سره به یو محصول زیات پاتې کېږي، چې بل شخص یې تصرف کړي. د فلزاتو د ذوب لپاره یو متخصص ته اړتیا وه، ترڅنګ یې متخصص هم داسې یو ځای ته اړتیا درلوده چې وکولای شي په هغه کې له خپل تخصص څخه کار واخلي. مثلاً

فلزکار مجبور وو چې د ځان لپاره فلزي کوزه جوړه کړي. په همدې ترتیب کسب او پېشه را منځته شوه. په لومړیو کې بزګر کولی شول، د ځان لپاره د بزګرۍ ساده سامان جوړ او پرې کار وکړي، خو د مؤلده ځواکونو په تکامل سره ټولني د بزګرۍ اسبابو د جوړولو لپاره متخصص ته شدیده اړتیا پیداکړه. په داسې حال کې چې بزګر نور نشو کولی چې هم د اسبابو جوړونکي شي، یانې هم کسبګر شي او هم بزګري وکړي. په پایله کې دکار دویم ټولنیز ویش را منځته شو چې د کار په دې ویش کي کسبکر له بزګر څخه جلا شو، دغه کار په تولیداتو او مبادلو کي زیاتوني درلودې او د دې سره - سره یې استثمار او خصوصي مالکیت ته هم لاره هواره کړه.

## د اشتراکي ژوند له منځه تلل

. کله چې څلویښت زره کاله وړاندې انسانانو په کورني ډول خپل ژوند ته دوام ورکاوه؛ کله کله به داسې هم پېښېدله چې یوې قبیلې به د ښو اوبو او ځمکې تر لاسه کولو لپاره په بلې قبیلې برید کاوه او په پایله کې به بریالۍ شوې قبیلي ټول اسیران وژل، ځکه د تولید وسایل کمزوري وه او هر چا به په زور سره هم کولی شول چې خپله ګېډه مړه کړي، نو له دې کبله د برمته کسانو ژوندي پاتي کېدل به د بریالي قبیلې لپاره د سر درد وو.

وروسته له دې چې بزګرۍ او مالدارۍ تکامل وکړ او انسان داور په کشف سره د فلزاتو ذوب ته لاسرسی پیدا کړ او په ډله ائیز ډول تولیدي وسایلو وده وکړه او دا وده د دې سبب شوه چې هر څوک کولی شي، له خپلې اړتیا زیات تولید

وکړي؛ نو هغه قبیلې چې په جگړه کې بریالي کېدلې؛ اسیران به یې نه وژل، بلکې په هغوی به یې کار کاوه  او په پایله کې اشتراکي ټولنې سره وویشل شوې.

## مرئیتوب ( غلامي )

په دې نظام کې د لومړي ځل لپاره ټولنه په برخو وویشل شوه. د بادارانو او مرئیانو طبقې یاني استثمارونکې او استثماریدونکې طبقې.

په غلامي نظام کې استثمار له ډېر چټک تاوتریخوالي سره مل وو، له هغه ځایه چې د مرئیانو خاوندانو نشو کولی، له یو دایمي او منظم سازمان پرته خپل مرئیان د ډېر وخت لپاره په بند کې وساتي؛ نو یو سازمان یې جوړ کړ چې په لږ او تدریجي ډول د دولت په بڼه بدل شو. د دولت مهمه دنده په مرئیانو باندې زور اچول او د پاڅون کوونکو غلامانو ځپل او ټکول وو.

د دولت بله دنده د خپلې خاورې پراخوالی او د نورو قبیلو حق تر پښو لاندې کول او هغوی غلامان گرځول وه.

## په مرئیتوب (غلامي) نظام کې مؤلده ځواکونه

په مرئیتوب کې مؤلده ځواکونو په زړه پورې وده وکړه. د بیلگې په توگه اوسپنې او د لاسي صنایعو وسایل سم جوړ او بشپړ شول. راکړې ورکړې پراخه بڼه خپله کړه. په لومړیو کې خلکو په راکړه ورکړه کې له اوسپنې او مسو څخه گټه اخیستله، یانې دا چې مس او اوسپنه یې د پیسو په ځای کارول، خو وروسته

سرو او سپینو زرو د مسو او اوسپنې ځای ونیو او خلګو ترې په راکړه ورکړه کې ګټه اخیستل پیل کړه. د دې تبادلو تکامل تر هغه ځایه ورسید چې د دې شیانو پرځای د اسعارو سکې را منځته شوې او له دې سره فلزي شیان له منځه یوړل شول او په راکړه ورکړه کې هم ترې ګټه نه اخیستل کېدل. د محصولاتو د حجم زیاتوالی او ډولونه له یوې خوا او د پلورونکو او پېرودونکو ترمنځ واټن له بلې خوا د دې سبب شو چې د پلورونکو او پېردونکو ترمنځ یو واسطه را منځته شي، ځکه د پلورونکو او پیرونکو لپاره د دې امکانات نه وه چې هرڅه اسانه د لاسرسي وړ وګرځوي.

مثلاً انځرګل د خپل کښت حاصل په الف ښار کي باید وپلوري او د ده د اړتیا وړ توکي په ب ښار کي موندلی شي، نو سخته وه د دې چاري لپاره باید یو دریم کس منځته راغلی وای. همدا وو چې وسیلې رامنځته شوې او په مستقیم ډول یې محصولات له تولیدونکو پېرل او هغه یې د پلورنکو په واک کې ورکول. دې وسیلو ته چې د توکو په تولید کې یې هیڅ رول نه درلود؛ سوداګر ویل کېدل. د دې وسیلې (سوداګر) را منځته کېدل چې په خپله یې په تولید کې هیڅ رول نه درلود؛ د ټولنیز کار دویش دریم لوی سبب شو. دلته یې باید یادونه وکړو چې په مرئیتوب ټولنو کې تولید د پلورلو (راکړې ورکړې) لپاره هم موجود وو خو غالب نه وو، یانې په مرئیتابه نظام کې انسانانو په عمده ډول د خپل شخصي لګښت لپاره تولید کاوه او په همدې ترتیب هغه څه چې حاکم وو؛ طبیعي اقتصاد ( د شخصي لګښت لپاره تولید) وو خو د طبیعي اقتصاد د حاکمیت تر څنګ د پلورلو لپاره هم په ډېره کمزورې توګه تولید موجود وو.

## په مرئیتوب (غلامي نظام) کې د تولید مناسبات

سربېره پر دې چې د مرئیانو خاوندان د تولیدي وسایلو خاوندان وه، نو غلامان یې هم خپل مالکیت گڼل او هغوی به یې د پسونو او غواگانو په څېر پېرل او پلورل، تر دې چې هغوی کولی شول چې هر وخت یې زړه وغواړي خپل غلامان ووژني، پرته له دې چې نور مجازات ورته وټاکي. روښانه ده چې دغه وحشي او سخت چلند چې له حیواناتو سره هم نه کېږي؛ کله کله به یې غلامان د تیښتې په فکر کې اچول، د مرئیانو خاوندانو په دې موخه چې د غلامانو د تېښتي مخنیوی وکړي، نو غلامان به یې په ځینو وسایلو سوځول او په بدن به یې ورته نښه کوله، تر څو د تیښتې په وخت کې په آسانی سره بېرته ونیول شي.

د مرئیانو خاوندانو به د غلامانو ټول کارونه او کوښښونه لوټول او د هغوی دکوښښونو ډېر کم حاصلات به یې بیرته ورکول چې د ژوند لپاره یې ورته بسنه نه کوله او په ډېرو کړاوونو سره به یې خپلې گیډې مړولې. لوټونکی استثمار تر هغه ځای ورسید چې غلامان به له جسماني پلوه له منځه لاړل، له همدې کبله به یې عمر هم کم شو او ژوند به یې دلاسه ورکړ.

خو د مرئیانو خاوندانو باید د له منځه تللو غلامانو ځای ډک کړی وای او لاندې لارې یې درلودای..... یوه لار یې دا وه چې غلامانو به کورنی جوړولې، تر څو د مرئیانو خاوندان د هغو په بچیانو د له منځه تللو غلامانو ځای ډک کړي، خو په واقعیت کي د دې امکان نه وو، خو غلامان په دې خواشیونکي حالت کې نشوای کولی چې کورنۍ جوړې کړي او په گڼ شمېر هېوادونو کې غلامانو

کورنۍ نه درلودې. په دې سربېره د مرئیانو خاوندانو نشو کولی چې د غلامانو ماشومان چې د کار کولو توان یې هم نه درلود، وساتي په همدې ترتیب بله لار چې د مرئیانو خاوندانو ته پاتې وه، هغه دا وه چې په جګړې سره خلک اسیران او استثمار کړي.

د مرئیانو خاوندان دولتونه چې ډېر غلامان یې په واک کې وه؛ هغو ته به یې ډېر کارونه ویشل او د غلامانو په ځواک سره به یې پلونه، لارې، لویې ودانۍ او کلك نظامي مرکزونه جوړول.

په یونان او پخواني مصر کې به له غلامانو څخه په ځینو کسبي څانګو کې لکه د اوسپنې، سپینو او سروزرو په استخراج کې ګټه اخیستل کېده. په روم کې غلامۍ په بزګرۍ کې رواج او پراختیا موندله. رومي اعیانو او اشرافو ځانګړې کرنیزې ځمکې درلودې او په لسګونه او زرګونه غلامان به پکې په کار بوخت وه. د غلامانو کارونو د مرئیانو خاوندان له هر ډول بدني او جسماني کار څخه خلاص کړل او سخت کارونه یې د غلامانو په غاړه واچول.

په همدې ترتیب هغوی خپل متصرف ژوند پیل کړ. همداسې چې پانګوالې نړۍ په دوو طبقو؛ سرمایه دارۍ او کارګرۍ باندې ویشل شوې او په دې منځ کې داسې اقشار شته چې نه کارګر دي او نه سرمایه دار، بلکې هغوی ته لږ ازاد یا واړه بوروژوا وایي؛ هغه مهال هم یانې په غلامي نظام کې هم داسې اقشار موجود وو چې نه غلامان وه او نه د مرئیانو خاوندان او دې اقشارو ته به یې آزاد خلګ ویل او دا آزاد خلګ له لویو مالکینو او کسبي بزګرانو څخه عبارت دي. آزاد خلګ په مختلفو بڼو له مدني، سیاسي، قضایي او دخپل مال له حق

لرلو څخه برخمن وه. په داسې حال کې چې دا حقوق له غلامانو څخه اخیستل شوي وو.

البته په عمل کې یوازې د آزادو خلګو یو مالوم قشر کولی شول، چې له یادو شیانو څخه برخمن شي. د مرئیتوب دولتونو به د آزادو خلګو ځیني قشرونه (لوی مالکین، پوهان) په دولتي -علمي او هنري کارونو ګمارل او په دې ترتیب یې د جسمي او فکري کار ترمنځ تضاد را منځته کړ. یانې فکري کار د آزادو خلګو په یو مشخص قشر پورې وتړل شو او جسمي کار په غلامانو، بزګرانو او کسبګرو ته وسپارل شو. ډېر وخت وروسته مرئیانو لرونکو دولتونو د ځمکې مالکیت په خپل لاس کې واخیست، پر بزګرانو یې درنه مالیه بنده کړه او هغوی یې په بیلابیلو وړیا کارونو وګمارل. په دې ډول یې بزګران په شدیدو کارونو لګیا کړل. په داسې ډول چې د دوی حالت هم د غلامانو په څېر شو. هغه بزګران چې به په دې ونه توانېدل چې مالکانو ته خپله ګټه ور وسپاري، نو ناچاره او مجبور وه چې د یو مشخص وخت لپاره په وړیا ډول د مرئیانو خاوندانو یا د ځمکې مالکانو لپاره کار وکړي.

## د مرئیتوب او مرئیتوب نظام تضادونه او سقوط

هیڅ څوک فکر نه کوي، داسې یو څه تر سره کړي چې مرئیتوب نظام له ګواښ سره مخ کړي، خو داسې نښې پیدا شوې وې چې د مرئیانو خاوندانو د له منځه تلو خبرتیا پکې نغښتې وه. غلامانو اصلاً د خپلو کارونو له پایلو سره مینه نه درلوده او د مرئیانو خاوندان مجبور وه، چې د غلامانو د ساتلو او ټکولو لپاره

یوه لویه او پیچلې دستگاه جوړه کړي، چې ورته ستونزمنه تمامېدله او په پایله کې یې تولید هم قیمته کاوه.

مالکانو کار ته د غلامانو د هڅونې لپاره خپل پراخ املاک په کوچنیو برخو ووېشل او دا کوچنۍ کوچنۍ ټوټې ځمکې یې د هغوی په واک کې ورکړې چې په کم محصول سره پکې کرکیله وکړي. نوي بزگرانو له هغې برخې ځمکې سره چې پکې یې کار کاوو؛ سره وتړل شول او مالکانو کولی شول، چې هغوی له ځمکو سره وپلوري. د دې باوجود هغوی نور غلامان نه شمېرل کېدل، بلکې یوه تولیدونکې برخه وه چې کولون نومیدل.

په دې ترتیب د مرئیتوب په گېډه کې د نوي تولید د طرزونو عوامل پیدا شول چې د فیوډالي تولید په مانا یادېږي. د مرئیتوب نظام په اوږدو کې د نورو ټولنو او د مرئیانو خاوندانو ترمنځ شدیده طبقاتي مبارزه موجوده وه.

غلامانو په څو څو ځلي د مرئیانو خاوندانو او لویو مالکینو پر وړاندې پاڅونونه کړي دي او د مرئیانو ترڅنگ بزگران او نور زیار ایستونکي قشرونه هم ولاړ وه چې د ژغورني یوازینی لار یې د مرئیانو خاوندانو په وړاندې مبارزه بلله، که څه هم دغو پاڅونونو نشو کولی چې د انسان استثمار له منځه یوسي، خو د بې رحمانه استثمار په مخ یې وژونکې او کلکه څپېړه ورکړه او په پایله کې د غلامي نظام د سقوط سبب شو.

## فیوډالي نظام

پاچاهانو د خلکو ځمکې د خپلو نږدې خپلوانو دوستانو او قومونو ترمنځ وویشلې او هغوی هم د پاچا د دې بخشش په وړاندې باید د هغه د ځواک د ساتلو لپاره مبارزه کړې وای.

په دې لړ کې روحانیونو (ملایانو) او کشیشانو ته هم ډېره ځمکه ورسېدله، چې بزګرانو به په کې کښت کاوه. په ټوله کې د پاچا خدمتګارانو، شهزاده ګانو، کلیساو مشرانو او د پاچا د باور وړ ټول کسان د ځمکو د سترو برخو خاوندان شوه. هغه څه چې ښکاره دي دغه خلک چې دځمکې خاوندان شوي وو؛ خپله یې نشو کولی د هغو په ځمکو کې کار وکړي، نو په دې اساس یې هغه په وړو ټوټو وویشلې او بزګران یې په کار بوخت کړل. دغه ټوټې چې د نویو مالکینو له خوا په وړو ټوټو ویشل شوې وې؛ د فیوډ په نامه یادیدلې او د دغو ټوټو خاوندان د فیوډالانو په نوم یادیدل. په لومړیو کې بزګران په ځمکو پورې نه وه تړلي، یاني کولی یې شول چې هرکله چې وغواړي د یوې ځمکې نه بلې ځمکې ته یا د ځمکې له یوه خاوند نه بل خاوند ته لاړ شي. د بزګرانو تړاو او درجه له کولونو څخه کمه او همدارنګه د کولونو د تړاو درجه هم له پخوانیو غلامانو څخه کمه وه.

خو وروسته بیا د پخوانیو غلامانو، کولونو او بزګرانو ترمنځ اختلاف له منځه لاړ او ټول په یوه پارچه د ځمکې په بزګرانو و اوښتل، چې هغو ته سرف یا رعیت

ویل کیده، سرف یو محروم انسان و چې د ارباب یا مالک د اوامرو د سرته رسولو نه پرته یې بله چاره نه درلوده.

## په فیوډالي نظام کې مؤلده ځواکونه

د فیوډالیزم په ابتدایي پړاوونو کې له ساده و سایلو لکه بېلچې، کلنگ او اوسپنې څخه گټه اخیستل کېدل، خو په تدریجي ډول بیا له بادي او د اوبو له ژرندو څخه هم د خلکو گټه اخیستنه دود وگرځېدل.

په داسې یو وخت کې سبزي کرنه، د مختلفو مېوو پالنه، په ځانگړې توگه د غوړینو میوو لکه بادام زیتون او داسې نورو ساتنه او پالنه کېدل او غلو دانو د وخت په تېرېدو سره زیاتوالی وموند.

دکار او تصفیې له نویو طریقو سره د اوسپنې څخه گټې اخیستنې هم پرمختگ وکړ او په پراخه توگه ترې گټه واخیستل شوه. راکړې ورکړې په تدریجې ډول پرمختگ وکړ او هغه وسایل چې د گسبگرو له خوا کارول کېده؛ پر مختگ یې کاوه. په ټوله ائیز ډول په فیوډالي نظام کې مؤلده ځواکونه د مرئیتوب د نظام په پرتله په غوره او لوړه کچه کې وه.

## په فیوډالي ټولنه کي د تولید مناسبات

په فیوډالي ټولنه  کي د تولید تر تولو ښه وسیله ځمکه وه چې هغه هم د فیوډال خصوصي مالکیت شمېرل کېده او ټولو فیوډالانو به د دولت په زور او ملاتړ سره له دې خصوصي مالکیت څخه ساتنه کوله.

ښه، که دغه ځمکې په کلونو - کلونو همداسې پرتې وای او چا پکې کار نه کولای، نو د فیوډالانو لپاره یې هم هیڅ ګټه نه لرله او دا روښانه وه چې فیوډالانو هم نشو کولای په دې ځمکو کې کار وکړي او ټولو اصولاً کار کول د ځان لپاره شرم باله. په همدې سره د هغوی ژوند د بزګرانو په استثمار باندې چلېده، فیوډالي نظام به اکثره د بزګرانو په استثمار تکیه کول، فیوډالانو به د ځمکو ډېره لویه برخه د ځان لپاره ساتل او بله برخه به یې په کوچنیو برخو وئشله او د ډېرو استثمارګرانه شرایطو لاندې به یې بزګرانو ته سپارل. بزګر مجبور وو چې د مالک په ځمکه کې کار وکړي، د مالک ځمکه به یې په خپلو وسایلو سره پاکوله او په خپلو حیواناتو سره به یې پکې کار کاوه، د بزګرانو دکار وخت په دوو برخو ویشل شوی وو.

**۱ - د لازم کار وخت :** په دې وخت کې بزګرانو د خپلې کورنۍ او ځان چلولو لپاره په خپلو ځمکو کې کار کاوه، بزګر مجبور وو هغه اندازه اضافي محصولات به یې چې له ځمکې څخه ترلاسه کول؛ فیوډال ته ورکول.

**۲ - د زیات کار وخت :** چې په دې وخت کې بزګر د فیوډال ځمکه د کرنې لپاره برابروي، کري، ریبي او تریشل کوي. کله به چې بزګر د فیوډال په ځمکه کې کار کاوه؛ ډېر مهال به د بزګر اړوند محصولات باد یا باران وړل. بزګر مجبور وو چې په یو مشخص وخت کې له خپلو وسایلو سره د فیوډال په ځمکه کې کار وکړي او پاتې ورځې خپلو اړوندو ځمکو کرلو ته ځانګړې کړي. پر دې سربېره بزګران مجبور ول چې فیوډالانو ته پلونه، کورونه، سړکونه، نجاري او نور کارونه هم ترسره کړي او دې ټولو کارونو ته وړیا کارونه ویل

کېده. تر دې چې د بزګرانو بچیانو او ښځو به هم د فیوډالانو لپاره وړیا کارونه کول.

بزګرانو به په ټولو وختونو کې د خپلو کورنیو د اړتیاوو پوره کولو لپاره کار کاوه او له خپلو کارونو او محصولاتو سره به یې پوره مینه درلوده او له همدې کبله یې د زړه له تله کوښښونه کول، خو کله به یې چې د فیوډال په ځمکو کار کاوه؛ سستي به یې کول او د محصولاتو زیاتوالي په برخه کې یې لېوالتیا نه ښودله. همدا وو چې فیوډالان مجبورېدل، تر څو د بزګرانو پر سر ساتونکي ودروي، تر څو له کار څخه ونه تښتي.

د فیوډالیزم د پرمختګ په پړاوونو کې بیا هم له پیسو څخه ګټه اخیستنه دود وګرځېده. فیوډالانو د ډېرو عایداتو د ترلاسه کولو لپاره په مختلفو پلمو له بزګرانو څخه نقدې پیسې اخیستلې په ډېرو مواردو کي مختلفي دستګاوې لکه ژرنده، اهنګري، د ټوکرانو اوبدل او نور... د فیوډالانو په لاس کې وې، په همدې سره بزګران مجبور ول، چې خپل غنم د فیوډالانو په ژرندو کې اوړه کړي او له دې درکه یې پیسې ورکړي. تر دې چې فیوډالانو طبیعي سرچینې، لکه ځنګلونه، چمنونه او کاریزونه هم خپل ملکیت شمېره او بزګرانو به چې ترې ګټه اخیستل؛ نو له هغوی څخه به یې پیسې اخیستې. بزګرانو به د پلونو او لارو څخه د ګټې اخیستنې په بدل کې فیوډالانو ته پیسې ورکولې. د دې سربېره به بزګرانو فیوډالي دولت ته زیاته مالیه هم ورکوله. بزګران به د دې ټولو کارونو سره - سره بیا هم استثماریدل او مجبور ول چې په یو کال کې یو پر لسمه برخه محصولات کلیسا ته هم وسپاري.

## په فیوډالیزم کې د تولید اساس

فیوډالي اقتصاد هم د غلامي اقتصاد په پرتله طبیعي وو، یانې ډېر هغه شیان تولیدېدل چې د شخصي لګښت لپاره تولید وو، نه د پلورلو او مبادلې لپاره. هر هغه څه ته به چې فیوډالانو او بزګرانو اړتیا درلوده؛ د فیوډالانو په ځمکو کې به تولید او برابرېدل. بزګرانو به د خپل لګښت لپاره تولید کاوه، هغوی نه یوازې په ځمکو بلکې په اوبدلو، کور جوړوني، قالین اوبدلو او نورو برخو کې هم کارونه کول. فیوډالانو به هم د استثمار له لارې د بزګرانو اړتیاوې پوره کولې، هغوی په خپلو املاکو کي بیلابېل صنعتکاران په واک کې لرل چې د دوی لپاره به یې کار کاوه.

فیوډالانو به د پیسو تر لاسه کولو لپاره د هیواد د تولیداتو یوه برخه پلورله، خو داکار آسانه نه وو، ځکه د هغو املاکو په محصولاتو کې چې دوی پلورل؛ نورو هم برخه درلوده. په همدې سره ګورو چې په دې نظام کې پېر او پلور په تاوتریخوالي سره تر سره کېده او فیوډالانو هم خپلې اړتیاوې او غوښتې د بزګرانو له خوا په استثمار سره تامینولې.

پورته مو وویل، چې فیوډالانو به په خپل مالکیت کې بیلابیل کسبګر په واک کې درلودل او مالکانو ته به یې د اړتیا وړ شیان جوړول، بلخوا په ښارونو کې نورو کسبګرو هم ژوند کاوه. په لومړیو کې د دې کسبګرو سپارښتونکي کارونه وه؛ بزګرو به چې کوم وسایل غوښتل د هغو شیانو لازم مواد به یې کسبګرو ته ورکول او کسبګرو به له هغه موادو څخه په ګټې اخیستنې سره هغه څه چې

بزگرانو غوښتل؛ ورته جوړول. مثلاً کله چې بزگرانو بوټان او جامې اغوښتلې، دوی به چرم او نور ټوکرونه چې دوی به جوړ کړي وه؛ ور وړل او کسبگرو هغو ته بوټونه او جامې جوړولي او د ترسره شوي کار په مقابل کې به یې له بزگرانو څخه د غنمو ډوډی، وریجې او نور شیان اخیستل. په دې وخت کې دکسبگرو دکار وسایل ډېر ساده او لومړني وه.

وروسته د صنعت له پرمختگ او ودې سره کسبگر نه یوازې په دې وتوانیدل چې د فیوډالانو او بزگرانو اړتیا پوره او تولید وکړي، بلکې له اړتیاو څخه یې زیات تولید هم کولی شو. په همدې ترتیب دوخت په تېرېدو سره د کسبگرو وړتیا هم زیاتیدله او فیوډالانو لیدل چې د هغو خلکو محصولات چې د دوی په املاکو کې یې د کسبگرو په توگه کار کاوه؛ ښه نه وه. دوی به ناچاره وه چې د محصولاتو د غوره پیرلو لپاره ښاري کسبگرو ته مراجعه وکړي او د اړتیا وړ توکي له هغوی څخه وپېري. په تدریجي ډول، کسبگرو د مصرف لپاره نه، بلکې د خرڅلاو لپاره په تولید لاس پورې کړ او په همدې ترتیب د کسبگرو محصولات په توکو بدلېدل. د خرڅلاو لپاره تولید د دې سبب شو چې صنعت له زراعت څخه جلا شي، له همدې کبله د کسبگرو او بزگرانو تر منځ تبادلې زیاتې شوې.

## ټولگي ( اصناف)

تر هغه مهاله چې کسبگرو خپل کارونه د سپارښتونو پر اساس ترسره کول ( له سپارښتونو څخه موخه که په یاد مو وي وړاندې مو وویل هغه چې بزگرانو به

خپل چرم او جوړې شوې قطعې کسبگرو ته وړلې او سپارښتنه به یې کوله چې دوی ته جامې او بوتان جوړ کړي) او یو له بل سره یې هیڅ ډول سیالی نه کول او یا یې سیالي کمزورې وه، خو کله چې د خرڅلاو لپاره تولید دود شو او ښارونه د توکو د تولید ځای شول، نو سیالي سخته شوه، خلگ له کلیو څخه ښارونو ته وتښتېدل او له دې کبله کوچني تولید کوونکي وېرېدل چې کار یې له لاسه ونه وځي. دوی به هڅه کول چې داسې نشي چې رقیبان یې په تولید لاس پورې کړي. د دې لپاره چې کسبگر خپل تشکیلات را منځته کړي، نو له همدې کبله یې له خپلو امتیازاتو څخه دفاع پیل کړه. کسبگرو د فیوډالانو د ټکولو او استثمار پر وړاندې د مبارزې لپاره د کلیوالو او ښاریانو تر څنگ ودرېدل او په خپل ټولگي کې یې په یووالي لاس پورې کړ.

## د تولیدي ځواکونو وده

په فیوډالي نظام کې د غلامي نظام په پرتله تولیدي (مؤلده) ځواکونو ډېر تکامل وکړ. د بېلگې په ډول، په بزگرۍ کې بیلابیلو تخنیکونو غوره والی وموند، نورې څانگې پکې رامنځته شوې. باغواني کر او د سبزۍ کرنې ته پوره پاملرنه وشوه. مالداري هم زیاته شوه د پنیر او شیدو په تولید کې هم پرمختگ را منځته شو، د بزگرانو د کاري وسایلو او اومو موادو د برابرولو طریقې هم زیاتې شوې، په دې دوره کې د قطب نماء اختراع له بیړۍ چلولو سره پوره مرسته وکړه. د کتاب چاپ دود شو، باروت او کاغذ اختراع شول، نوي کسبونه رامنځته شول، چې له جملې څخه یې د وسلې، کولپ، چړې جوړونې او نورو څخه یادونه کولی شو. هر څومره به چې تولیدي ځواکونو د وخت په تېرېدو سره پرمختگ کاوه؛ د

تولیدي اړیکو تنګ چوکاټ به یې وړاندې لا د ځان لپاره کوچنی لیده (لکه هر ماشوم چې وده کوي، نو جامې یې پکې تنګیږي) بزګران چې د استثمار او فیوډالانو تر فشار لاندې وو؛ په داسې یو حالت کې نه وه چې د بزګرۍ په محصولاتو کې زیاتوالی راولي. له همدې کبله د بزګرانو محصولات ورځ تر بلې کمزوري کېدل، په ښارونو کې کسبګرانو د موجوده ستونزو او د قانون له خوا د مقرراتو د وضع کولو له کبله نشو کولای پوره عاید ولري. په دې سره مالومېدله چې د مؤلده ځواکونو او تولیدي مناسباتو تر منځ اړیکي څنګه ناهمغږې شوې او دې بالاخره دا ایجابول چې پانګوالي تولیدي اړیکو د فیوډالي زړو اړیکو ځای نیسي.

## د سرمایه داري (پانګوالي) تولید پیدایښت

د پانګې تر ټولو پخوانی شکل سوداګریز شکل دی. کله چې په فیوډالیزم کې د توکو تولید وده وکړه، نو ټولو تولیدونکو ښه او غوره وسایل نه درلودل او یوازې کم شمېرو یې د کار سم وسایل درلودل، په پایله کې هغه تولیدونکو چې غوره کاري وسایل یې درلودل، نو د مشخصو توکو د تولید لپاره یې کم وخت ورکاوه او هغه تولیدونکو چې غوره کاري وسایل یې نه درلودل؛ هغو توکو ته یې باید ډېر وخت ورکړی وای او دا په داسې حال کې وه چې دواړو ډلو به خپل توکي په بازار کې په یوه بیه پلورل. په واقعیت کې بازار یې توپیر نه سره درلود چې کوم تولیدونکي د توکو په تولید ډېر او کوم لږ وخت لګولی، د دواړو تولیدونکو پېرودونکو به توکي په یوه بیه پېرل، په همدې ترتیب هغو تولیدونکو چې په کمو توکو به یې ډېر وخت لګاوه؛ ناهیلي به ګرځېدل، یانې

د کوچنیو تولیدونکو له ډلې څخه یوه کوچنۍ ډله په تدریجي ډول پانګواله شوه او لویه برخه یې مخ په بیوزلۍ روانه وه.

فیوډالي مالکانو به په هغو توکو چې له بهرنیو هېوادونو څخه را واردېدل؛ په خپل زړه مالیه لګول او همدا ډول له یوې سیمې څخه بلې ته د همدې توکو په انتقال باندې هم مالیه تر لاسه کوله. همدا وو، چې فیوډالیزم د مبادلاتو په تکامل او وده کې ستر خنډ رامنځته کړ، د دې مبادلاتو د تکامل او پراخوالي لپاره لازمه وه چې فیوډالي نظام له منځه لاړ شي.

بل دکسبګرانو لږ تولید نشو کولی، چې د نړۍ د بازارونو اړتیا پوره کړي، نو همدا چاره د دې سبب شول چې تولیدونکو؛ کوچنی تولید په لوی پانګوالي تولید چې د ځېښناک پر بنسټ ولاړ وو؛ ځایناستی کړ.

په تدریج سره هغو تولیدونکو چې غوره کاري وسایل به یې درلودل؛ سرمایه دار شول او بېوزله تولید کوونکي او زده کوونکي په ورځیني مزد لرونکو کارګرانو واوښتل. په دې ترتیب د بېوزلو تولیدونکو او زده کوونکو له لوري، په یوه سیستم کې د سوداګریزي پانګي را ټولولو او په مزد اخیستونکو باندې د کارګرانو بدلولو سره په صنعتي پانګي واوښتل.

په کلیو کې هم فیوډالیزم د له منځه تلو په درشل کې وو، ځکه د توکو د تولید په تکامل سره د خرڅلاو لپاره تولید د پیسو ځواک زیات شو او له همدې کبله فیوډال مالکانو به له بزګرانو څخه نغدې پیسې غوښتلې او بزګران هم ناچاره وه او خپل محصولات به یې په بازار کې خرڅول او مالکانو ته به یې نغدې پیسې

ورکولې. په همدې سره به بزګرانو ټول ژوند بې پیسو پر مخ وړه؛ د بېوزله بزګرانو د همدې لویې ډلې ترخنګ په کلیو کې لږ شمېر شتمن بزګران پیدا شول او د پور ورکولو له لارې به یې بېوزله بزګران استثمارول. همدا وو چې په فیوډالي نظام کې په کلیو او ښارونو کې سرمایه داري تولید را منځته شو، نو له دې کبله بیا د فیوډالي نظام له منځه وړل یو ضروري او اړینه چاره وګڼل شول.

## په ایران کې د بزګرانو پاڅونونه

د بزګرانو تر ټولو لوی پاڅون د بابک په مشري به اذربایجان کې وشو، دغه پاڅون د طالش له غرونو څخه پیل او تر کرمان او اصفهان پورې غځېدلی وو. بزګرانو څو څو ځلي د مستعصم لویې لښکرې ماتې کړې، وروسته مستعصم خلیفه یو ځواکمن پوځ اداره کړ او په راس کي یې یو ستر فیوډال چې افیشن نومیده؛ د بزګرانو په وړاندې یې د جګړې مسئول کړ، خو دا پوځ بیا هم له ماتې سره مخ شو. په پایله کې خلیفه له ډېرو کوښښونو وروسته په دې وتوانید چې پاڅون کوونکي غلي او وټکوي. بابک د البانیا اوسیدونکي یو تن شهزاده ته پناه یووړه چې شهزاده وروسته هغه خلیفه ته تسلیم کړ او په همدې ترتیب ووژل شو.

په ایران کې د بزګرانو یو بل مهم پاڅون چې له یوې خوا د فیوډالانو او استثمارګرانو او له بلې خوا د مغولو د تسلط په وړاندې تر سره شو؛ دغه پاڅون د سربدرانو په نوم یادېده او له دې کبله یې ورته د سربدارانو پاڅون ویل چې پاڅون کوونکو بزګرانو به ویل دغه پردي مغولیان او مالکان به اوس پر موږ زور

چلوي، که په وړاندې يې مبارزه وکړو نو ظالم او ظلم له منځه وړو، که د ظالم په له منځه وړلو ونه توانېږو نو پرېږده چې سرونه مو په دار شي، ځکه نور ظلم او ستم نشو زغملای. په دې پاڅون کې د بزګرانو او کسبګرو سربېره کوچنيو مالکانو هم ګډون کړی وو. سربداران په ډېره چټکتيا سره و توانيدل چې ليرې سبزوار د خپل حکومت پلازمينه وټاکي او وروسته يې خراسان او د نيشاپور او طوس ښارونه هم په خپل قلمرو کې شامل کړل.

په ايران کې نور پاڅونونه د شاه صفوي او د لومړني عباس د ځای ناستې پر مهال ترسره شول. په دې پاڅون کې ديرش زره کسانو برخه اخيستې وه چې په راس کې يې بزګران وه، د پاچا وزير مجبور شو چې د بزګرانو لښکر وټکوي، خو خپله يې په سختۍ سره ماته وخوړه له دې وروسته وزير او ګڼ شمېر نور اشراف وتښتېدل، قوي هوډ لرونکو پاڅونوالو له تلوسې پرته وکولی شول، نور ښارونه هم ترخپل تسلط لاندې راولي. هغوی دولتي ګودامونه تصرف کړل او د ٦٠ زره کيلو شاوخوا وريښم چې له بزګرانو د ماليې په توګه اخيستل شوي وو، يې له ګودامونو څخه راوويستل او هغه يې د بيوزلو او ماليه ورکونکو ترمنځ وويشل. په پايله کې پاڅونونو د سازمان په نه لرلو سره د دولت مشر له خوا ماته وخوړه، پاڅونوال وټکول شوه، خو يو شمېر بزګران د نباتاتو په ځنګلونو کې پټ شول او کله - کله به يې د دولت په وړاندې چريکي جګړې تر سره کولې.

## په نورو هېوادونو کې د بزګرانو پاڅونونه

**فرانسه** ، په څوارلسمه پېړۍ کې د راکري په نوم بزګري پاڅونونه د فرانسې په شمال کې تر سره شوه. د دې پاڅونونو مشري د ګیوم نومي شخص په غاړه وه. بزګرانو د فیوډالانو ځایونه ویجاړ او اوسیدونکي یې له منځه یوړل. دغه پاڅون په پایله کې له ماتې سره مخ شو. درباري اشرافو بزګرانو ته چې په کافي اندازه یې وسلې او نظم نه درلود په سختۍ سره ماته ورکړه. د دې پاڅون په پایله کې چې دوه اونۍ یې د دوام وکړ؛ ګیوم یې برمته ونیو درباري اشرافیانو په داسې حال کې چې ګیوم ته یې د ملنډو په سترګه کتل او کلیوال پاچا یې باله؛ د تاج پرځای یې ورته د اوسپنې جوړه شوې کړۍ په غاړه کړه او په دار یې وځړاوه. پاڅون کوونکي بزګران یې په ونو وځړول او وسوځول. د دوی په وحشیانه وهلو او ټکولو کې له زرو څخه ډېر پاڅون کوونکي ووژل شول.

**انګلستان**، دڅوارلسمي پېړۍ په پای او وروستیو کې د انګلستان په ختیځ کې پاڅون وشو، بزګرانو دولتي مامورین او د مالیي اصول له منځه یوړل او د هغوی یو شمېر یې ووژل. پاڅون په پیل کې د مالیې پر وړاندې، د نیوکې په شعار سره پیل شو، خو له ځنډ پرته د استثمارګرانو یانې فیوډالانو په ضد بدل شو. بزګرانو د مالکانو کورونه او کلیساګاني او اموال لوټ کړل. دې پاڅون ته له دې کبله چې مشري یې یو کلیوالي سړي (واټ تایلور) په غاړه وه، نو د واټ تایلور نوم ورکړل شو. دې پاڅون هم ماته وخوړه او پاڅون کوونکي په شدید ډول وټکول شول. په دې وهلو او ټکولو کې لومړی د پاڅون مشر واټ تایلور او

نورو مهم غړي ووژل شول او تر لږ ځنډ وروسته ټول بزګران چې په دې پاڅون کې یې برخه اخیستې وه؛ په وحشیانه ډول په دار وځړول شوه.

**تزاري روسیه،** په تزاري روسیه کې هم یو شمېر پراخ پاڅونونه وشول، چې تر ټولو لوی یې انقلاب وو. دا پاڅون د استېپان رزین تر مشرۍ لاندې وو. په اوولسمه پېړۍ کې بزګرانو د استېپان رزین تر مشرۍ لاندې په والګا کې پاڅون وکړ، چې ورسره یې دوه نور ښارونه هشترخان او تساریتسین هم تسخیر کړل. د تزار استازي یې ووژل او د هېواد لویې برخې یې په خپل تصرف کې راوستلې.

اسپټان رزین په تسخیر شویو ښارونو کې پاچا او فیوډالان له منځه یوړل، په پایله کې دغه پاڅون له ماتې سره مخ شو، استېپان یې مسکو ته یوړ او هلته یې په سور میدان کې څلور ټوټې کړ.

یوه پېړۍ وروسته د یوګاچف تر مشرۍ لاندې یو بل پاڅون وشو، دا پاڅون هم چې د بې وزلو وګړو له خوا یې ملاتړ کېده؛ د دولتي ځواکونو له خوا مات او یوګاچف یې په ۱۷۷۵ کال کې د مسکو په میدان کې په دار وځړاوه.

**چین،** په چین کې د بزګرانو لوی پاڅون مشر او ملاتړی هوانګ چائو وو. کله چې پاڅون کوونکي د هوانګ چائو تر مشرۍ لاندې امپراطورۍ پلازمیني چانګان ښار ته ننوتل؛ ورسره سم امپراطور وتښتېد او ګڼ شمېر پلویان فیوډالان او دولتي کارمندان یې ووژل شول او پرځای یې بزګران په دندو وګمارل شوه. له دوو نیمو کالو وروسته د پاڅون ماتولو او ټکولو لپاره لویې ډلې جوړې

شوې. دا ډلې چې د فیوډالانو او امپراطور د پلویانو څخه جوړې شوې وې؛ د تورو کارغانو په نوم یادیدلې او په پایله کې د تورو کارغانو او پاڅون کوونکو تر منځ جګړه را منځته شوه او د پاڅون کوونکو په ماتې تمامه شوه.

د بزګرانو د پاڅونونو انقلابي ارزښت په دې کې دی چې د فیوډالي نظام پښې یې ولړزولې. د لویدیځې اروپا په هېوادنو کې په سرمایه داري نظام د فیوډالیزم ګوذار په بوروژوازي انقلاب سره ترسره شو او په پایله کې بوروژوازي انقلابونه د فیوډاالیزم د له منځه تلو او د سرمایه دارۍ د ټینګښت سبب شول.

## د توکو (څیزونو) تولید

په پخوانیو وختونو کې به بزګرانو غنم کرل او کورنۍ به یې له دې غنمو څخه د ځان لپاره ډوډۍ پخوله، خو نن ډوډۍ نانوایي پخوي او خلک باید د تنوري ډوډۍ د پېرلو لپاره نانوایي او د ماشیني ډوډۍ لپاره د ډوډۍ خرڅولو مغازو ته مراجعه وکړي. هغه ډودۍ به چې بزګر پخوله، نو د هغه یوه اړتیا به یې پوره کول. د بزګر ډوډۍ داسې ځانګړتیا درلوده چې وږې ګېډه به یې مړوله، له همدې کبله د بزګر ډوډۍ د مصرف وړ وه. هغه ډوډۍ چې نانوایي یا ماشیني کارخانې یې پخوي هم د انسانانو اړتیا پوره کوي. د بزګر ډوډۍ ته ورته ځانګړتیا لري او وږې ګېډه مړوي. له همدې کبله د نانوایي او ماشیني کارخانې ډوډۍ هم د مصرف وړ ده. بزګرانو به د خپل ځان لپاره ډوډۍ پخوله، خو نانوایي او ماشیني کارخانې یې د پلورلو لپاره پخوي. د نانوایي ډوډۍ چې د مبادلې لپاره تولیدیږي، نو مبادلوي ارزښت لري، په داسې حال کې چې د بزګر ډوډۍ د شخصي مصرف لپاره تولیدېږي او مبادلوي ارزښت نه لري. د بزګر

ډوډۍ یوازې مصرفي ارزښت لري، خو د نانوايي ډوډۍ هم مصرفي ارزښت لري او هم مبادلوي.

د بزګرانو ډوډۍ هغه محصول وو، چې د شخصي مصرف لپاره تولید کېده او د نانوايي ډوډۍ هغه محصول دی چې د مبادلې لپاره تولید کیږي او دا چې د مبادلې لپاره تولیدیږي؛ نو توکي يا شیان ورته وايو. هر محصول د دې لپاره چې توکی وګڼل شي؛ باید دوې ځانګړتیاوي ولري، لومړی مصرفي ارزښت ولري، یانې د انسانانو یوه اړتیا پوره کړي، دوهم مبادلوي ارزښت ولري، یانې د مبادلې (خرڅولو) لپاره تولید شوی وي. په همدې سره څیزونه دوه ځانګړتیاوې لري؛ یو مصرفي ارزښت او بل مبادلوي ارزښت.

د تولید توکي هغه محصولات دي چې د مبادلې (خرڅولو) لپاره تولیدیږي. د توکو تولید د همدا مبادلې لپاره ترسره کیږي. وړاندې تر دې چې د توکو تولید پر ټولنه حاکم شي او د ټولنې د هرې اقتصادي پايې بنسټ جوړ کړي؛ د اوږدې مودې لپاره طبیعي تولید ( هغه تولید چې د شخصي مصرف لپاره ترسره کېده) حاکم وو.

البته د طبیعي تولید حاکمیت په دې مانا نه دي، چې د لومړي کمون له ویشل کېدو وروسته، د طبیعي تولید د حاکمیت ترڅنګ د شیانو تولید را پیدا شوی. د شیانو دغه تولید نه یوازې غالب او حاکم نه وو؛ بلکې ډېر محدود او کمزوری هم وو. پر طبیعي تولید نه یوازې فیوډالي او غلامۍ دوره حاکمه وه؛ بلکې د شیانو تولید وجود نه درلود.

د سرمایه دارۍ په لومړیو کې که څه هم چې د توکو تولید موجود نه وو، خو د ټولنو د اقتصادي بنسټ په توګه واکمن وو. سرمایه داري د خپلي ودي په بهیر کې په طبیعي تولید باندې پریکنده ګوذارونه وکړل. په دې سره طبیعي تولید له منځه لاړ او د شیانو تولید یانې د پلورلو لپاره تولید وده وکړل.

د توکو د تولید اړین شرط د ټولنیز کار ویشل دي، خو په پخوا وختونو کې لکه په لومړیو اشتراکي ټولنو کې د کار ویش موجود نه و؟ ځواب دا دی، چي ولي نه وو ، په لومړیو اشتراکي ټولنو کي لکه څنګه مو چې د کتاب په لومړیو برخو کې ولوستل؛ د ټولنیز کار لومړی او دویم لوی ویش ترسره شو او دغه ویش د بزګرۍ او کسبګرۍ د ودې لپاره را منځته شو. دا سمه ده چې په هغه وخت کې هم د کار ویش موجود نه وو، خودا رښتیا دي چې د کار ویشلو سربېره د پلورلو لپاره تولید، یانې د شیانو تولید موجود نه وو. د کار ویش د توکو د تولید لپاره لازم شرط دی، خو د توکو تولید د کار ویشلو لپاره لازم شرط نه ګڼل کېږي. یانې دا چې د شیانو د تولید لپاره د کار ویش هرو مرو اړین دی، خو په ټولنه کې دکار د ویش د موجودیت لپاره خامخا ضرور نه ده چې شیان تولید شي.

ولې نشو کولی چې دکار ویشلو پرته څیزونه (توکي) تولید کړو؟ د دې لپاره که چېرې په ټولنه کې هره کورنۍ په خپله کرنه وکړي، مالدارۍ ته مخه کړي، غنم و ریبي او هغه په لاسي ژرنده کي اوړه کړي، ډوډۍ پخه کړي، کورونه او د هغه د جوړونې اسباب او څرمن جوړه کړي او نجاري وکړي، نو نور به د شیانو تولید کومه مانا ونه لري، ځکه توکي (شیان) هغه څه دي چې د پلورلو لپاره تولیدېږي

او کله چې په ټولنه کې د کار ویش موجود نه وي، نو هر کس به په یوازیتوب سره ټول کارونه کوي، چې په دې سره د توکو تولید امکان نه لري.

بل شرط چې د شیانو د تولید لپاره لازم دی، په تولیدي توکو باندي خصوصي مالکیت دی. د بیلگې په توگه، کله چې څوک توکي تولید کړي، نو خامخا یې د پلورلو نیت لري، ځکه څیزونه هغه څه دي چې د پلورلو لپاره تولیدیږي. ښه، کله چې یو چا څه شی تولید کړی وي او وغواړي چې وې پلوري؛ هغه وخت دا کار کولی شي چې محصول یې خپل وي، ځکه که دا محصول یې خپل نه وي، نو څنگه کولی شي هغه وپلوري؟ یانې تولیدونکی هغه وخت کولی شي چې شیان تولید کړي، چې د تولیدي وسایلو او ابزارو مالک وي. مثلاً په لومړیو اشتراکي ټولنو کې چې د تولید په ابزارو خصوصي مالکیت حاکم نه وو، نو د شیانو تولید هم ورسره موجود نه وو، خو د فیوډالیزم او غلامۍ په دوره کې له دې سره - سره چې طبیعي تولید پر ټولنه حاکم وو، نو د توکو تولید هم په کمزوري او محدود ډول سره را پیدا شو، یانې د توکو تولید د ټولنې اقتصادي بنسټ نه جوړاوه.

په همدې سره د پورتنیو ټولو مطالبو لنډیز او پایله په لاندې ډول ده: د توکو د تولید لپاره لازم شرطونه عبارت دي له: اول د ټولنیز کار ویش، دوهم په تولیدي وسایلو باندي خصوصي مالکیت.

## د توکو ساده او پانګوالي تولید

د سرمایه دارۍ په لومړیو پړاوونو کې هغه مهال چې د لویو کار خانو هیڅ پته نه وه، نو تولید د کوچنیو تولیدونکو یانې کسب ګرو او بزګرانو له خوا ترسره کېده. دغه تولیدونکي هم د تولیدي وسایلو خاوندان وه او هم یې په هماغو وسایلو تولید کاوه، لکه بزګرانو به په خپلو وسیلو (غواګانو او اوسپنو) باندي کار کاوه، بوټ جوړونکو به په خپلو وسایلو. لنډه دا چې هر کسبګر به په خپلو وسایلو سره کار کاوه او له همدې لارې به یې تولید کاوه. د دې ډول تولید ته د توکو ساده تولید وایي، په همدې سره ویلای شو چې د توکو ساده تولید هغه دی چې د کوچنیو تولیدونکو په ذریعه تر سره کېږي، چې هم په خپله د هغو وسایلو خاوندان وه او هم یې په هماغو وسایلو تولید کاوه.

نن هم د توکو ساده تولید موجود دی، چې بزګران یې یو برخه او کسبګر یې نماینده ګان دي. دوی د خپل مصرف لپاره نه، بلکې د مبادلې لپاره تولید کوي

د توکو ساده تولید دوه ګونی خاصیت لري، یانې له یو لوري دا چې خصوصي مالکیت یې بنسټ نه دی؛ بزګر د تولید یوه برخه او کسبګر یې مالک دی او سرمایه دار ته نږدې دی. له بل پلوه د توکو ساده تولید د تولیدونکي د شخصي کار پر بنسټ دی.

بزګر او کسبګر چې دواړه په خپلو وسایلو سره کار کوي؛ زیارکښ شمېرل کېږي او له همدې کبله کارګرانو ته نږدې دي.

خود پانګوالي تولید دا ډول دی چې سرمایه داران د تولیدي وسایلو مالکان وي او د هماغو وسایلو په وسیله کارګران استثماروي. په همدې سره د توکو ساده او سرمایه داري تولید په یوه شي کې سره ورته والی لري، چې هغه خصوصي مالکیت دی. د توکو په ساده تولید کې کوچني تولیدونکي لکه بزګران، د تولیدي وسایلو یوه برخه او کسبګر یې مالکان دي او د توکو په سرمایه داري تولید کې سرمایه داران د تولیدي ابزارو مالکان وي، د توکو ساده او سرمایه داري تولید په خپل منځ کې یو لوی توپیر هم لري؛ هغه دا چې توکو په ساده تولید کې کوچني تولیدونکي د تولیدي وسایلو مالکان وي او خپله په خپلو وسایلو کار کوي، په داسې حال کې چې د توکو په سرمایه داري تولید کې، سرمایه داران (د وسایلو مالکان) په خپله هیڅ کار نه کوي او کارګران تر استثمار لاندې راولي.

## د مصرف ارزښت

وړاندې مو وویل، د توکو یوه ځانګړتیا دا ده چې د انسان ځینې اړتیاوې پوره کوي. په همدې سره توکي د انسان لپاره ګټور دي او انسان کولای شي، د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې وکاروي، نو توکي مصرفي ارزښت لري، اوس دلته دا پوښته پیداکیږي، آیا هر هغه څه چې د مصرفي ارزښت لري؛ توکي ګڼل کیږي؟

ځواب نه، لکه ډوډۍ چې بزګر یې د شخصي مصرف لپاره پخوي، د انسان لپاره ګټوره ده او د هغوی یوه اړتیا پوره کوي، په همدې دلیل مصرفي ارزښت

لري، په داسې حال کې چې بزګر ډودۍ د خپل شخصي مصرف لپاره پخوي، نه د پلورلو لپاره دا ډوډۍ توکی نه ګڼل کېږي.

ډېر شیان موجود دي، چې د انسان د کار محصول نه دي، خو د انسان لپاره ګټور دي او مصرفي ارزښت لري، خو توکي نه دي لکه هوا، او به، ونه، او داسې نور شیان....

تر دې ځایه پوه شوو، هر هغه څه چې مصرفي ارزښت لري؛ توکي نه دي اوس کولی شو داسې پوښتنه وکړو، چې آیا ټول توکي مصرفي ارزښت لري؟ ځواب، څرنګه چې د توکو یوه ځانګړتیا دا ده چې ګټور دي او په یو ډول د انسان اړتیاوې پوره کوي؛ په همدې اساس مصرفي ارزښت لري، په ټوله کې هر ډول توکي مصرفي ارزښت لري، خو هر څه هم چې مصرفي ارزښت لري؛ توکي نه دي.

د توکو په تولید کې د هغو توکو مبادله ترسره کېږي، چې مصرف یې د ارزښت وړ وي، ولې د هغو توکو مبادله کېږي چې مصرف یې د ارزښت وړ وي؟

څرنګه چې د هغو توکو مبادله یو ډول ده، چې مصرف یې د ارزښت وړ وي کومه مانا نه لري، د بېلګې په ډول، په غنمو د غنمو تبادله، ټوکر په ټوکر، خرما په خرما لازمه نه ده. البته څوک په دې فکر کې نه لویږي چې خرما په خرما او غنم په غنم تبدیل کړي غنم په غنمو نه بدلوي، ولې؟

ځواب دا دی، ځکه د غنمو او خرما مصرفي ارزښتونه یو ډول نه دي، یانې جلا دي.

کله چې دوه کسه پینځه کیلو غنم په یوه کیلو اوسپنه بدلوي؛ زموږ لپاره پوره روښانه ده چې دا دوه توکي په یو شي کې سره برابر دي چې مالکان یي مبادلې ته چمتو شوي دي، خو په هماغه اوله پلا موږ ته دا نه روښانه کېږي چې دا دواړه توکي په څه شي کې سره برابر دي، چې مالکان یې مبادلې ته سره سلا شوي؟ د دې لپاره چې د دې توکو د ورته والي نښه پیدا کړو، لاندې مسئله تعقیبوو.

آیا دا دوه توکي په وزن کې سره برابر دي؟

ځواب روښانه دی، چې نه، ځکه چې غنم پینځه کیلو گرامه دي او اوسپنه یو کیلو ده، آیا د دې توکو مصرفي ارزښت سره برابر دی؟ ځواب نه، ځکه د هغو توکو مصرفي ارزښت چې سره برابر نه وي؛ نه مبادله کېږي. مثلاً څوک چمتو دي چې غنم او غنم چې مصرفي ارزښتونه یې سره برابر دي، مبادله کړي؟

بشپړه روښانه ده چې د اوسپنې او غنمو مصرفي ارزښت سره برابر نه دي، دوی دواړه مختلف مصرفي ارزښتونه لري، ځکه له غنمو ډوډۍ پخېږي او خوړل کېږي، خو آیا تر اوسه داسې شوي چې له اوسپني څخه ډوډۍ پخه کړي او ویې خوري؟ کله چې دوه کسان وغواړي پنځه کیلو گرامه غنم په یو کیلو گرام اوسپنې مبادله کړي؛ نو د غنمو خاوند له ځان سره داسي وايي، چې د پنځه کیلوگرامه غنمو تولید چې څومره وخت نیولی؛ په هماغه اندازه اوسپنې هم نیولی، د اوسپنې خاوند له ځان سره وايي، ما د یو کیلو گرام او سپنې د تولید لپاره هومره وخت لگولی، څومره چې په پینځه کیلو گرامه غنمو لگېدلی، په همدې سره وینو چې د دې دواړو په توکو په تولید باندې برابر وخت لگېدلی.

د توکو په تولید کې مبادلې تر ډېره په پیسو سره ترسره کېږي، توکي په یوه اندزه پیسو پلوري او په یادو پیسو نور توکي پېري.

لکه ،کله چې یو خیاط یو کمیس په ۵۰۰ افغانیو پلوري، نو دا پیسې د تل لپاره په خپل جیب کې نه ږدي، بلکې په دې پیسو هغه پېري چې اړتیا ورته لري. فکر وکړئ، که خیاط په ۵۰۰ افغانیو یوه جوړه بوتان پیري، نو دلته ویلای شو چې خیاط یو کمیس په یوه جوړه بوټانو مبادله کړ او دا مبادله په پیسو سره تر سره شوه، نو د بوټانو او کمیس دواړو د تولید وخت سره برابر دی، نو ځکه سره مبادله شوه.

که چېرې دوه یا څو توکي سره مبادله شي هغه څه چې دوی ته یې ارزښت ورکړی، هغه اندازه کار دی چې په دوی کې نغښتی دی، کله چې مغازې ته مراجعه وکړئ او وګورئ هغه توکي چې مو د خوښې وړ دي؛ قیمته دي، شاید له ځان څخه وپوښتئ چې د دې توکو د قیمتی عامل څه دی او په ټوله کې د دې یو شمېر توکو د قیمتی لاملونه څه وي؟ آیا توکي له دې کبله ګران دي چې وزن یې زیات دی که حجم؟ او یا هم ډېر نه پیدا کېږي؟ یا د پیرودونکو اندازه د توکو له اندازې څخه زیاته ده؟ که په سمه توګه خبر شو، نو دې ته به مو پام را وګرځي چې پورتني ټول لاملونه د توکو د ګرانښت سبب نه دي، د دې موضوع د روښانتیا لپاره لاندیني مثالونه تر څېړنې لاندې نیسو.

دیو ګرام سرو زرو بیه د اوسپنې د یو کیلو ګرام د بیې څو برابره ده، که چېرې د بیلابیلو توکو بیه د هغه د دروندوالي له کبله وي، نو باید د اوسپني بیه د سرو زرو له بیې څخه لوړه وي، د یو کیلو ګرام سپین زرو بیه د پنبې د بیې څو برابره

زیاته ده. اوس که چېرې د هر توکي د گرانښت علت د هغه د حجم زیاتوالی وي، نو بیا خو د یوې کیلو پنبې حجم د یو کیلو گرام سپینو زرو څو برابره ده، نو بیه یې هم باید له هغه څخه لوړه وي؛ په داسې حال کې چې داسې نه ده. فرض کړئ په بازار کي چای ډېر لږ پیداکېږي او پر ځای یې سره زر ډېر، اوس که چېرې سره زر هر څومره زیات شي او چای کم وي، نو آیا د یو کیلو گرام سرو زرو بیه به د یو یا څو کیلو گرامه چای له بیي سره برابره شي؟ که د گرانښت لامل یې لږ پیدا کېدل وي، نو که چای لږ پیدا شي؛ باید بیه یې د سرو زرو د بیي څو برابره شي. په داسې حال کې چې داسې نه ده، چای که هر څومره په بازار کې لږ شي، نه یوازې د یو کیلو بلکې د سل کیلو بیه به یې هم له سرو زرو سره برابره نه شي، نو د توکو لږ پیدا کېدل د هغوی د گرانښت علت نشي کېدای.

آیا د پیرودونکو زیاتوالی او د توکو کموالی د هغو د گرانښت علت کېدای شي؟ همدا ډول د پیرودونکو کموالی او د توکو زیاتوالی د هغو د ارزانښت سبب گرځېدای شي؟ فرض کړئ په یوه ټولنه کي زر کیلوگرامه وریجي او دوه زره پېرودونکي موجود دي چې هر یو یي یو کیلو گرام وریجي غواړي. د وریجو اندازه زر کیلو ده، په داسې حال کې چې ټولنه دوه زره کیلو گرامه وریجو ته اړتیا لري. اوس بیا فرض کړئ په همدې ټولنه کې زر کیلو گرامه مالگه او دوه زره پېرودونکي موجود دي، چې هر یو یې یو کیلو گرام مالگه غواړي او د مالگي اندازه هم زر کیلوگرامه ده. په داسي حال کي چي ټولنه دوه زره کیلوگرامه مالگه غواړي؛ ښه که د توکو د گرانښت لامل د پېرودونکو زیاتوالی او د توکو کموالی وي؛ نو د وریجو او مالگي بیه چې دواړه په ټولنه

کې په یوه اندازه موجود دي او د دواړو پېرودونکي هم برابر دي؛ باید برابر وي، یانې د یو کیلو گرام وریجو بیه باید د یو کیلو گرام مالگي سره برابره شي، د دواړو بیي باید برابرې شي، آیا داسې کېدای شي؟ مالومه ده چي نه.

نو د توکو بیه څه ډول ټاکل کېږي؟ د ټولو توکو بیه په هغه توکي باندې د لگول شوي وخت له مخې ټاکل کېږي. یو کوټ په پام کې ونیسئ: دغه کوټ په لومړیو وختونو کې د پسه په شا باندې وو، په جوړولو او په وړیو یې لږ کار شوی او په ټوکر باندې تبدیل شوی او په پایله کې لږ کار ورباندې شوی، تر څو له ټوکر یا تار څخه کوټ و اوبدل شي. په همدې سره د دې کوټ قیمت په هغه باندې له مصرف شوي وخت سره سم ټاکل کېږي. که چېرې د توکو په تولید باندې لږ وخت ولگول شي؛ نو کېدای شي چې بیه به یې هم ټیټه وي، برعکس که چېرې بیا دا وخت زیات شي؛ نو بیه به یې هم لوړه وي.

ډېر توکي چې پخوا یې بیه لوړه وه؛ د تولیدي وسایلو په پرمختگ سره یې اوس بیه را ټیټه شوې ده، ځکه د تولیدي وسایلو په پرمختگ سره اوس د توکو په تولید باندې لږ وخت لگېږي او بیه یې ټیټه وي. اوس که تولیدونکی د تجربې د کموالي له کبله یو توکی چې څلور ساعته وخت نیسي؛ په شپږ ساعتونو کې جوړ کړي، په دې صورت کې آیا د دې توکي بیه لوړېدای شي؟ بلکې فرض کړئ، د یوې جوړې بوټانو د جوړولو لپاره څلورو ساعتونو ته اړتیا ده او بیه یې هم برابره ده، خو هغه بوټ جوړونکی چې کار کوي؛ همدا بوټان په شپږو ساعتونو کې جوړوي. اوس یا همدا بوټ جوړونکی خپل بوټان د هغه بوټ جوړونکي په پرتله په لوړه بیه پلوري؛ چا چې په څلورو ساعتونو کې جوړ

کړي؟ نه، ځکه یوه جوړه بوټان په څلورو ساعتونو کي جوړیږي، یا د یوې جوړې بوټانو ارزښت له څلور ساعتونو کار سره برابر دی، نو په همدې سره د ټولو توکو بیه په هغه توکو باندې له لګول شوي وخت سره سم ټاکل کیږي. مثلاً د یوې جوړې جامو لپاره اته ساعتو ته اړتیا ده، اوس که چېرې خیاط همدا جامې په اتو ساعتونو کې وګنډي؛ نو وایي چې د یوې جوړې جامو ګنډلو لپاره اته ساعته بسنه کوي، که څه هم خیاط په لسو یا اتو ساعتونو کې ګنډلي وي، خو بیه یې یو ډول ده. د هر توکي مبادلوي ارزښت، د هغه د لازم ټولنیز کار له مخې چې ورباندې شوی وي؛ ټاکل کیږي. د کاري ځواک ارزښت هم په همدې ډول دی. مثلاً که چېرې د یوې جوړه بوټانو د تولید لپاره پینځه ساعته کار لازم وي؛ د دې یوې جوړې بوټانو ارزښت له پنځه ساعته ټولنیز لازم کار سره برابر دی. کاري ځواک هم باید د نورو توکو په څېر تولید شي، خو څه ډول؟ د هر توکي د تولید لپاره باید لازمه اندازه کار ترسره شي، خو د کاري ځواک تولید بیا په دې شکل تر سره کیږي، چې د کاري ځواک د تولید لپاره باید ښه واغوستل شي او ښه استراحت وشي.

هر کارګر د دې لپاره چې د راتلونکې ورځې لپاره کاري ځواک رامنځته کړي؛ نو باید وخوري، وڅښي، واغوندي او ویده شي.

د دوی سر بېره، کارګر باید د خپل کور مصرف هم ورکړي، همدا ډول ځیني کارګران باید زده کړه وکړي، تر څو وکولی شي، په پیچلو تولیدي وسایلو سره کار وکړي چي دا هم لګښتونه لري. په ټوله ائیز ډول د کاري ځواک ارزښت

له هغو لګښتونو سره برابر دی چې کارګر يې بايد د توليد لپاره کاري ځواک ولګوي.

دغه لګښتونه له خوراک، څښاک، پوښاک او استراحت څخه عبارت دي؛ روښانه ده که کارګر ونه وخوري، ونه څښي او استراحت ونه کړای شي؛ نه شي کولای کاري ځواک ولري، تر څو هغه وپلوري. په همدې ډول کارګر خپل کاري ځواک په پانګوال پلوري او يوه اندازه پيسې د مزد په توګه تر لاسه کوي.

کارګر په دې پيسو باندې د ځان او کورنۍ لپاره خواړه او نور د اړتيا وړ توکي برابروي، جامې پېري، استراحت کوي او په دې ترتيب هغه کاري ځواک يې چې له لاسه يې ورکړی؛ بيا اخلي او په لاس راوړي. په راتلونکي ورځ کې بيا خپل کاري ځواک پلوري او مزد ترلاسه کوي. مجدداً په هغه مزد باندې خوري، څښي او استراحت کوي او له لاسه ورکړی کاري ځواک بيا اخلي او لاس ته يې راوړي.

## لازم او زيات کار

لازم کار هغه اندازه کار ته ويل کېږي چې کارګرانو د ځان لپاره تر سره کړی وي او د هماغه له درکه يې مزد ترلاسه کړی وي، خو زيات کار هغه اندازه کار دی چې کار ګرانو له مزد تر لاسه کولو پرته د پانګوالو لپاره تر سره کړی وي.

## ساده او پیچلی (مرکب) کار

هغه کار چې تخصص ته اړتیا نه لري؛ ساده کار ګڼل کېږي، خو هغه کار چې زده کړې او تخصص ته اړتیا لري پېچلی یا مرکب کار ګڼل کېږي.

یوه ورځ یو کس د کار موندنې په موخه د موټر جوړولو یوې کارخانې ته ولاړ، له هغه څخه یې پوښته وکړه چې آیا تخصص لرې؟ ځواب یې ورکړ نه، زه تخصص نه لرم ورته یې وویل، ډېر ښه، راځه د دې استاد څنګ ته ودرېږه، هر څه یې چې در څخه غوښتل نو ورته یې راوړه.

هغه د استاد خواته و درید، تر څو له هغه سره مرسته وکړي. زیات وخت تېر شو هغه شخص ولیدل چې استاد هم یو وخت د ده په څېر اته ساعته کار کاوه، خو استاد دوه سوه افغانۍ له دې شخص څخه زیاتې اخیستې. په همدې سره هغه له استاد څخه وپوښتل زه او ته دواړه اته ساعته کار کوو، په داسې حال کې چې تاته دوه سوه پنځوس افغانۍ درکوي او ماته پنځوس؛ لامل یې څه دی؟

استاد ځواب ورکړ سمه ده چې ما او تا دواړه د ورځې اته ساعته کار کوو، خو هغه کار چې ته یې تر سره کوې؛ ساده او هغه کار چې زه یې تر سره کوم؛ پیچلی دی. زما دیرش کاله کېږي چې زیار باسم او ځان مې د استادۍ پړاو ته را رسولی، لا له همدې کبله کله چې اته ساعته کار کوم؛ دېرش کلنه تجربه او زده کړه هم په کار اچوم، یانې موټرو په جوړولو کې د دیرش کلن کار له تجربې څخه ګټه اخلم. هر څوک کولی شي د یو استاد تر لاس لاندې کار وکړي او هر

ځینې وسایل لکه چکش، پلاس او نور استاد ته ورکړي، خو ټول نشي کولای چې د موټر خرابوالی مالوم کړي.

هر کس کولای شي چې اسباب له یو ځای څخه بل ځای ته ولیږدوي، خو هر څوک نشي کولای ساعتونه جوړ کړي.

په کارخانه کې ماهر او غیر ماهر کارگران او انجینران کار کوي او یو د بل په مرسته بیلابیل توکي جوړوي. په دې کارخانه کې غیر ماهر کارگران ساده کار کوي او ماهر کارگران او انجینران پیچلی کار کوي.

د بېلگي په ډول، که په تېرو کې دځینو توکو د جوړولو لپاره پنځه ساعته کار لازم وو؛ اوس د تولیدي وسایلو او د انسان د وړتیاوو په ودې سره د ټولو توکو تولید یو ساعت کار ته اړتیا لري. هغه پنځه ساعته چې پخوا د یو کار په ترسره کولو لگېدل؛ یو ساده کار او یو ساعت چې اوس د هماغو توکو په تولید مصرفیږي؛ یو پیچلی کار دی.

## مجرد او مشخص کار

بوټ جوړول د چا کار دی؟

ځواب، د بوټ جوړونکي کار.

د جامو گنډل د چا کار دی؟

ځواب، دخیاط کار.

په میز و څوکۍ کې د چا کار نغښتی؟

ځواب، د ترکاڼ کار.

په ډبرو سکرو کې د چا کار دی؟

ځواب، د ډبرو په سکرو کې د معدنچي کار دی.

په ټولو توکو کې د یو متخصص کار نغښتی. خیاط، بوټ جوړونکی، پښې، نجار او نور ټول کار کوي، خو د ټولو کارونه یو له بل سره توپیر لري.

شوني ده چې د ډبرو په سکرو کې د نجار کار نغښتی وي؟ او داسې کېدای شي چې د جامو په جوړولو کې د یو انجینر کار وي؟ روښانه ده چې نه!

بوټان، جامې او سکاره په څه شي کې سره مشترک دي؟

ځواب: ټول توکي په یو څه کې سره مشترک دي چې هغه د انسان کار دی. ځکه ټول توکي د پلورلو لپاره تولیدیږي، نو په کان، میز، جامو او بوټانو کې دانسان کار موجود دی، چې دوی ته یې ارزښت ورکړی دی. دانسان کار چې په ټولو کارونوکې موجود دی. نو یوازې کار دی چې ټولو توکو ته ارزښت ور په برخه کوي.

## مجسم او مجرد کار

څرنګه چې وړاندې وویل شول؛ په جامو کې د نجار یا کان کېدونکي کار نه شي موجودېدای، له دې سره چې په ټولو توکو کې د انسان کار نغښتی دی؛ په

هر توکي کې د متخصص کار موجود وي، چې د نورو له کارونو سره توپیر لري. مثلاً د نجار کار دخیاط له کار سره توپیر لري، په جامې کې دخیاط په کار کې د انجینر په میز کې د نجار او په بوټانو کې د بوټ جوړونکي کار موجود دی. دا متخصصان هر یو له خپل کار سره یو مشخص مصرفي ارزښت تولیدوي. مثلاً سکاره مصرفي ارزښت لري چې له هغه څخه دکوټې تودولو لپاره کار اخیستل کېږي، یا جامې مصرفي ارزښت لري چې اغوستل کېږي، بوټ جوړونکی بوټان جوړوي، خیاط جامې جوړوي او کان کیندونکی سکاره تولیدوي. دې ته مشخص یا مجسم کار ویل کېږي او مشخص مصرفي ارزښت لري.

مثلاً د بوټ جوړونکي کار د بوټانو جوړول یا د خیاط کار د جامو جوړول او داسې نور...

هر کار چې د توکو د تولید لپاره ترسره کېږي؛ په عین حال کې مجرد هم دی. ځکه د پلورلو لپاره تولید شوی او له همدې کبله ارزښت لري او مشخص یا مجسم هم دی ځکه چې د مشخص مصرفي ارزښت لپاره کارېږي.

مثلاً وایي، چې ثمر کار وکړ او له خپل کار سره یې شیان تولید کړل، تر دې ځایه موږ ته روښانه ده، چې ثمر کار وکړ او نه پوهېږو چې په خپل کار یې څه ډول توکي تولید کړه. یانې تر دې ځایه نه پوهېږو، چې ثمر په څه شي کې تخصص لري؟ په هغه څه چې پوهېږو دا دي چې هغه یو څه تولید کړي، چې هغه مبادله کوي یا یې پلوري. په لومړي پړاو کې ثمر یو ډول ارزښت رامنځته کړی، نو په لومړي پړاو کې د ثمر کار یو مجرد کار دی، خو که وویل شي چې

ثمر خیاط دی؛ نو موږ ته دا جوتېږي چې هغه جامې تولیدوي. دلته موږ په دې هم پوهېږو چې ثمر سربېره پر دې چې ارزښت یې را منځته کړی؛ د هغه تر څنګ یې یو مشخص مصرفي ارزښت هم تولید کړی، چې جامې نومېږي. یانې د ثمر کار مشخص یا مجرد هم ګڼل کېږي. په دې سره د ثمر کار سربېره پر دې چې مجرد هم دی؛ تر څنګ یې مجسم یا مشخص هم کار هم ګڼل کېږي.

## د مبادلې او د ارزښت د ډولونو وده

د نورو توکو له لارې د یو شي ارزښت مالومول د ارزښت تر ټولو ساده شکل دی. یانې دارزښت تر ټولو ساده شکل لکه وچې وایو؛ څلور کیلو ګرامه غنم په یو کیلو ګرام وړیو ارزي. په لومړیو اشتراکي ټولنو کې به په ناڅاپي توګه دا ډول مبادلې ترسره کیدې، خو وروسته د مبادلاتو په ودې سره ارزښت هم وده وکړه او هر ډول توکي یو له بل سره د مبادلې وړ نه بلل کېده. بیلګه یې په پورتني ٤ کیلو ګرامه غنم په یو کیلو وړیو باندې د مبادلې دی، خو کېدای شي په نورو توکو لکه له یو کیلو وریجو سره اته کیلو مالګه او یو متر ټوکر او نور مبادله کېږي.

یو کیلو وریجي، اته کیلو مالګه، نیم کیلو وړی، څلور کیلو غنم او یو متر ټوکر یانې ٤ کیلو ګرامه غنم مساوي کېږي؛ له یو کیلو وریجو سره، ٤ کیلو ګرامه غنم مساوي کېږي، له اته کیلو مالګي سره، ٤ کیلو ګرامه غنم مساوي کېږي له نیم کیلو وړیو سره، ٤ کیلو ګرامه غنم مساوي کېږي، له یو متر ټوکره سره. پورته مو

د یو توکي ارزښت د څو توکو په ذریعه سره بیان کړ. دا پړاو د مبادلاتو په تکامل سره د ارزښت د تکامل موندلي بڼې په نوم یادیږي.

د مبادلاتو په لا پرمختګ سره، پورتنی شکل مبادلې ستونزې را منځته کړې، مثلاً ځینې وخت داسې پیښیدل چې یو شخص وریجې لري او غواړي په بوټانو یې بدلي کړي، بل شخص ټوکر لري او غواړي چې په وریجو یې مبادله کړي، هغه څوک چې د وریجو څښتن دی، نو ټوکر ته یې اړتیا نه درلوده، خو د ټوکره خاوند وریجو ته اړتیا درلوده. په همدې سره دلته مبادله له ستونزو سره مخ کېدله، نو ځکه د ټوکر خاوند مجبور وو، چې خپل ټوکر له داسې توکو سره مبادله کړي، چې هغه د نورو توکو په پرتله ډیره مبادله کېدله. که فرض کړو؛ هغه توکي چې د هر بل توکي خاوند یې دې ته چمتو دی چې خپل توکي ورسره مبادله کړي؛ پسه دی، یانې فرض کړئ هر سړی دې ته چمتو دی، چې خپل اسباب له پسه سره مبادله کړي. په دې صورت کې د ټوکر مالک خپل ټوکر له پسه سره مبادله کوي، نو د وریجو مالک ته ورځي. پسه ورکوي او په بدل کې ترې وریجې اخلي. ومو ویل چې د وریجو مالک هم بوټانو ته اړتیا لري، هغه هم پسه په یوه جوړه بوټانو مبادله کوي.

یانې ۵ کیلوګرامه وریجې برابرې دي، له یو پسه سره ۱۰ کیلو ګرامه غنم برابر دي، له یو پسه سره ٦ متره ټوکر برابر دی له یو پسه سره ۱ جوړه بوټان برابر دي، له یو پسه سره. پورته مو د یو توکي ارزښت د څو نورو په وسیله روښانه کړ. د مبادلاتو د تکامل دې پړاو ته د ارزښت عمومي شکل ویل کېږي، که په یاد مو وي په تکامل موندلي ارزښت کې د یو توکي ارزښت د څو نورو په وسیله

روښانه کېږي؛ یانې یو توکی یې له څو نورو سره مبادله کاوه، خو د ارزښت په عمومي شکل کی څرنګه مو چې پورته وویل؛ د یو توکي ارزښت د نورو توکو په وسیله بیانېده، یانې څو توکي به یې له یوه سره مبادله کول، خو دا ډول مبادلات هم په تدریجي ډول له ستونزو سره مخ کېدل. په بیلابیلو سیمو کې د توکو د خاوندانو د خوښي مختلف شیان موجود وه. مثلاً په یو ځای کې به د توکو خاوندان دې ته چمتو وه چې خپل توکي په یو پسه مبادله کړي او په بل ځای کې به یوازې دې ته چمتو وه چې خپل توکي په غنمو مبادله کړي، په یو ځای کې به یې پوستکي پسه او غنم په بل ځای کې وریجي. همدا وه چې په تدریجي ډول قیمتي فلزاتو لکه سره او سپین زر په مبادله کې مهم رول ولوباوه، ځکه هر څوک دې ته چمتو وو، چې خپل تولیدات په سره او سپین زرو مبادله کړي. په همدې ترتیب د ارزښت پولي شکل را منځته شو.

لکه یو چرګ برابر دی، له یو ګرام سرو زرو سره، ۵ کیلو ګرامه وریجي برابرې دي له یو ګرام سره زرو سره، ۱۰ کیلو ګرامه غنم برابر دي له یو ګرام سره زرو سره، ٦ متره ټوکر برابر دی له یو ګرام سرو زرو سره ...

## د ارزښت او بیې (قیمت) ترمنځ توپیر

وړاندې مو وویل چې د هر ډول توکو ارزښت په هغه باندې د مصرف شوي وخت او کار له مخې ټاکل کېږي، یانې د توکو ارزښت په هغو باندې له مصرف شوي وخت او کار څخه عبارت دی.

خو دا باید وګورو چې آیا د توکو بیه هم د هغو له ارزښت سره برابره ده که نه ؟ د دې مطلب د روښانولو لپاره فرض کړئ د یو توکي د تولید لپاره څلورو ساعتونو ته اړتیا ده او که کار په هر ساعت کې شل افغانۍ ارزښت ولري؛ نو هغه توکي چې تولید یې څلور ساعته وخت نیولی، اتیا افغانۍ ارزي، خو کله داسې هم پیښیږي له دې کبله چې د توکو پیرودونکي شمېره کمه او توکي زیات وي؛ نو د هغو توکو بیه له خپل واقعي ارزښت څخه کمېږي. البته هماغه ډول چې وړاندې مو وویل؛ د توکو د بیي لوړوالی او ټیټوالی د توکو او پیرودونکو له شمېر سره تړاو نه لري، خو عرضه او تقاضا کولای شي د توکي بیه لوړه یا ټیټه کړي او بدلون ورکړي.

فرض کړئ په یوه ټولنه کې ۱۰۰۰ کیلو وریجې او ۱۰۰۰ کیلو مالګه موجوده ده او ورسره دې ته هم پاملرنه وکړئ، چې د پیرودونکو شمیر ۲۰۰۰ کسه دی او هر کس یو کیلو مالګه او یو کیلو وریجې وغواړي او که دلته هر کیلو مالګه ۱۰ افغانۍ وي؛ نو له دې کبله چې تقاضا له عرضې څخه زیاته ده؛ هر کیلو مالګه په ۱۵ افغانۍ پلورل کیږي او وریجې هم چې هر کیلو یې ۸۰ افغانۍ ارزښت لري؛ دا چې تقاضا زیاته او عرضه یې کمه وي، نو هر کیلو وریجې په ۱۲۰ افغانۍ پلورل کیږي. په داسې حال کې که د توکو د ارزانۍ او ګرانښت لامل عرضه او تقاضا وای؛ نو وریجې او مالګه چې په یوه اندازه په ټولنه کې موجود دي او دواړه هم په یوه اندازه پیرودونکي لري؛ نو باید بیه یې هم یو ډول وي، خو ګورو چې داسې نه ده.

له پورتنیو مطالبو څخه دا پایله اخلو چې بیه او ارزښت په خپل منځ کې توپیر سره لري. که عرضه او تقاضا یوه وي؛ نو په دې صورت کې به د بیې او ارزښت تر منځ دومره توپیر نه وي، خو که عرضه زیاته او تقاضا کمه او یا برعکس وي؛ نو د توکو بیه به له ارزښت څخه کمه یا زیاته وي. د توکو په تولید کې د اشخاصو تر منځ اړیکې له هغو اړیکو څخه عبارت دي چې دڅیزونو تر منځ موجودې دي. کله چې نجار یو میز جوړوي؛ آیا کولای شي چې د خپلې او کورنۍ د ګېډې مړولو لپاره هغه میزونه وخوري؟ روښانه ده چې نه، نجار هغه میزونه پلوري او په پیسو یې دځان لپاره ډوډۍ، وریجې، سکاره، تېل، بوټان او جامې پېري. نانوایي هم ډوډۍ پخوي او هغه پیسې چې د ډوډۍ له خرڅولو څخه ترلاسه کوي؛ په هغو باندې میز، څوکۍ، غوړي، بوټان او جامې پېري. بوټ جوړونکی هم چې بوټان جوړوي او پلوري یې؛ تر څو وکولای شي په پیسو یې نور د اړتیا وړ شیان وپېري.

ګورو چې د ټولنې د افرادو تر منځ یوه د تولید اړیکه او بله هم همغږي موجوده ده؛ نجار میز، څوکۍ او نور... جوړوي تر څو د نانوای او بوټ جوړونکي اړتیا پوره کړي، نانوای ډودۍ پخوي، تر څو د نجار او بوټ جوړونکي او نورو... اړتیا پوره کړي، بل بوټان جوړوي تر څو د نورو اړتیاوې پوره کړي، نور هم په همدې ډول خپل کارونه پرمخ وړي. د نانوای، نجار او بوټ جوړونکي او نورو تر منځ معیني او مشخصي اړیکې موجودې دي، چې دا اړیکې د مبادلې پر مهال را څرګندیږي. نانوای ډوډۍ پلوري او په مقابل کې یې یو اندازه پیسې لاسته راوړي، بوټ جوړونکی بوټان پلوري او په مقابل کې یې پیسې ترلاسه

کوي او نجار هم په همدې ډول؛ نو په بشپړه توګه روښانه کېږي، چې د توکو په تولید کې د افرادو تر منځ اړیکې د شیانو له اړیکو څخه عبارت دي، یانې د اشخاصو تر منځ د تولید اړیکې په ګرځنده ډول له نانوای سره د بوټ جوړونکي او برعکس او نورې مالومېږي.

## د توکو د تولید تضادونه

وړاندې مو وویل چې توکي ټول هغه محصولات دي، چې د پلورلو (مبادلې) لپاره تولیدېږي، په همدې سره که چېرې څوک یو شی تولید کړي او په خپله یې مصرف کړي؛ نو دې شخص توکي نه دي تولید کړي، هغه تولیدونکی چې د شخصي مصرف لپاره توکي تولیدوي له ټولنې سره هیڅ ډول اړیکې نه لري.

خو هغه څوک چې تولید کوي؛ له ټولنې سره اړیکې لري، ځکه لومړی د ټولنې یوه اړتیا پوره کوي او دویم دا چې دا کار په ټولنه کې د شته کارونو یوه برخه ده؛ له همدې کبله هر تولیدونکی بې شمېره نورو تولیدونکو ته اړتیا لري او مجبور دی چې له هغوی سره په اړیکه کې وي.

نو د توکو د تولیدونکي کار یو ټولنیز کار ګڼل کېږي، ځکه هغه په تولید کې له نورو په سلګونو تولیدونکو سره تړلی له بل پلوه دا چې د توکو په تولید کې د تولید په وسایلو خصوصي مالکیت نشته، نو تولیدونکی په خپلواک او جلا ډول د توکو په تولید لاس پورې کوي. هیڅوک خپل کار د ټولنې له اړتیا سره سم نه منطبقوي، په همدې ترتیب د تولیدونکي کار چې ټولنیزه ځانګړتیا لري؛

د خصوصي کار په شکل ترسره کېږي او علت یې هم دا دی چې د تولیدونکو ترمنځ همغږي شتون نه لري.

له همدې کبله د توکو په تولید کې د کارکوونکو کار ساده او دوه ګونی خصلت لري؛ یانې له یوه لوري یې کار ټولنیز وي او له بل پلوه خصوصي وي، د ټولنیز او خصوصي کار ترمنځ تضاد موجود دی او دا تضاد هغه وخت را څرګندېږي چې تولیدونکي خپل توکي بازار ته یوسي. کله چې تولیدونکي خپل توکي بازار ته وړي ځیني یې په آسانۍ او له کړاوه پرته پلوري او کېدای شي ځیني یې په پلورلو بریالي نه شي. د ځینو تولیدونکو د توکو نه خرڅېدل بې علته نه دي. امکان لري چې تولیدونکی په خپل شته توکو د پلورلو پر مهال له لوړې بیې څخه کار اخیستی وي او یا هم کېدای شي، مال له خپلې اندازې زیات تولید شوی وي او د پېرودونکو شمېره یې ټیټه وي.

په هر حال، هغه څه چې د ټولنې ګټه پکې نه وي نغښتې او ګران بیه توکي چې په درد ورته نه خوري، خلګ نه پیري. له همدې کبله قیمته توکي له پېرودونکو پرته د مالک په لاس کې پاتې کېږي، له همدې کبله د توکو تولیدونکی خپلې خصوصي ګټې له ټولنیزو ګټو سره په تضاد کېویني او د همدې کار په پایله کې د ټولنیز او خصوصي کار تر منځ تضاد راڅرګندیږي.

## د توکو فیټیشیزم (پیروي)

په پخوانیو وختونو کې انسانانو د اور، لمر، سپوږمۍ او ځینو نورو حیواناتو په ځانګړې توګه د غوا عبادت کاوه. هغوی په دې عقیده درلوده، چې لمر،

سپوږمۍ او غوا کولی شي، لوی - لوی او په زړه پورې کارونه تر سره کړي او په انسان باندې مسلط دي. په پانګوالي کې هم داسې ښکاري چې توکي عجیب او په زړه پورې ځواک لري او په انسان باندې برلاسي او مسلط دي ځکه د توکو په تولید کې د افرادو او توکو ترمنځ اړیکي جوتېږي. په همدې ترتیب بوټ جوړونکی ډوډۍ ته اړتیا لري او برعکس، نانوای ډوډۍ پخوي چې د بوټ جوړونکي او نورو اړتیاوې پوره کوي او بوټ جوړونکی هم د نانوایي په څیر د نورو اړتیاوي بشپړوي. همدا ده چې د مبادلې له کبله د نانوای او بوټ جوړونکي ترمنځ ټولنیزې اړیکي څرګندېږي، یاني یوازې د توکو د اړیکو له لارې د بوټ جوړونکي او نانوای ترمنځ ټولنیزې اړیکې ټینګیږي.

وړاندې مو وویل چې د توکو په ساده تولید کې چې تولیدي وسایل په خصوصي مالکیت کې نه وي؛ تولیدونکي په جلا ډول په تولید لاس پورې کوي او همدا ډول دا تولیدونکي د ټولنې لپاره هم تولید کوي، نو له دې سره د دوی کار له یو لوري ټولنیز دی، ځکه هغوی د ټولنې لپاره تولید کوي. د کار سربېره د ټولو هغو کارونو یوه برخه ده، چې په ټولنه کې موجود دي او له بله لوري یې کار په خصوصي ډول تر سره کېږي. دا چې په تولیدي وسایلو خصوصي مالکیت حاکم دی او تولیدونکی یو له بل څخه جلا تولید کوي؛ دلته د ټولنیز او خصوصي کار ترمنځ هغه وخت تضاد راڅرګندېږي چې کله تولیدونکي وغواړي خپل توکي وپلوري او په همدې ترتیب هغوی چې د خپلو توکو په پلورلو بریالي کېږي؛ شتمن او هغوی چې په دې کار نه توانېږي بېوزله او بیچاره پاتې کېږي. له همدې ځایه ده چې د توکو د مالک په سترګو کې

توکي عجبه او په زړه پورې ځلا کوي. هغه څه چې تولیدونکی په فقر او بیوزلي اخته او هم یې شتمن خوښ کړي؛ د تولیدونکي په اند د توکو طبیعي ځانګړتیا او خصلت دی.

د دوی په اند څرنګه چې رنګ او وزن د شیانو طبیعي خصلت دی؛ عجیب قدرت او په انسان باندې د توکو تسلط هم د هغوی طبیعي ځانګړتیا ده، البته دا پدیده چې په تولید کې توکي پر انسان مسلط او حاکم دي؛ یو واقعیت دی، خو دا چې توکي پر انسان حاکم او مسلط دي او دا یې طبیعي خصلت دی؛ دا بې مانا او بېځایه ده، ځکه تر هغه وخته چې په تولیدي وسایلو خصوصي مالکیت موجود وي؛ تولیدونکي له هر ډول برنامې (تګلارې) پرته توکي تولیدوي د تولیدي وسایلو مالکان یوازې د خپلو خصوصي ګټو فکر کوي او په هیڅ ډول د ټولنې ګټې په پام کې نه نیسي، همدا ده چې هغوی توکي په خپل ځان حاکموي.

په سوسیالیستي ټولنو کې چې تولید دیوې منظمې تګلارې او برنامې له مخې کیږي؛ انسان په توکو باندې حاکم او مسلط وي. په همدې سره ګورو چې پر انسان باندې د توکو تسلط یو طبیعي خصلت نه دی.

## پیسې څنګه را منځته شوې؟

پیسې د توکو د مبادلې څخه تر لاسه کیږي، په تېر کې مو وویل چې د ارزښت ابتدایي بڼه د نورو توکو په وسیله د یو توکي د ارزښت بیانول دي. یانې د ارزښت تر ټولو ساده شکل دا وو، چې مثلاً ووایي چې یوه مړۍ ډوډۍ په دوه

متره رسۍ ارزي، یانې یوه مړۍ ډوډۍ مساوي ده له دوه متره رسۍ سره. په دې جمله کې د یو توکي ارزښت د نورو په مرسته بیان شوی دی. د مبادلاتو په ودې سره د ارزښت د ابتدایي شکل ځای پرمختللي شکل ونیو، په دې پړاو کې د نوور مبادلو له تکامل څخه له وړاندې لا یو توکي یوازې له یو بل سره نه مبادله کېده، بلکې یو توکی به له ډېرو نورو سره مبادله کېده. په دې مانا چې د یو توکي ارزښت په نور څو توکو کې بیان شوی، خو بیا مبادلو وده وکړه او په دې سره د ارزښت د پرمختللي شکل ځای عمومي ارزښت ونیو. په دې مرحله کې د مبادلاتو وده د وړاندیني د پړاو برعکس چې د یو توکي ارزښت به په څو نورو کې بیانېده؛ دلته د څو توکو ارزښت په یو توکي کې بیانېږي. په دې مانا چې توکي له یو بل سره مبادله کېږي، وروسته سره او سپین زرو د هغو توکو ځای ونیو چې ټول دېته چمتو کړای شوي وو، تر څو خپل اسباب ورسره مبادله کړي او په همدې ترتیب پولي ارزښت را منځته شو او په پایله کې د پیسو سکو هم د مبادلاتو په اسانتیا کې مهم رول ولوباوه.

اوس د دې لپاره چې دا موضوع ساده شي د مبادلا تو وده او د پیسو د پیدایښت څرنګوالي په لاندې ډول بیانوو.

## د ارزښت ساده شکل (بڼه)

د توکي ارزښت په نورو هغو کې بیانېږي، یانې یو توکی له نورو هغو سره برابر دی. مثلاً ٤ کیلو ګرامه غنم = یوکیلو ګرام وریجي، ٤ کیلو ګرامه غنم= ٨ کیلو ګرامه مالګه، ۴ کیلو غنم = نیم کیلوګرام وړی ، ٤ کیلو ګرامه غنم = یو متر ټوکر....

## د ارزښت عمومي شکل (بڼه)

دڅو توکو ارزښت په یو هغه کې بیانیږي، یانې څو توکي له یوه سره د مبادلې وړ دي، مثلاً ۱۰ کیلو غنم = یوپسه، ٦ متره ټوکر = یوپسه، ٦ متره ټوکر = یوپسه یو جوړه بوټان مساوي له یو پسه سره دی....

## د ارزښت پولي شکل (بڼه)

د څو بیلا بیلو توکو ارزښت د قیمتي فلزاتو له مخې بیانیږي، یانې مختلف توکي له قیمتي فلزاتو سره مبادله کیږي. مثلاً ۵ کیلو وریجي =یو گرام سره زر، ۱۰ کیلو غنم = یوگرام سره زر، ٦ متره ټوکر = یوگرام سره زر، یوه جوړه بوټان =یو گرام سره زر، یو پسه = یو گرام سره زر ...

وړاندې تر دې چې سپین او سره زر د پیسو په شکل را منځته شي؛ په خپله هم توکي گڼل کېدل. فرض کړئ چې په یو گرام سرو زرو کې په هماغه اندازه کار نغښتی وي، لکه په زر کیلو گرامه اوسپنه کې چې دی؛ په دې صورت کې دیو گرام سرو زرو او زر کیلو اوسپنې ارزښت سره برابر دی. کولای شو یو گرام سره زر په جیب کې کېږدو او په پوره راحتۍ سره یې له یو ځای څخه بل ځای ته ولېږدوو، خو زر کیلو اوسپنه بیا په داسې آسانۍ سره نشو لیږدولی.

سره او سپین زر تر ډېر ځنډ  وروسته خرابیږي، لږه اندازه سره او سپن زره له ډېرو نورو توکوسره برابر دي. د دې لپاره چې تولید یې زیات وخت نیوه؛ نو وزن یې کم او ارزښت یې لوړ دی او لېږد را لېږد یې اسانه دی. پر دې سربېره کولای شو، له دې پرته چې ارزښت یې راټیټ شي؛ په کوچنیو برخو یې وویشو.

دا ځانګړتیاوي وې چې انسانان یې اړ ایستل په سرو او سپینو زرو باندي مبادله وکړي.

## د پیسو ګټې

### ۱ - پیسې د ارزښت اندازه کولو وسیله ګڼل کېږي

کله چې په یوه اندازه پیسو یو شمېر توکي پېرو؛ نو دا اندازه پیسې د دې توکو د ارزښت اندازه بیانوي. د پیسو تر ټولو مهمه دنده د توکو د ارزښت بیانول دي. د توکو ارزښت د یوه اندازه پیسو په وسیله ښودل کېږي او د بیې یا قیمت په نوم یادېږي. وړاندې مو وویل چې بیه او ارزښت یو له بل سره توپیر لري: ارزښت په متوسط ډول هغه اندازه کار دی چې د توکو د تولید لپاره لازم دی، خو امکان لري چې قیمت د توکو له ارزښت سره منطبق ونه اوسي. یانې کېدای شي، د یو توکي بیه د هغه له ارزښت څخه لوړه یا ټیټه وي. دغه راز دا مو هم وویل چې دا په عرضه او تقاضا پورې تړاو لري. تر دې چې امکان لري چې ځیني توکي ارزښت ونه لري، خو بیه ولري مثلاً: یو کس په پام کې ونیسئ چې په خپله پانګوال نه دی، خو د پانګوالو د ګټو ساتلو لپاره هر کار ته چمتو دی. هغه د دې خدمت په بدل کې چې تر سره کوي یې؛ له پانګوالو پیسې ترلاسه کوي. په واقعیت کې هغه خپل شرافت او عزت په پانګوالو پلوري، خو آیا وجدان او شرافت توکي دي؟

نه، ځکه توکي هغه څه دي چې د مبادلې لپاره تولیدیږي، یانې ارزښت ولري او ارزښت هم هغه اندازه کار دی چې په متوسط ډول د توکو د تولید لپاره لازم دی.

## ۲- پیسې د لېږد را لېږد وسیله ده

کله چې د دوه کسانو تر منځ راکړه ورکړه کېږي، نو توکي د پلورونکي څخه د پېرودونکي لاس ته ځي او برعکس پیسې د پېرودونکي څخه د پلورونکي لاس ته ځي. په دې ځای کې پیسې د توکو د لیږد د وسیلې په توګه عمل تر سره کوي او دا د پیسو یوه دنده ده. خامخا به مو تر اوسه لیدلي وي چې ماشومان په خپلو لوبو کې د پلورونکي او پېرودونکو رول لوبوي. په داسې لوبو کې یو ماشوم پلورونکی او بل پېرودونکی وي. پېرودونکی پلورونکي ته خیالي پیسې ورکوي او خیالي توکي ترې پېري، خو هغه څه چې روښانه دي هغه د توکو په لېږد را لېږد کې د نغدو پیسو الزامیت دی. ماشومان نه شي کولی تر څو په خپلو خیالي پیسو لږ. خواړه هم وپېري. کله چې یوکس چاته یو څه ورکوي او په مقابل کې یې پیسې ترلاسه کوي، نو دی په دې هوډ نه وي، چې دا پیسې د تل لپاره په خپل جیب کې وساتي، بلکې موخه یې دا وي چې په دې پیسو باندې یو بل څه وپېري. د پیسو په پیدایښت سره د توکو نړی په دوو برخو وویشل شوه؛ یو لور ته توکي او بل لور ته پیسې، کله چې مبادله په بارټر ( هغه مبادله یو څوک خپل توکي له بل توکي سره بدل کړي) ډول ترسره کېدله؛ دوه کسه چې خپل توکي به یې یو له بل سره مبادله کول؛ دواړو به په یو وخت او مستقیم ډول هم پېرل کول او هم پلورل، خو کله چې پیسې د لېږد رالېږد د وسیلې په

توگه وکارول شوې؛ هغه څوک چې خپل توکي به یې پلورل، نو کولای یې شول چې تر هر وخته یې زېرمه وغواړي؛ ترلاسه شوې پیسې په خپل جیب کې وساتي او دا هم روښانه ده که اشخاص ډېر پلورل وکړي او په پېرلو کې علاقه ونه ښیي، نو د توکو لېږد رالیږد به سخت او تر دې چې ناممکن به شي او له دې سره به کړکیچ (بحران) را منځته شي ( بحران به په راتلونکو برخو کې په مفصل ډول وڅېړل شي).

## ۳ - پیسې د شتمنۍ ترلاسه کولو وسیله ده

ځیني افراد د خپلو جېبونو له ډکولو او پیسو را ټولو سره مینه لري. البته دغه مینه له هغه ځایه سرچینه اخلي په کوم ځای کې چې غواړي پیسې د خپلې خوښې په توکو بدلې کړي، خو توکي په آسانۍ سره په پیسو نشو بدلولای. دغه افراد له ډېر پیسو څخه خوند اخلي او په واقعیت کې پیسې د پیسو لپاره را ټولوي. ګڼ شمېر افراد د دې لپاره پیسې را ټولوي او ساتي چې د خپلې اړتیا وړ توکي وربانديې وپیري.

پانګوال هم پیسې را ټولوي او پوره روښانه ده چې هغوی د ساتلو لپاره پیسې په جېب کې نه ساتي، بلکې غواړي د هغه په وسیله خپلو کارخانو ته پراختیا ورکړي.

## ۴- پیسې د سپارلو ( تادیې ) یوه وسیله ګڼل کېږي

پلورونکی تل خپل توکي په نغدو پیسو نه خرڅوي، بلکې کله هم پېرودونکي هغه په پور اخلي. په دې ډول معاملو کې پلورونکی غوښتونکی او پېرودونکی

مدیون (پوروړی) گرځي او له یوې مودې وروسته باید خپل پور ادا کړي. کله چې پېرودونکي له پلورونکي څخه توکي په پور اخلي، نو پلورونکی خپل توکي د لاسه ورکوي، پرته له دې چې پیسې په لاس راوړي او برعکس کله چې د پور ورکولو موده پای ته رسېږي، نو به پیرودونکی پلورونکي ته خپلې پیسې ورکوي؛ پرته له دې چې توکي تر لاسه کړي. ځکه هغه خپل توکي وړاندې ترلاسه کړي. د مال په ورکړه کې هم پیسې د سپارلو (تادیې) په وسیله کارول کېږي.

## ۵- نړیوالې پیسې:

د مختلفو هیوادونو په معاملو کې سره زر چې نړیوالې پیسې دي؛ د راکړې ورکړې د وسیلي په توگه کارول کېږي، مثلاً که چیرې یو هیواد بل ته د یو میلیون افغانیو په اندازه توکي ورکړي او بل هیواد هم د یو میلیون او پینځه سوه زره افغانیو په اندازه توکي هماغه هېواد ته صادر کړي، نو له لومړني هېواد څخه د پینځه سوه زرو افغانیو غوښتونکی کېږي، چې لومړنی هېواد یې باید د سروزرو د چوکاټونو یا نورو شکلونو سره هغوی ته وسپاري.

## ٦- کاغذي پیسې

کاغذي پیسې د سرو زرو استازي دي. د کاغذي پیسو اندازه چې خپرېږي؛ باید د سره زرو په اندازه وي چې د توکو د لېږد رالېږد لپاره هم ضروري دي. فرض کړئ، په نورو هېوادونو کې د توکو لېږد رالیږد لپاره سل زره د سره زرو سکو ته اړتیا ده او دولت باید پینځه سوه زره پیسې چاپ او په جریان کې واچوي. په

دې ځای کې د پينځه افغانيو هر نوټ د سرو زرو له يوې سکې سره برابر دی، يانې هر پينځه گون د سره زرو د يوې سکې په اندازه پير لري. د بېلگي په ډول، که په يوې سکې سره کولای شو، يو کيلو وريجي و پيرو، نو دافغانيو په يو پينځه گون سره هم کولی شو يوه کيلو وريجي و پيرو.

خو که چېرې دولت د پينځه سوه افغانيو پرځای يو میلیون افغانی چاپ کړي؛ نو دلته به د افغانيو هر لسگون د سرو زرو له يوې سکې سره برابرې شي. مثلاً که د سرو زرو په يوې سکې باندې يو کيلو وريجې اخيستلی شو، نو په لس افغانيو هم يوه کيلو وريجې اخيستلای شو. که چېرې دولت د سره زرو له هغې لازمې اندازې څخه چې د توکو د مبادلې لپاره لازم دي؛ زياتې پيسې خپرې يا چاپ کړي نو ورسره د پيسو ارزښت را ټيټيږي او د توکو بيه لوړيږي. لکه وړاندې چې مو په پينځه افغانيو يو کيلو وريجې واخيستلې. اوس چې د پيسو اندازه دوه برابره زياته شوې؛ نو هماغه يو کيلو وريجې په لس افغانۍ اخلو.

د توکو د بيې د لوړ والي په صورت کې د پيسو زياتېدل او د هغوی د ارزښت ټيټېدو ته انفلاسيون (پاړسوب) وايي. انفلاسيون (پاړسوب) د نورو په پرتله په کارکوونکو او کارمندانو زيات فشار واردوي، ځکه د توکو بيه په چټکۍ سره لوړيږي، په داسي حال کې چې کارگران او کارمندان د هماغو پخوانيو حقوقو څخه کم يا زيات ترلاسه کوي.

## د ارزښت قانون

په سرمایه داري ټولنو کې تولیدونکي د خپل تولید لپاره هیڅ ډول منظمې تګلارې نه لري. کله چې تولیدونکي ګوري چې په بازار کې د دوی توکي د خلکو د خوښې وړ او په لوړه بیه پلورل کېږي؛ نو هماغه توکي بیا په ډېره اندازه تولیدوي، خو کله چې خپل توکي بازار ته واردوي او ډېر تعجب سره ګوري، توکي یې هیڅ پېرودونکي نه لري او یا یې هم په ټیټه بیه اخلي؛ لامل یې څه دی؟

لامل یې دا دی چې هغه توکي زیات او د پېرودونکو شمېره یې ټیټه ده او یا هم احتمالاً تولیدونکي یوه اندازه توکي ورته تولید کړي او په پایله کې عرضه زیاته او تقاضا کمېږي له همدې کبله یې بیه له ارزښت څخه ټیټه وي.

په دې ځای کې تولیدونکي د دې توکو له تولید څخه لاس اخلي او د نورو توکو په تولید لاس پورې کوي، نو په پایله کې مخکیني توکي بیا په بازار کې کمیږي او په نوي ډول یې بیه له ارزښت څخه لوړېږي.

مثلاً فرض کړئ په ټولنه کې بوټان کم او اخیستونکي یې زیات دي، له همدې کبله یې بیه د واقعي ارزښت څخه لوړه ده. دلته به تولیدونکي د بوټانو په زیات تولید باندې لاس پورې کړي. په پایله کې به په ټولنه کې د بوټانو اندازه زیاته شي، په داسې حال کې چې اخیستونکي یې ورځ تر بلې کمیږي. په همدې سره د بوټانو ارزښت د هغو له بیې څخه کمیږي.

د بوټانو د بيې د ټيټوالي په تعقيب سره ځيني توليدونکي د بوټانو له توليد څخه لاس په سر کېږي او د نورو توکو په توليد لاس پورې کوي، چې دا په خپله د دې لامل گرځي چې په بازار کې د بوټانو کچه را ټيټه او بيه يې بيا ځلي لوړه شي. د هر توکي ارزښت د هغه په توليد باندي د مصرف شوي کار له مخې ټاکل کېږي، خو د هر توکي بيه کېداي شي د هغه له ارزښت څخه لوړه يا ټيټه شي.

کله چې پر توليد باندي گډوډي حاکمه وي، نو د ارزښت قانون توليد تنظيموي. د ارزښت قانون د توکو اقتصادي قانون دی چې د دې قانون له مخې څو توکي کولای شي يو له بل سره مبادله شي چې د ټولو د توليد لپاره يوه اندازه کار لازم وي، يانې د ارزښت دقانون سره سم د توکو دمبادلې او توليد بنسټ هغه اندازه لازمي کار دی چې په توليد باندي لگول شوی دی، همدا ډول د همدې قانون له مخې د هر توکي بيه د هغه له ارزښت څخه لوړه يا ټيټېږي.

# دریم څپرکی

# پانګه او اضافي ارزښت

## د پانګې ابتدایي راټولونه

د پانګوالي نظام د پیدایښت لپاره دوه اساسي شرطونه ضروري دي؛ اول د خلکو د داسې ټولګي را منځته کېدل چې په ښکاره ډول خپلواکه خو له هیڅ ډول تولیدي وسایلو څخه برخمنه نه وي، دا افراد د خپلې کورنۍ دګېډې مړولو لپاره مجبور دي ترڅو خپل ځواک وپلوري.

دوهم د ځینو افرادو لاسونو ته د یو شمېر زیاتو تولیدي وسایلو او پیسو راتلل. کله چې د ټوکر اوبدلو صنعت پر مختګ وکړ او د وړیو تقاضا زیاته شوه؛ په انګلستان کې چې لومړنی پانګوالي هیواد وو؛ بزګران په ډېره بې رحمانه توګه له خپلو ځمکو او کورونو څخه وویستل شول. مالکانو د بزګرانو ځمکې د پسونو د څرېدو په ځایونو بدلې کړې او په دې ترتیب یې د پسونو په ساتنه او پالنه پیل وکړ، تر څو له وړیو څخه یې زیاته ګټه پورته کړي. هغوی نه یوازې د بزګرانو ځمکې ونیولې بلکې د کلیساګانو او دولتي ځمکو خاوندان هم شول.

ګڼ شمېر هغه وګړي چې له کورونو او ځمکو څخه ایستل شوي وو؛ د غلو او کوڅه ډبو انسانانو په څېر ګرځېدل. له همدې پلوه د پینځلسمې پیړۍ په پای کې دولت داسې قوانین وضع کړه چې کوڅه ډب به یې لومړی له دې قوانینو سره سم دومره په څپېړو واهه چې له بدن څخه به یې وینې راغلې او د دویم

ځل لپاره به یې ترې نیم غوږ پرې کړ او که د دریم ځل لپاره به یې نیوه؛ نو بیا به یې په دار ځړاوه. د همدې بې رحمانه قوانینو سره سم د شپاړلسمې پیړۍ په پیل کې ۱۲۰۰۰ کوڅه ډب انسانان په دار وځړول شوه. دې ظالمانه قوانینو ته په کتو سره ګڼ شمېر افراد چې د تولید لپاره یې وسیلې نه درلودې؛ له دې پرته ورته بل څه نه وو، پاته چې د خپلې ګېډې لپاره خپل ځواک یا مټ وپلوري. په همدې سره د ورځیني مزد کارګرانو لوی لښکر را منځته او د پانګوالو په ولکه کې پرېوت.

دا د پانګوالي د پیدایښت یو لامل وو، خو د پانګوالي لپاره بل لازم شرط دا وو، چې زیات تولیدي وسایل باید د کمو افرادو لاس ته ورشي. د امریکا په کشف سره ځینې سود غوښتونکي هلته لاړل او د هغه ځای د خلکو د شتمنیو په لوټولو او ټول وژنو سره یې زیاتې شتمنۍ ترلاسه کړې او د سرو او سپینو زرو د کانونو په استخراج سره یې شتمنۍ نورې هم زیاتې شوې.

له هغو هېوادونو سره چې مستعمرې او وروسته پاتې وو؛ تجارت کول هم د شتمنۍ ترلاسه کولو ښه وسیله وه ځکه په مستعمرو او وروسته پاتې هېوادونو کې د محصولاتو بیه ډېره ټیټه وه او له دې لارې هغو شرکتونو چې د دولت په ملاتړ یې د وروسته پاتې او مستعمره هیوادونو د توکو تجارت په خپل انحصار کې راوړی وو؛ ډېرو به یې ګټې په خپلو جېبونو کې پټولې.

## په پانگې د پیسو بدلول

وړاندې تر دې چې پیسې په ټولنه کې مهمه ونډه واخلي؛ مبادله به د توکو په ډول ترسره کېدله. دا کار په دې شکل وو، کوم کس چې به غنم درلودل او په خپله یې سکارو ته اړتیا وه؛ یوه اندازه غنم به یې د سکارو مالک ته چې اړتیا به یې ورته درلوده؛ ورکول او یوه اندازه سکاره به یې ترې اخیستل. وروسته له دې چې مبادلو وده وکړه، نو دا اړینه نه وه چې یو کس مثلاً غنم به یې درلودل او په خپله یې سکارو ته اړتیا درلوده؛ نور په هغه چا پسې وگرځي چې سکاره لري او هم غنمو ته اړتیا ولري. دلته هغه چا به چې توکي لرل هغه به یې خرڅول او په پیسو باندې به یې هغه څه پېرل چې اړتیا یې ورته درلوده. دې ډول مبادلې ته توکي د پیسو او پیسې د توکو په مقابل کې وایي چې له پانگوالۍ وړاندې موجود وه.

پیسې د توکو او توکي د پیسو په مقابل کې کولای شو په لاندې فورمول کې وښیو، توکي - پیسې - توکي

دلته لازمه ده چې دا روښانه شي چې د لومړنیو او وروستیو توکو ارزښت توپیر سره کوي، ځکه د دواړو توکو د تولید لپاره یو ډول کار او وخت لگول شوی دی، تر څو مالکان یې د مبادلې لپاره چمتو شي.

د بېلگې په توگه، یوکس ۱۰۰ متره ټوکر لري او دا کس غنمو ته اړتیا لري، په همدې سره خپل ټول ټوکر په ۵۰۰ افغانیو پلوري او په پیسو یې ۲۰۰ کیلو گرامه غنم پېري.

۱۰۰ متره ټوکر =۵۰۰ افغانۍ

۲۰۰ کیلو گرامه غنم = ۵۰۰ افغانۍ

۱۰۰ متره ټوکر = ۲۰۰ کیلو گرامه غنم

څرنگه مو چې وړاندې وویل؛ ۱۰۰ متره ټوکر په ۲۰۰ کیلو گرامه غنمو باندي مبادله شوه، په واقعیت کې په دواړو باندې یو ډول او برابر کار ترسره شوی. له همدې پلوه دا دوه توکي د ارزښت له پلوه سره برابر دي، خو دا په بشپړه توگه روښانه ده چې مصرف د ارزښت له پلوه مختلف دی، ځکه له توکو څخه یو غنم او بل ټوکر دي. کله چې د توکو لېږد را لېږد د توکي- پیسې - توکي په شکل ترسره شي؛ نو هغه شخص به چې توکي درلودل؛ په لومړیو کې به یې توکي پیسو ته نږدې کول او وروسته به یې بېرته پیسې په توکو بدلولې.

خو دا ډول لیږد را لیږد په پیسو - توکو - پیسو باندې بدلیږي دلته چې پانگوال په پیسو سره توکي تولید کړه؛ بیا توکي پلوري او بیرته یې په پیسو بدلوي. هغه څه چې دلته مهم دي گورو چې لومړنۍ پیسې له وروستیو سره څه توپیر لري؟ په بشپړه توگه سره روښانه ده چې دویمي پیسې له لومړیو څخه غټې (ډېرې) دي، ځکه د پانگوال وروستی هدف د زیاتو پیسو لاسته راوړل دي، خو که لومړنۍ پیسې له دویمي سره برابري شي؛ نو د هغه لپاره به هیڅ ډول گټه ونلري او و به نشي کولای چې خپلې پیسې په کار واچوي. له همدې کبله په لاندني فورمول کې وروستۍ پیسې برابرې دي له لومړنیو پیسو سره د اضافي پیسو د اندازې له زیاتوالي سره.

وروستۍ پیسې او لمړنۍ پیسې + د اضافي پیسو اندازه

دا اضافي پیسې د اضافي ارزښت په نوم یادېږي، د وروستیو پیسو او لومړنیو پیسو اضافي ارزښت او پورتنیو ټولو مطالبو ته په کتو سره کولای شو اوس پانګه په لاندې ډول تعریف کړو، **پانګه هغه پیسې دي چې له ځان سره اضافي ارزښت راوړي.**

خو دا اضافي ارزښت څه ډول را منځته کېږي؟ پیسې خو په خپل سر اضافي ارزښت له ځان سره نه راوړي، پانګوال په توکو باندې د پیسو بدلولو په موخه بازار ته ځي، اومه مواد او د سون توکي پېري او خپلې کارخانې ته یې وړي، اوس باید دا په توکو بدل شي ترڅو وکولای شي دا توکي بېرته وپلوري، خو دغه اومه مواد باید څه ډول په توکو بدل شي؟ پانګوال باید یو بل ډول توکی هم وپېري، چې دا اومه توکي د کارخانې له لارې د خپلې خوښې وړ په موادو باندې تبدیل کړي، هغه توکي کوم دي؟

هغه توکي چې سرمایه دار یې باید وپېري او نور توکي ورته تولید کړي؛ هغه د کارکوونکو ځواک او انرژي ده. د کارکوونکو ځواک دی چې اضافي ارزښت را منځته کوي، آیا ځواک د یو توکي د کار وسیله ده؟

هو، ځواک د توکو د کار وسیله ده او د دې توکو مالک هغه څوک دی چې په هیڅ ډول یوه وسیله نه لري، چې معاش یا تنخوا ترې واخلي او له همدې پلوه مجبور دي چې د معاش تر لاسه کولو لپاره په پانګوال باندې خپل ځواک

وپلوري. کاري ځواک هم د نورو توکو په څېر مصرفي او مبادلوي ارزښت لري. د هر توکي د مصرف ارزښت د هغه په موثریت کې دی.

مثلاً، د غنمو ارزښت دا دی چې ډوډۍ ترې پخېږي او مصرفیږي؛ نور د یوه توکي ارزښت هم د غنمو په څېر نه دی، د بوټانو د مصرف ارزښت په دې کې دی چې په پښو شي، تر اوسه نه دي لیدل شوي چې چا له بوټانو ډوډۍ پخه کړې او خوړلې وي، یا هم د بوټانو پرځای غنم په پښو کړي. د اوسپنې د مصرف ارزښت په دې کې دی، چې کلنګ او بېلچه او نور اوسپنیز شیان ترې جوړیږي، په همدې سره هر توکی خپل ځانګړی مصرفي ارزښت لري یانې په یوه خوا کې ګټور واقع کېږي. د کار په پایله کې باید کاري ځواک هم خپل ځانګړی مصرفي ارزښت ولري؛ د کاري ځواک د مصرف ارزښت هماغه اضافي ارزښت دی چې را منځته کوي یې، یانې د اضافي ارزښت رامنځته کول؛ د کاري ځواک وړتیا ده او نور توکي دا ډول ځانګړتیا نه لري چې اضافي ارزښت را منځته کړي.

## د اضافي ارزښت تولید

له یو لوري پانګوال اومه مواد او د سون توکي پېري او کارخانې ته یې وړي او له بله پلوه د کارګرانو کاري ځواک پیري، تر څو په وسیله یې له اومو موادو څخه توکي تولید کړي. کله چې پانګوال کاري ځواک پېري، نو په دوی پورې اړه لري او هماغه ډول چې کاري ځواک په دوی پورې اړه لري؛ نو هغه توکي چې کارګران یې تولیدوي هم د دوی ملکیت دی.

پانګوال کارګرانو ته وايي چې څه ډول توکي تولید کړي، څومره يې تولید کړي او وروستی هدف يې هم د اضافي ارزښت تر لاسه کول دي.

خو دغه اضافي ارزښت څه ډول تر لاسه کېږي؟ فرض کړئ یو پانګوال د بوټانو د تولید لپاره ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ پانګونه کوي له دي ۵۰۰۰۰۰ افغانیو څخه ۲۰۰۰۰ افغانۍ د کارخانې مصارف او ۳۸۰۰۰۰ افغانۍ د اومه موادو په پیر او پلورولو لګیږي او ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ د کارګرانو د شپږو میاشتو معاش ورکړل شي.

او بیا فرض کړو چې د هرې جوړې بوټانو بیه له ۱۰۰ افغانیو سره برابره ده او کارګران په دې شپږو میاشتو کې ۵۰۰۰ جوړې بوټان تولیدوي. ښه اوس که پانګوال ۵۰۰۰ جوړې بوټان وپلوري؛ نو بېرته يې هماغه ۵۰۰۰ زره افغانۍ لاسته راځي. دلته پیسې په پانګې نه دي اوښتي، ولې چې اضافي ارزښت يې له ځان سره نه دی راوړی، په پایله کې پانګوال د اضافي ارزښت تر لاسه کولو لپاره مجبور دی، چې په کارګرانو باندې څومره چې پیسې ورکوي؛ له هغه څخه زیات کار وکړي. له همدې پلوه کارګرانو ته د شپږو میاشتو پیسې ورکوي او د شپږو میاشتو د کار په ځای ورباندې د یو کال کار کوي. په همدې سره کله چې کارګران دوه برابره کار وکړي؛ نو د کارخانې اومه مواد او مصارف هم باید دوه برابره شي، یانې کله چې له شپږو میاشتو سره ۲۰ زره افغانۍ د کار خانې مخارج او ۳۸۰ زره افغانۍ په اومه موادو ولګول شي؛ د یو کال لپاره هغه کارګران چې تولید يې دوه برابره کېږي؛ نو د کارخانې مصارف ۲*۲۰=۴۰ زره افغانۍ او اومه مواد ۲*۳۸۰=۷۶۰ زره افغانۍ کېږي. کارګران چې له شپږو

میاشتو کار سره ۳۸۰ زره افغانۍ خام مواد او ۲۰ زره افغانۍ دکارخانې مصارفو په لګښت باندي ۵۰۰۰ جوړې بوټان تولیدوي، نو له یوکال کار سره ۷۶۰ زره افغانۍ خام مواد او ٤۰ زره افغانۍ د کار خانې مصارفو سره به ۱۰۰۰۰ زره جوړې بوټان تولید کړي.

پانګوال د ۱۰۰۰۰ جوړې بوټانو په پلورلو سره ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ لاسته راوړي

خو پوهېږو چې پانګوال ۹۰۰ زره افغانۍ په کار اچولي وه، نو دغه ۱۰۰ زره اضافي افغانۍ له کومه ځایه شوې؟

دغه ۱۰۰ زره اضافي افغانۍ، هغه اضافي ارزښت دی چې کارګرانو شپږ میاشتې له مزد پرته د پانګوال لپاره ترسره کړی دی او دلته پیسې په پانګې بدلېږي، ځکه اضافي ارزښت یې له ځان سره راوړی. اضافي ارزښت چې د کارګرانو له اضافي کار څخه لاسته راځي؛ د پانګوال د شتمنۍ لویه سرچینه ده او پانګوال ورځ په ورځ نور هم شتمنوي.

اوس به پورتنیو مطالبو ته په کتو سره فکر وکړو او لاندینۍ پوښتې به حل کړو.

کارګران چې په کارخانه کې کار کوي ولې خپله کوټه نه رنګوي؟

خوب نه لري، ګرځي نه یانې استراحت نه کوي، ارزان بې کیفیته او لږ خواړه خوري، ارزانه جامې اغوندي، خپلو بچیانو ته د جېب خرڅ پیسې نه ورکوي او یا کمې وي، بیا یې هم تل جیبونه تش وي او په جېب خرچې باندې راکړه - ورکړه کوي؟

ولي پانگوال چې په کارخانه کې یې لاس په جېب کې ایښی وي او په کارگرانو امر کوي؛ کار نه کوي خو بیا یې هم په کور کې په پستو څوکیو باندې ویده کېږي، ننداريتونونو، موسیقۍ اوریدو او خصوصي ښکار ځایونو ته د تفریح او ننداري لپاره ځي. د دې سربېره په کال کې څو ځلي د سیاحت لپاره اروپایي هېوادونو ته سفر کوي، غوره او خوندور خواړه خوري، غوره او خوندور مشروبات څښي، غوره او ارزښتناکې جامې اغوندي، هر ورځ زرگونه افغانۍ خپلو بچیانو ته جېب خرچي ورکوي او تر دې چې د ورځي سلگونه افغانۍ یې په خپل سپي هم لگوي، د میرمنې د سینگار لپاره په زرگونه افغانۍ آرایشگاوو ته ورکوي، بیایې هم بکس یا کڅوړه له پیسو ډکه وي، په داخلي او خارجي بانکونو کې هم په میلیونونو پیسې لري.

هو، د دې پوښتو ځواب هماغه ډول چې تاسو هم پوهېږئ؛ دا اضافي ارزښت دی چې د کارگرانو له اضافي کار څخه رامنځته کېږي او پانگوال ته ډېره گټه په لاس کې ورکوي، خو کارگران چې د پانگوال له خوا استثمارېږي؛ په سختۍ سره کولای شي دخپلې کورنۍ گېډه مړه کړي.

## ثابته او متغیره پانگه

د پانگوال د پانگې هغه برخه، چې د تولید په ماشینونو ، کارخانو، خامو موادو او سون توکو او نورو باندې لگول کېږي؛ ثابته پانگه نومېږي او بله برخه چې کاري ځواک پرې پېرل کېږي متغیره پانگه نومېږي.

## د اضافي ارزښت بیه (قیمت)

د اضافي ارزښت یا استثمار بیه دا څرګندوي، چې د استثمار درجه تر کومې کچې پورې ده؟ کله چې موږ د اضافي ارزښت بیه په لاس راوړو؛ نو پوه به شو چې کارګرانو له ورځني کار څخه څومره د ځان لپاره ترسره کړي او څومره د پانګوال لپاره د اضافي ارزښت بیه په متغیري سرمایې باندې د هغه په ویش سره تر لاسه کیږي؟

۱۰۰ * اضافي ارزښت = د اضافي ارزښت بیه = د استثمار بیه

خو دا چې اضافي ارزښت د کارګرانو له اضافي کار څخه لاسته راځي او متغیره پانګه هم چې د کارګرانو مزد دی او د لازم کار په مقابل کې کارګرانو ته ورکول کیږي؛ کولای شو د اضافي ارزښت بیه پر لازم کار باندې د اضافي کار ویش له مخې په لاس راوړو.

## مطلق او نسبي اضافي ارزښت

که پانګوال د ورځني کار وخت زیات کړي هغه هم په داسې ډول چې مزد ثابت پاتې شي، خو اضافي کار زیات شي د اضافي ارزښت بیه پورته ځي، یانې د استثمار درجه نوره هم سختیږي، مثلاً په پورتني مثال کې ورځنی کار اته ساعته دی چې دغه اندازه یې لسو ته لوړیږي، پرته له دې چې د کارګر مزد زیات شي، یانې کارګر وړاندې اته ساعته کار کاوه چې له اتو څخه یې څلور د ځان او څلور نور د پانګوال لپاره کول.

خو اوس چې ورځنی کار لسو ساعتو ته پورته شوی؛ بیا هم د پخوا په څېر څلور ساعته د ځان لپاره کار کوي. په داسې حال کې چې اوس باید د پانگوال لپاره شپږ ساعته کار وکړي، یانې اوس د پانگوال لپاره دوه ساعته زیات کار کوي او له همدې کبله د اضافي ارزښت بیه لوړیږي. هغه اضافي ارزښت چې د ورځني کار د اوږدوالي په پایله کې ترلاسه کیږي؛ مطلق اضافي ارزښت ورته ویل کیږي. پانگوال د اضافي ارزښت وږی وي، خو نشي کولای څومره یې چې زړه وغواړي؛ هومره د ورځیني کار وخت زیات کړي، ځکه کارگر باید لږ وخت په ډوډی خوړلو ولگوي. سربېره پر دې خوب او آرامتیا ته هم اړتیا لري. همداراز کارگران د ورځني کار د کمولو لپاره تل له پانگوالو سره مبارزه کوي. په دې ترتیب پانگوال گوري چې د ورځني کار زیاتول دومره آسان نه دي، وروسته راځي او د اضافي ارزښت د زیاتولو لپاره نورې لارې ټاکي. هغه په دې ډول چې د کارگرانو د ورځني کار وخت ثابت ساتي، خود لازم کار وخت را کموي.

زموږ په وړاندیني مثال کې ورځني کار اته ساعته وو او کارگرانو له دې اته ساعتونو څخه څلور ساعته د ځان او څلور نور د پانگوال لپاره کار کاوه، اوس پانگوال راځي او د لازم کار وخت راکموي. فرض کړئ د لازم کار وخت چې څلور ساعته وو هغه دریو هغو ته راکم شوی، په پایله کې به اضافي کار یو ساعت زیات شي، یانې اضافي کار چې څلور ساعته وو؛ پنځه ساعتونو ته پورته شو. هغه اضافي ارزښت چې د لازم کار په کموالي او اضافي کار په زیاتوالي سره رامنځته کیږي؛ نسبي اضافي ارزښت نومیږي.

## په صنعت کې د پانګوالۍ وده

د پانګوالي پړاوونه له ساده پانګوالي همکارۍ، منیفکټور پانګوالي او د ماشیني تولید او لوی صنعت پړاوونو څخه عبارت دي.

### ۱ - ساده پانګوالي همکاري

په دې پړاو کې به پانګوال په یو واحد وخت کې شمېر کارګران په یوه کارخانه کې را ټولول او ټول هغه څه چې په یوه څانګه کې به یې اړتیا درلوده او کار به یې ترسره کاوه په کار اچول؛ تر څو کارګران چې په یو وخت کې یو د بل په مرسته کار ترسره کوي او په چټک او په غوره ډول کار وکولای شي او په پایله کې به له وخت څخه زیات شي. همدا څو کارګرانو به یو د بل تر څنګ او په جلا ډول کار وکړ او تولید به یې ترسره کړ.

### ۲- منیفکټور پانګوالي

د پانګوالۍ د ساده همکارۍ په ودې سره په تدریجي ډول په کار خانو کې هم د کار ویش را منځته شو او د لومړي پړاو ځای منیفکټور پانګوالي ونیو. منیفکټور پانګوالي په دوو لارو را منځته شوه؛ لومړۍ لار یې دا وه چې پانګوالو په بیلابیلو څانګو کې متخصصان په کار ونیول، کارګرانو به کار سره کاوه، خو د مخکیني پړاو په څېر یې یو ډول کار نه کاوه، ځکه هر یوه به په یوه څانګه تخصص او وړتیا درلوده. په همدې سره به هر یوه په بیلابیلو څانګو کې یو ځانګړی توکی تولیداوه.

مثلاً، پانګوال د توکو د تولید لپاره نجار، خیاط او آهنګر څخه نیولې تر انځورګر پورې کار کوونکي په کار اچوي، تر څو د ده لپاره دا کار ترسره کړي. دویمه لار دا وه چې پانګوالو به هغه کسبګر چې په یو ځانګه کې به یې وړتیا درلوده؛ په یوه کارخانه کې را ټولول او په هغوی باندې به یې کار کاوه. مثلاً د ستنې جوړونې تولید یې په دې ډول تر سره کېده؛ په تولید کې به یې یو سیم د څو کارګرانو تر لاس لاندې تېر شو، تر څو به چې ستن جوړېدله؛ یوه به سیم ویسته بل به سیم تاووئ او پرېکوئ یې او څلورم به یې څوکه تېره کوله او داسې نور...

پانګوالو به تولیدونکي کارګران په ډېره شدیده او بې رحمانه توګه استثمارول. هغوی له کارګرانو څخه په ورځ کې اتلس ساعته کار اخیست او د دې ټول کار په مقابل کې به یې ډېر لږ مزد ورکاوه.

## د ماشیني تولید او لوی صنعت پړاو

په دې پړاو کې چې د پانګوالي تر ټولو پر مختللی پړاو دی؛ د کار ځایونه په کارخانو بدلیږي، له کارخانو څخه دګټې اخیستې په نتیجه کې تولیدات زیات او د توکو بیې راټیټې شوې.

څکه د کارخانې په وسیله د توکو په تولید باندې ډېر کم وخت مصرفېده او همدا چاره د دې لامل شوه، چې کوچني تولیدونکي له منځه لاړ شي.

د ماشیني تولید په پړاو کې پانګوالو په ښځو او کوچنیانو هم کار کاوه. په پانګوالي نظام کې کار او تولید ټولنیز وي، څو زره کار کوونکي په یوه کارخانه

کې کار کوي، ټول په ډله ایزه توګه تولیدات کوي. هیڅوک نشي کولای چې ووایي دا توکي ما تولید کړی دی.

ځکه د کارخاني یو کارګر په دې نشي توانېدی، چې یو محصول تولید کړي، خو د کارخانې ټول کارګران یو د بل په مرسته په دې توانېږي چې یو توکی تولید کړي. په همدې سره ګورو چې په پانګوالي نظام کې کار ټولنیز خصلت لري. په دې سربېره کارخانې هم د تولید په برخه کې یو په بل پسې تړلي دي. مثلاً د موټر جوړونې کارخانه پولادو ته اړتیا لري، له همدې کبله د پولاد جوړونې په کارخانې پورې تړلې ده او د پولاد جوړوني کارخانه هم د پولادو د تولید لپاره د ډبرو سکارو ته اړتیا لري، نو دوی د ډبرو سکارو له کانونو سره تړلي دي. یانې ټولې کارخانې چې تولیدات کوي یو له بل سره تړلي دي. له همدې کبله وایو چې ټولنیز خصلت لري.

په پانګوالي نظام کې اساسي تضاد د تولید ټولنیزه بڼه، خو د تولید پر وسایلو د خصوصي مالکیت شتون دی.

## کاري مزد (اجوره)

آیا کله چې یو کارګر د خپلې کورنۍ ګیډې مړولو لپاره یو پانګوال ته ځي؛ هغه خپل کاري ځواک پلوري که کار؟

کارګر د خپل کار په مقابل کې مزد یا اجوره ترلاسه کوي، یانې مزد د هغه کار بیه ده، چې کارګر یې ترلاسه کوي. له پورتنۍ جملې څخه داسي اخیسته کولای شو چې کارګر په پانګوال خپل کار پلوري، نه خپل کاري ځواک خو آیا

همداسې ده؟ آیا تاسو کولی شئ هغه څه چې نه لرئ و پلورئ؟ روښانه ده چې نه.

په همدې سره کارګر هم د دې لپاره چې وتوانیږي؛ کار وپلوري، نو هغه باید له وړاندې یو څه ولري. په داسې حال کې چې کار له وړاندې نه دی موجود او کارګر باید لمړی کارخانې ته لاړ شي او وروسته د هغه کار په وسیله چې ترسره کوي یې یو څه تولید کړي.

تر دې ځایه پوه شوو چې کار توکي نه دی، نو کوم شیان توکي ګڼل کیږي؟ کارګر د کوم شي په پلورلو سره تنخوا یا معاش تر لاسه کوي؟

هر شی د دې لپاره چې وکولای شو ویې پلورو، باید په رښتیا سره موجود وي. نشو کولای چې توکي پرته له دې چې موجود وي؛ وپلور یا وپیرو. کارګر د کاري ځواک په پلورلو سره معاش ترلاسه کوي. کاري ځواک توکي دي، ځکه له وړاندې په کارګر کې موجود وي؛ کله چې پانګوال کارګر ته مزد ورکوي؛ دا څرګنده دي چې د ټول اجراء شوي کار په بدل کې هغه مزد ورکوي. له همدې کبله استثمار په ډېرې آسانۍ سره ځان ښکاره کوي. مثلاً، په فیوډالي نظام کې بزګران په اونۍ کې څلور یا پینځه ورځې کار کوي او دوې یا درې ورځې د ځان لپاره، په دې ځای کې استثمار په بشپړه توګه روښانه دی او بزګر به په روښانه ډول لیدل کیږي چې مالک یې په بې رحمانه ډول کار په کوي.

په پانګوالي نظام کې هم مزد هغه څه دی، چې د لازم کار په مقابل کې ورکول کیږي. فرض کړئ یو کارګر په ورځ کې لس ساعته کار کوي. که د کار ارزښت

په هر ساعت کې لس افغانۍ وي او پانګوال د ورځې پنځوس افغانۍ مزد ورکړي؛ په حقیقت کې دلته کارګر د پنځه ساعتو مزد تر لاسه کړی او د پنځه نورو څخه، پنځه ساعته کار چې مزد یې ترلاسه شوی لازم او پنځه ساعته چې نه دی تر لاسه شوی اضافي کار دی. څرنګه مو چې وویل مزد دا تصور را منځته کوي، چې پانګوال د ټولو ساعتونو لپاره پنځوس افغانۍ ورکړي؛ په همدې سره دغه مزد د کارګر کار چې په لازم او اضافي برخو ویشل کېږي؛ پټوي.

## د مزد مختلف ډولونه

**دوخت مزد** د مزد له ډولونو څخه یو ډول دی چې د وخت د اوږدوالي پر اساس ورکول کېږي. دوخت مزد مختلف ډولونه لري چې له ساعتي، ورځیني، اونیز او میاشتني مزدونو څخه عبارت دي. فرض کړئ یو کارګر د ورځې اته ساعته کار کوي او په دې اته ساعتونو کې ۸۰ افغانۍ ترلاسه کوي. د کارګر د کار هر ساعت په اوسط ډول ۱۰ افغانۍ بیه لري؛ اوس که ورځنی مزد ثابت پاتې شي، خو د کار وخت د ورځې دوه ساعته اوږد شي، نو د کارګر د کار هر ساعت ۸ افغانۍ کېږي، یانې مزد یې په هر ساعت کې دوې افغانۍ را کمېږي. همدا ده چې کارګر هر څومره ډېر کار وکړي؛ په هماغه اندازه کم مزد ترلاسه کوي. کله کله مزد پانګوال ته دا موقع ورکوي چې که چېرې د توکو بازار ښه وو؛ نو د ورځني کار وخت زیات کړي، خو که د بازار شرایط سم نه وه؛ په خپله خوښه د ورځني کار وخت ترتیبوي. په دې ډول نو د وخت مزد یوازې او یوازې د کارګر استثمار ته لار هواروي او لا یې هم زیاتوي.

**۱ - مسئله**، کارگر هره ورځ اته ساعته کار کوي او په دې اته ساعتو کې ۸۰ افغانۍ مزد تر لاسه کوي، نو دغه کارگر د هر یو ساعت له درکه څومره مزد لاسته راوړي؟ ځواب لس افغانۍ.

**۲ - مسئله**، د توکو د پلورلو بازار ښه تود دی، پانگوال د کارگر کار چې د ورځې اته ساعته دی؛ څلور ساعته نور اوږدوي. یانې د کارگر کار له اتو ساعتو دولسو ساعتو ته زیاتوالی پیدا کوي؛ اوس د کارگر مزد هم له ۸۰ څخه ۹۰ ته پورته شي، نو د کارگر د هر ساعت مزد به څومره شي؟ ځواب ۷. ۵ افغانۍ.

**۳ - مسئله**، د توکو پلورلو لپاره بازار ښه نه دی، پانگوال کار له اته ساعتو څخه څلور ساعته ته را کښته کوي او که په هر ساعت کې د کارگر مزد هماغه لس افغانۍ وي، نو د هغه ورځني مزد څومره کېږي؟ ٤۰ افغانۍ = ٤ ساعتونه ۱۰ افغانۍ =ورځنی کاري ساعت، د کارگر د یوې ورځې مزد = ٤۰ افغانیو سره.

نو په دې سره نه یوازې دا چې کاري ساعتونه اوږده شي؛ د کارگر مزد را ټیټیږي، بلکې که دورځیني کار مهلت را لنډ شي؛ نو د ورځیني کار مزد به سم ورسره را کم شي.

**د کار مزد**، د مزد یو بل ډول دی چې د کارگر د تولید شویو محصولاتو د اندازې د شمېر پر اساس ورکول کېږي.

کله چې مزد د ساعت یا ورځې پر اساس ورکړل شي، نو پانگوال له ځان سره وایي، ټول کارگران یو ډول وړتیاوې نه لري، نو له دې کبله که کارگر ته د ساعت یا ورځې پر اساس مزد ورکړم، نو امکان لري چې ځیني یې ډېر کار

وکړي او په دې ترتیب خلاصه خولۍ زما پر سر کېږدي. د دې لپاره چې د سر خولۍ مې ونه لوېږي؛ نو غوره ده چې کارګرانو ته د جوړو شویو توکو د شمېر پر اساس مزد ورکړم. که چېرې کارګران هره ورځ اته ساعته کار وکړي او د ورځې اتیا افغانۍ واخلي، نو پانګوال تکړه او ماهر کارګر په پام کې نیسي، چې دغه  کارګر په اته ساعته مثلاً ۲۰ توکي جوړ کړي، نو په دې ترتیب پانګوال د هر توکي په مقابل کې څلور افغانۍ ورکوي. پانګوال د مزد دا ډول تر ډېره د کارګرانو د لا استثمار لپاره په پام کې نیسي.

## اسمي او واقعي مزد

د پانګوالي د تکامل په لومړي پړاو کې د مزد زیاته اندازه کارګرانو ته د اړتیا وړ شیانو د ورکولو په شکل وو، خو بیا چې پانګوال او کارګر حساب سره کاوه؛ کارګر به یا د څه شي غوښتونکی نه وو او یا به یې ډېر کم غوښت چې د پیسو په ډول یې ترلاسه کړي، اوس په ګڼ شمېر هېوادونو کې د کارګرانو مزد د پیسو په ډول ورکول کېږي. هغه مزد چې د پیسو په ډول ورکړل شي اسمي او هغه چې دا اجناسو په ډول ورکړل شي واقعي مزد نومېږي.

هغه څه چې روښانه دي؛ هغه دا دي چې هغه پیسې چې کارګران یې له پانګوال څخه ترلاسه کوي؛ نشي کولای هغه وخوري، نو په هغو پیسو باندې وریجې، غنم، غوښه، جامې، بوټان او نور شیان اخلي چې دغه د هغوی واقعي مزد ګڼل کېږي. واقعي مزد څرګندوي چې کارګران تر کومې  کچې کولای شي چې په ترلاسه کړو پیسو باندي خپله کورنۍ وچلوي.

که د کارګرانو اسمي مزد لږ څه زیات شي؛ نو ورسره د توکو بیه هم پورته خیژي. واقعي مزد را کمیږي او په همدې سره د واقعي مزد د را ټیټېدو لومړنی لامل د توکو د بیي لوړوالی دی. د واقعي مزد د راټیټېدو بل لامل د مالیې زیاتوالی او د کورونو د کرایې لوړوالی دی. په سرمایه داري هېوادونو کې د نارینه او ښځینه د کار کولو ساعتونو یا وخت سره برابر دي، خو د ښځینه و مزد د نارینه هغو په پرتله کم دی. همدا ډول کوچنیان هم د کار په ترسره کولو سره لږ مزد ترلاسه کوي. په همدې سره پانګوال ډېرې ګټې له ځان سره خوندي کوي او په خپل ژوند یې لګوي. همدا ډول سپین پوستي او تور پوستي کارګران د ورته کار ترسره کولو په بدل کې بیلابیل او مختلف مزدونه ترلاسه کوي، مثلاً په افریقایي هېوادونو کې به د سپین پوستو د کار مزد د تور پوستو لس برابره وو چې دا هم پانګوال ته ډېرې ګټې ور په برخه کوي.

سرمایه داران د دې لپاره چې کارګران و ټکولای شي؛ په خپله د سرمایه دارانو ټولنه جوړوي. یانې د کارګرانو په وړاندې په خپل منځ کې یووالی رامنځته کوي. هغوی له کارګرانو سره د مبارزې په لارکې له پوره امکاناتو څخه برخمن دي، دغه امکانات د دولت له ملاتړ، د پولیسو او راډیو او ټلویزون په واک کې لرلو څخه عبارت دي. کارګران هم د دې لپاره چې وتوانېږي له پانګوالو سره مبارزه وکړي؛ په خپله د کارګرانو ټولنه جوړوي او په همدې ډول ځان له هغوی سره د مبارزې لپاره چمتو کوي. په همدې ترتیب د کار د مزد د لوړوالي په موخه په مبارزې لاس پورې کوي. د مزد د لوړوالي لپاره د کارګرانو مبارزه یو اقتصادي مبارزه ګڼل کیږي.

کارګران د اقتصادي مبارزې ترڅنګ سیاسي مبارزه هم پرمخ وړي، سیاسي مبارزه هغه مبارزه ده چې موخه یې د پانګوالي نظام له منځه وړل وي، نو د مزد د لوړوالي په موخه اقتصادي مبارزه د پانګوالي نظام د له منځه وړلو لپاره سیاسي مبارزه ګڼل کیږي.

## څلورم څپرکی

## د پانګوالو په لاس کې د پانګې را ټولېدل د کارګرانو ژوند تریخوي

## بیا ځلي تولید

انسان د دې لپاره چې خپل ژوند ته دوام ورکړي باید ډوډۍ وخوري، اوبه وڅښي او جامې واغوندي یانې په ټوله کي مصرف وکړي.

خو آیا ټولنه کولای شي چې له تولید پرته مصرف وکړي؟ روښانه ده چې نه، نو په همدې سره انسان تولید او مصرف کوي، بیا توکي تولیدوي او مصرفوي بیا تولید او بیا مصرف، همداسي دوام مومي. پوهېږو چې په پانګوالي نظام کي دا چې تولیدي وسایل د خصوصي مالکیت تر تسلط لاندې دي، نو تولید هم په دې ډول ترسره کېږي چې یو شمېر پانګوال او د تولیدي وسایلو مالکان د کارگرانو کاري ځواک پېري او هغوی دې ته مجبوروي چې له خپل مزد څخه زیات تولید وکړي، که نه نو له دې پرته پانګوال نه شي کولای چې اضافي ارزښت په لاس راوړي.

ښه، اوس دلته دا پوښته پیداکېږي، چې پانګوال په دې اضافي ارزښت څه کوي؟ ځواب یې دا دی چې پانګوال په دې اضافي ارزښت باندې خپل او د خپلې کورنۍ شخصي لګښتونه پوره کوي او یا یې لږ اندازه په خپل ځان او کورنۍ مصرفوي او نوره یې دخپلې پانګې پراخوالي لپاره ساتي.

په دواړو حالتونو کې پانګوال نه پرېږدي چې تولید ودرېږي. مثلاً انسان جامې، بوټان او خوراکي توکي تولیدوي او برعکس جامې، بوټان، خوراکي توکي او نور مصرفوي.

بیاهم بوټان، خوراکي توکي او نور شیان تولیدوي چې دېته بیا ځلي تولید ویل کېږي. بیا ځلي تولید په دوه ډوله دی ساده او پراخ تولید.

## د پانګوالۍ ساده بیا ځلي تولید

په دې ډول تولید کې پانګوال چې هر څومره اضافي ارزښت تر لاسه کوي؛ ټول په خپل شخصي لګښتونو مصرفوي.

مثلاً فرض کړئ، یو پانګوال ۱۰۰ میلیونه افغانۍ پانګونه کوي او یو کال وروسته یې پانګه چې ۱۰۰ میلیونه وه اوس یې ۲۰ میلیونه زیاتوالی موندلی چې د کارګرانو له اضافي کار څخه یې تر لاسه کړي دي.

دغه ۲۰ میلیونه افغانۍ اضافي ارزښت دی. اوس که پانګوال ټول اضافي ارزښت په خپلو شخصي مصرفونو ولګوي؛ په پایله کې هغه څه چې ورسره پاتې کېږي؛ هماغه سل میلیونه افغانۍ دي. پانګوال دغه پانګه ټول بیا ځلي په کار اچوي او ۲۰ میلیونه اضافي ارزښت په لاس راوړي، چې بیا هم ټول په شخصي ډول مصرفوي. ګورو چې ساده بیا ځلي تولید سره یې په پانګه کې زیاتوالی نه راځي، ځکه په ټول اضافي ارزښت خپلې شخصي او کورنۍ اړتیاوې پوره کوي.

## پراخ بیا ځلي تولید

په دې ډول تولید کې پانګوال د اضافي ارزښت یوه برخه په خپل شخصي لګښتونو مصرفوي او په نورو یې یوه اندازه اومه توکي پېري او نور کارګران هم په خپله کارخانه کي په کار اچوي. مثلاً فرض کړئ پانګوال له ۲۰ میلیونو څخه ۱۰ میلونه افغانۍ اضافي ارزښت د خپلو شخصي اړتیاوو د پوره کولو لپاره مصرفوي او ۱۰ میلیونه نوري د خپل کار د پراختیا لپاره په کار اچوي. په دې صورت کې ۱۰ میلیونه افغانۍ اضافي ارزښت په پخوانۍ پانګې باندې زیاتېږي او له همدې کبله د اضافي ارزښت یوه برخه په پانګه بدلیږي.

له پانګې سره د اضافي ارزښت یو ځایوالی د پانګې ټولونې په نوم یادیږي. په همدې سره د پانګې راټولونه، یانې د اضافي ارزښت یوه برخه په پانګه بدلېدل دي.

خو هغه څه چي زموږ لپاره روښانه دي؛ هغه دا دي چې اضافي ارزښت د کارګرې طبقې د استثمار په پایله کې ترلاسه کیږي. پانګه هم د اضافي ارزښت د زیاتوالي په پایله کې زیاتیږي، نو په پایله کې ګورو چې د پانګې زیاتوالی یوازې او یوازې د کارګرې طبقې د استثمار په پایله کې ترسره کیږي.

### د پانګي د زیاتوالي څخه د پانګوال موخه څه وي؟

ځواب: زموږ موخه بشپړه روښانه ده؛ له کومه ځایه چې پانګوال د اضافي ارزښت د زیاتوالي تږی دی، نو هڅه کوي چې خپله پانګه زیاته کړي. ځکه هر څومره چې پانګه زیاته وي؛ کولای شي زیات اومه توکي ورباندې وپېري

او هم د ډېرو کارګرانو استثمار ورسره شونی دی. په پایله کې هر څومره چې د کارګرانو شمېر او اومو موادو اندازه زیاته وي؛ نو ورسره ډېر اضافي ارزښت ترلاسه کېږي.

د پانګوالو یو له بل سره سیالي د دې لامل ګرځي، چې کوچني پانګوال د سیالۍ له ډګر څخه ووځي. د پانګوالو تر منځ سیالي د دې سبب کېږي چې هر پانګوال د خپلې پانګې د زیاتوالي لپاره کوښښ وکړي. سیالۍ، پانګوال مجبوروي چې د تولید د پراخوالي لپاره د تولید غوره لار غوره کړي، دا هغه لار ده چې هر پانګوال یې دځان ژغورنې لپاره انتخابوي.

## د پانګې ارګانیکي جوړښت

پوهېږو چې د پانګوال ټوله پانګه چې له ثابتې او متغیري پانګې څخه جوړېږي. په دې سره نو که یو پانګوال وغواړي چې د اضافي ارزښت یوه برخه له ټولې سرمایې سره یوځای کړي؛ نو مجبور دی چې یوه برخه یې له ثابتي او بله یې له متغیرې پانګې سره یوځای کړي. فرض کړئ د یو پانګوال ټوله پانګه ۱۰۰ میلیونه افغانۍ ده، له دې ۱۰۰ میلیونو څخه ۸۰ میلیونه یې ثابته او ۲۰ میلیونه یې متغیره پانګه ده. که کارګران د خپل کار نیم وخت د ځان او نیم د پانګوال لپاره کار وکړي؛ نو له یوکال ورسته به ۲۰ میلیونه افغانۍ اضافي ارزښت را منځته کړي، ولې؟

دا چې پانګوال کارګر ته د کار نیم وخت مزد ورکوي، په داسې حال کې چې په هغوی یې ټوله کار کړی دی. ښه، په دې صورت کې که چېرې د کارګرانو

د شپږو میاشتو مزد ۲۰ میلیونه افغانۍ وي، نو د یو کال مزد به یې ٤٠ میلیونه افغانۍ شي، خو پانګوال نیم مزد ورته ورکوي او نیم مزد یې په خپل جیب کې ږدي. اضافي ارزښت ټول له سرمایې سره یوځای کېږي، پانګوال یې یوه برخه د خپل شخصي او کورنۍ د لګښتونو لپاره کاروي او پاتې نوره یې له خپلې پانګې سره یوځای کوي. وړاندې مو وویل چې له ۱۰۰ میلیونو پانګې څخه یې ۸۰ میلیونه ثابته او ۲۰ میلیونه نوره یې متغیره پانګه جوړول، اوس هم چې پانګوال غواړي ۱۰ میلیونه افغانۍ له پانګې سره یو ځای کړي؛ مجبور دی چې زیاته اندازه یې له ثابتې پانګې سره یو ځای کړي او نوره له متغیري پانګې سره، یانې ټوله پانګه چې اوس ۱۱۰ میلیونه افغانۍ ده او ۸۹ میلیونه یې ثابته او ۲۱ میلیونه یې متغیره پانګه جوړوي.

له پورتنیو مطالبو څخه دا پایله اخلو، هر څومره چې پانګه زیاتېږي، نو د پانګې ارګانیکي جوړښت پورته ځي او د تولید لپاره لږ کاري ځواک پېرل کېږي او په دې ترتیب به هغه ډله خلګ چې دمعاش اخیستلو لپاره هیڅ ډول وسیله نه لري؛ یو کار به هم پیدا نه کړي. پانګوال دوزګارو افرادو د لښکر غوښتونکي دي او په دې وسیله کولای شي که چیرې کوم کوچنی کارګر یې په خوښه نه وي؛ په آسانۍ سره یې له کاره وباسي او ورته وایي چې ټوله پاملرنه مو کار ته ور واړوئ او په پوره هڅې سره کار وکړئ، که نه نو په کوچنی تیروتنې سره به مو له کاره و باسم او ټول هغه وزګار کارګر چې کار نه لري؛ ستاسو پرځای استخداموم. پانګوال په کارګرانو منت هم کوي او وایي زه یو مهربانه انسان یم، په خپل سر

مې دې قسم وي، پر تاسو مې زړه درد کوي، چې په کار مي گومارلي یاست او که نه کارگران ډېر دي، نو تر څو چې مو په بدن کې ساه وي؛ کار وکړئ.

## د پانگې ټولونې عام قانون

وړاندې مو وویل چې د اضافي ارزښت یوه برخه په پانگه اړولو ته د پانگې را ټولېدل وایي، خو له کومه ځایه چې پانگوال د اضافي ارزښت حرص لري؛ کوښښ کوي چې خپله پانگه نوره هم زیاته کړي. د پانگې ټولوني عام قانون دا ښیي چې پانگه هر څومره زیاتېږي؛ په هماغه کچه د کارگرانو بې وزلي، بیکاري او فقر ور سره زیاتېږي.

## ملي گټې یانې څه؟

په یوه دوره کې د تولیدي ارزښتونو ټولگې ته ملي گټي ویل کېږي. د پانگوال په ودې او پرمختگ سره د کارگرانو ژوند لا هم په نسبي ډول ستونزمنېږي، د کارگر د نسبي حالت خرابوالی په دې ډول دی چې هر څومره دټولنې پانگه زیاتېږي؛ نو د کارگرې طبقې برخه له ملي گټو څخه نوره هم کمېږي. په داسې حال کې چې د کارگرې طبقې حق زیات دی، یا په بل عبارت په ملي گټو کې چې دکارگرانو برخه هر څومره کمېږي؛ ورسره د پانگوال برخه زیاتېږي.

مثلاً، په داسي حال کې چې د ټولنې ۱۰ سلنه یې پانگواله طبقه ده، نو په ملي گټو کې نیمه برخه د دوی ده. د دې لپاره چې په دې حالت کې د کارگري طبقې د بېوزلي چټکتیا درک کړو، نو لاندې مقایسه باید تر سره کړو.

د کارګر د یوه کال مزد د پانګوال د یوه جوړه بوټانو له بيې سره برابر دي. پانګوال د کارګرانو د فریب یا د دې لپاره چې هغوی خپلو بدمرغیو ته متوجه نه شي، داسې وايي: ګرانو کارګرانو! تاسو باید وویاړئ چې په داسې یو دوره کې ژوند کوئ، پلرونه مو در په یاد کړئ چې څه ډول په خره سپرېدل، تر دې چې تر ډېره وخته یې د کور څراغ نه درلود، تر څو خپله کوټه پرې روښانه کړي. نن الوتکه ماشین او ګڼ شمېر نورې آسانتیاوې موجودې دي، چې ستاسو پلرونو به یې فکر هم نه کاوه. پخوا برېښنا نه وه د راډیو او تلویزونه نښې په دوربین کې هم نه ښکارېدې، نن بریښنا وګورئ دا ټول د پانګوالو له برکته دي. بیا نو مه وایاست چې پانګوال بد دي؛ هر څومره چې پانګوالي وده وکړي؛ د ټولنې د ژوند آسانتیاوې زیاتېږي.

پانګوال وايي چې په پانګوالي نظام کې الوتکه، ماشین، او ځینې نور شیان جوړ شوه، خو دا نه وايي چې دا شیان د چا په لاس جوړ شوي. ټولو ته روښانه ده چې کارګرانو په ډېر زحمت او کړاوونو او په ټیټې ملا سره دا ټول شیان جوړ کړي دي. پانګوال نه یوازې د کارګرانو د ژوند د خرابوالي سبب دي، بلکې د هغوی د حالت د مطلق خرابوالي لامل هم دي.

وزګارتیا، بېوزلي، رنځونه، بدمرغی او نور دا ټول څرګندوي چې د کارګرانو د ژوند حالت په مطلق ډول خراب شوی. په دې حالت کې درنه مالیه لا هم د کارګرانو په غاړه ده، د توکو بیه یې لوړه او مزد یې ټیټ دی، غوره پوښاک نه لري، خواړه، روغتیا او استراحت نه لري.

دا په پانګوالي نظام کې دکارګر د ژوند مطلق خرابوالی ښیي.

# پنځم څپرکی

## د استثمارونکو ترمنځ د اضافي ارزښت ویش د پانګې دایروي دوران

په دې دوران کي پانګه د پیسو په ډول ښکارېږي وروسته پرې توکي پېرل کېږي کاري ځواک او تولیدي وسایل یوځای کېږي او نوي توکي تولیدیږي، چې د پانګوالو لپاره اضافي ارزښت دی. پانګوالو د دې توکو په پلورلو سره بیا پیسې لاسته راوړي، خو دا پیسې په خپلې لومړني اندازې نه، بلکې زیاتي وې. په دې سره ګورو چې پانګوال د خپل دور دوران په بهیر کې له څو پړاوونو تېریږي او په مختلفو شکلونو کې څرګندیږي.

**لومړی پړاو**، په دې پړاو کې پانګه د پیسو په ډول وي، پانګوال په ډېرو پیسو د تولید وسایل او کاري ځواک پېري، یانې په لومړي پړاو کې پانګوال د پیسو پانګه په مولده پانګې بدلوي، پیسې په توکو بدلېږي، یانې د پیسو پانګه په مؤلده پانګې بدلېږي.

**دویم پړاو**، په دویم پړاو کې چې د تولید په نوم یادیږي؛ کاري ځواک له وسایلو سره یو ځای کېږي او دکارګرانو په کار سره نوي توکي تولیدیږي، چې د اضافي ارزښت لرونکي دي. په دې پړاو کې پانګوال خپله مؤلده پانګه د توکو په پانګې بدلوي. وړاندیني توکي د تولید په بهیر کې په نویو توکو بدلېږي، یاني مولده پانګه د تولید په بهیر کې د توکو په پانګې سره بدلیږي.

**دریم پړاو**، په دریم پړاو کې یانې د دوران په پړاو کې پانگوال نوي توکي پلوري او په دې ترتیب د توکو پانگه د پیسو په پانگه بدلوي. نوي توکي په نویو پیسو بدلېږي، یانې هغه پانگه چې توکي شوي؛ د پیسو په پانگې بدلېږي. په لومړي پړاو کې پانگه د پیسو په ډول وه. په دویم پړاو کې د مؤلده پانگې په توگه او په دریم پړاو کې هم د توکو د پانگې په ډول، په دې ترتیب گورو چې د پانگې د دوران درې پړاوونه په درې ډوله مناسبې صنعتي پانگې باندې دي. د صنعتي پانگې درې ډولونه عبارت دي له: ۱ - د پیسو پانگه ۲ - مولده پانگه ۳ - د توکو پانگه.

## د پانگوالو لپاره د تولید لگښتونه

د هر توکي ارزښت چې په کارخانه کې تولیدېږي؛ له دریو برخو جوړېږي:

۱. د ثابتې پانگې ارزښت (یانې د ماشینونو او ودانیو د ارزښتونو یوه برخه، چې په توکو کي نغښتې او داومو موادو او سون توکو ارزښت) دی.

۲. د متغیري پانگې ارزښت ( هغه مزد چې کارگران یې د یو ځانگړي کار په ترسره کولو سره تر لاسه کوي).

۳. اضافي ارزښت (چې د کارگرانو له اضافي کار څخه تر لاسه کېږي).

پانگوال یوازې لومړنی او دویم ډول ورکړي دي، یانې د تولید لگښتونه پر مهال هغه د توکو د ارزښت څخه په ټیټه بیه تمام شوي. کله چې پانگوال تولید شوي توکي بازار ته عرضه کوي؛ هغه په هغه بیه نه پلوري، په کومه چې دوی اخیستي

وي، بلکې تر دې يې په لوړه بيه پلوري، اوس که د پانګوالو د توکو لګښتونه د هغه د ارزښت څخه راکم کړو؛ هغه څه چې پاتېږي؛ اضافي ارزښت دی او پانګوال يې مالک دی، چې مساوي کيږي په اضافي ارزښت - د پانګوال لپاره د توکو لګښت - د توکو ارزښت.

## د ګټې (سود) بيه

دګټو بيه د پانګوال لپاره ډېر ارزښت لري او په ټوله کې له پانګوالۍ څخه د پانګوال د ګټې د بيي په لاس راوړل دي. د ګټي بيه چې هر څومره لوړه وي؛ پانګوال راضي او خوشحاله وي.

متغيره پانګه + ثابته پانګه = ټوله پانګه

متغيره پانګه + ثابته پانګه = دګټې بيه

يو بل پانګوال په پام کې ونيسئ چې د ټوکر اوبدلو توليدي ماشينونه لري. کاملاً روښانه ده چې توليدي ماشينونه او د ټوکر اوبدلو تاسيسات، د مجهزي موټر جوړونې له تاسيساتو څخه ارزانه دي. په پايله کې د ټوکر اوبدونکي کارخانې د پانګوال ثابته پانګه د موټر جوړونې د کارخانې له پانګوال څخه کمه ده، که د ټوکر او بدلو د کار ځای د پانګوال ثابته پانګه ۸۰ ميليونه افغانۍ او متغيره هغه يې ۲۰ ميليونه وي او دا پانګوال همدا چې مزد کارګرانو ته ورکوي؛ دوه برابره کار په هغو باندې کوي، اضافي ارزښت ۲۰ ميليونه افغانۍ دي او په پايله کې د ګټې بيه هم ۲۰ سلنه شي.

هغه پانګوال چې د څرمن جوړونې کارخانه لري، نو توليدي ماشينونه به يې د ټوکر اوبدلو د کارخانې له ماشينونو څخه ارزانه او ساده وي، فرض کړئ که د څرمن جوړونې د کارخانې د پانګوال ثابته پانګه ۷۰ ميليونه او متغيره هغه يې ۳۰ ميلونه وي او کارګران هم د مزد دوه برابره کار وکړي؛ نو اضافي ارزښت به ۳۰ ميليونه افغانۍ او دګټې بيه به ۳۰ سلنه شي. ګورو چې د موټر جوړونې د کارخانې پانګوال د ګټې بيه کمه برخه په لاس راوړې او د څرمن جوړونې د کارخانې پانګوال زياته، له کومه ځايه چې پانګوال دې ته حاضر دی چې د زياتې ګټې د بيې لپاره خپله ژوند هم په خطر کې واچوي؛ دا نشي زغملای چې بل پانګوال له ده څخه ډېره ګټه په لاس راوړي. په همدې سره هغه پانګوال چې د عايداتو د ګټې بيه يې کمه شوې وي؛ نو په هغه برخه کې چې وړاندې يې پانګونه کوله؛ له هغې برخې څخه مخ اړوي او په بله برخه کې پانګه په کار اچوي.

مثال کله چې يو پانګوال وګوري، چې د موټر جوړونې کارخانې په پرتله د څرمن جوړوني په کارخانه کې ډېره ګټه ده، نو هغه خپله پانګه د څرمن جوړونې په کارخانه کې په کار اچوي. دا چاره د دې سبب ګرځي چې د څرمن جوړونې په برخه کې د توکو اندازه د توکو له پيرودونکو څخه زياته شي او په پايله کې به د څرمن د توکو بيه ټيټه کېږي او د دې سبب کېږي چې د ګټې بيه مثلاً ۳۰ څخه ۲۰ سلنو ته راکمه شي.

## د تولید بیه یانې څه؟

که چېرې د پانګوال د تولید لګښتونه او د ګټې متوسطه بیه سره یوځای کړو؛ نو د تولید بیه په لاس راځي. وړاندې مو وویل چې د پانګوال لپاره د تولید لګښتونه عبارت دي: د متوسطې ګټې بیه + متغیره پانګه +ثابته پانګه + د تولید بیه.

## د تنزل په لور د ګټې د بیې تمایل

وړاندې یادونه وشوه چې د ګټې بیه په ټولې پانګې باندې د اضافي ارزښت له ویش څخه تر لاسه کېږي، لکه، متغیره پانګه + ثابته پانګه = ټوله پانګه.

له بل پلوه پوهېږو چې پانګه هر څومره وده وکړي؛ د تولید ماشینونه او تأسیسات مډرن شي او پراختیا ومومي، اومه مواد او د سون توکي هم ورسره زیاتېږي. په دې هم پوهېږو هر څومره چې د یو کسر مخرج لوی وي، نو که کسر کوچنی کېږي د بیلګې په توګه ½ او ¼ چې د کسر مخرج لوی او صورت یې کوچنی وي، په فورمول کې د ګټې بیه چې په صورت کې ثابته ده او متغیره پانګه په مخرج کې واقع ده. هر څومره چې پانګه ډېره وده وکړي، د تولید ماشینونه مجهز شي او د سون اومه توکي زیات شي؛ ثابته پانګه هم لوړېږي.

یاني د ګټې د بیې په فورمول کې، د پانګې زیاتوالی او د خامو موادو د حجم زیاتوالی د لوی شوي کسر مخرج چې په پایله کې یې کسر هم کوچني کېږي؛ یا په بل عبارت د ګټې بیه د تنزل په لور ځي.

البته متغيره پانگه هم زياتېږي او پانگه وده کوي، خو د ثابتې پانگې په پرتله يې وده کمزورې وي، همدا ډول اضافي ارزښت هم چې له متغيري پانگې څخه رامنځته کېږي؛ د ثابتې پانگې د ودې په پرتله ډېره کمزورې ده. فرض کړئ. د يو پانگوال ټوله پانگه ۵۰۰ میلیونه افغانۍ وي، که له دې پینځه سوه میلونه څخه ٤۰۰ میلونه ثابته پانگه او ۱۰۰ میلیونه نوره به یې متغیره پانگه وي؛ په داسې ډول چې کارگران د خپل مزد دوه برابره کار وکړي، نو هغه اضافي ارزښت چې پانگوال يې ترلاسه کوي، ۱۰۰ میلیونه افغانۍ به وي. په پایله کې به دگټې بیه د ۲۰٪ سره برابره شي.

اوس که فرض کړو چې پانگوال ۵ میلیونه تومن د خپلو شخصي او کورني لگښتونو لپاره مصرفوي او ۱۰ میلیونه تومن د اضافي ارزښت څخه په متغیرې او پاتې نوره له ثابتې پانگې سره یوځای کوي: په داسې حال کې لرو چې....(۱۰۰-۵=۹۵).

له دې وروسته چې پانگوال له ترلاسه شوي اضافي ارزښت څخه ۵ میلیونه د کورني او شخصي لگښتونو لپاره واخلي، نو ۹۵ میلیونه افغانۍ په ځای پاتې کېږي. پانگوال ۱۰ میلیونه افغانۍ له ۹۵ میلیونو څخه اخلي او له متغيرې پانگې سره يې يوځای کوي او پاتې نوره يې له ثابتې سره پانگې سره يوځای کوي، چې (۹۵-۱۰=۸۵) په لاس راکوي.

متغیره پانگه چې(۱۰۰+۱۰=۱۱۰) متغیره پانگه ۱۱۰ میلیونه افغانۍ دي، که کارگران د مزد دوه برابره کار وکړي؛ نو اضافي ارزښت به ورسره ۱۱۰ میلیونه شي. د گټې د بیې د کموالي لپاره یوه لار هم دا ده چې پانگوال د کارگرانو د

استثمار کچه لوړه کړي، یانې څومره چې کولای شي په کارګرانو کار وکړي، نورې لارې چې پانګوال معمولاً ورڅخه ګټه اخلي په لاندې ډول دي:

دکارګرانو د مزد کموالی، او د کارګرانو د ژوند په عوایدو کې کموالی راوستل او په ثابتې پانګې باندې ور زیاتول، **د تنزل په لور د ګټې د بیې تمایل** د کارګرانو او پانګوالو ترمنځ نور هم تضاد را منځته کوي، ځکه پانګوال د ګټې د بیې د تنزل د مخنیوي لپاره کارګران په شدیده توګه استثماروي، کاري مزد او روغتیایي وسایل ترې کموي، د تنزل په لور د ګټې تمایل هم د کارګرانو او پانګوالو تر منځ تضاد زیاتوي، ځکه پانګوال په صنعت کې د لوړې بیې لپاره یو له بل سره شدیده او وحشیانه سیالي کوي. تر ټولو مهمه دا چې پانګوال د لوړې او د ډېرې ګټې ترلاسه کولو لپاره خپله پانګه وروسته پاته هېوادونو ته صادروي، ځکه هلته د کارګرانو کاري مزد کم دی او دغه راز خام مواد او ځمکه هم ډېره ارزانه وي.

## سوداګریزه پانګه او ګټه (سود)

صنعتي پانګوال چې د تولیدي کارځای لرونکي وي؛ نشي کولای په خپله خپل محصولات وپلوري، ځکه دا کار ګڼ شمېر ستونزې او مشکلات لري، تجربو صنعتي پانګوالو ته دا ښودلې چې خپل توکي په داسې پانګوالو وپلوري چې هم یې بازار په واک وي او هم له مالي پلوه د باور وړ وي، صنعتي پانګوال په دې نورو پانګوالو (سوداګرو) د خپلو توکو د پلورلو له لارې پیسې ژر ترلاسه کوي. هغه پانګه چې سوداګر پانګوال ورباندې د

صنعتي پانگوالو محصولات پېري؛ سوداګريزه پانګه ګټل کېږي، خو دا هم روښانه ده چې سوداګر د ګټې لاسته راوړلو لپاره د صنعتي پانګوالو محصولات پېري. په همدې سره صنعتي پانګوال چې په مستقيم ډول د اضافي ارزښت مالکان دي؛ يوه برخه يې سوداګر ته ورکوي، يانې هغه ګټه چې د سوداګر د عوايدو کېږي؛ هم د هغه اضافي ارزښت يوه برخه ده چې د کارخانې د کارګرانو څخه يې په لاس راوړي.

سوداګر چې کله توکي بازار ته د پلورلو لپاره وړي، نو وايي هغه ګټه چې زه د دې توکو له لارې لاسته راوړم، هغه ارزښت دی چې په توکو مې ور زيات کړی وو، خو موږ پوهېږو چې د توکو ارزښت هغه وخت زياتېږي؛ کله چې ورباندې کار ترسره شي. ښه په دې صورت کې هغه سوداګر چې هيڅ ډول کار يې په دې توکو تر سره کړی نه وي؛ کولای شي ووايي چې هغه ګټه چې مي له دې توکو څخه تر لاسه کړې وه، په هغه مي د توکو ارزښت لوړ کړی وو؟

خو آيا د يو توکي ارزښت په خپل سري ډول زياتېږي؟ نه، له کارخانې څخه بهر د توکو ارزښت په هيڅ ډول نشي زياتېدای او هغه ګټه چې سوداګر يې په لاس راوړي؛ هم هغه ارزښت دی چې کارګرانو له مزد پرته په توکو باندې کار کړی او ارزښت يې ور لوړ کړی.

يانې څرنګه مو چې وويل، هغه ګټه چې سوداګر پانګوال يې په لاس راوړي؛ د هغه اضافي ارزښت يوه برخه ده چې سوداګر پانګوال يې صنعتي سوداګر ته ورکوي.

## کورنۍ سوداګري

کورنی سـوداګري په دوه ډوله تر سـره کېږي، عمده پلورنه ( عمده فروشي ) او پرچون پلورنه. د عمده پلورنې سـوداګري، هغه سوداګري ده چې د صنعتي او تجارتي پانګوالو ترمنځ ترسـره کېږي، پرچون پلورنه په مسـتقیم ډول په خلګو باندې د توکو پلورولو څخه عبارت ده.

## بهرنۍ سوداګري

بهرنی سـوداګري لـه صـادراتو او وارداتو څخـه عبارت ده. پانګوال د بهرنۍ سـوداګرۍ لـه لارې ډېره ګټـه ترلاسـه کوي. پـه ځـانګړې توګه په پرمختللو هیوادونو کې. بهرنۍ سـوداګري د ګټو لویې سـرچینې دي. د بهرنیو پرمختللو هېوادونو پانګوال خپل توکي او محصـولات په وروسته پاتې هېوادونو په ډېره په ګرانه بیه پلوري، په داسـې حال کې چې اومه مواد له هماغو وروسـته پاتې هېوادونو څخـه پـه ډېره ارزانـه بیه پېري. هر هېواد د یوې مشـخصـې مودې وروسـته د صـادر شویو او وارد شویو توکو د ټولګې اندازه په پام کې نیسي او توکو د بیې ترمنځ نسبت په لاس راوړي. په یو ټاکلي وخت کې د صادر شویو او وارد شـویو توکو د بیې ترمنځ نسـبت ته سـوداګریزه موازنه ویل کیږي. که چېرې د یو هېواد صادرات له وارداتو څخه زیات شي؛ مثبته سوداګریزه موازنه او که واردات یې له صادراتو زیات وي؛ منفي سوداګریزه موازنه ده.

هغه هیوادونه چې سـوداګریزه موازنه یې منفي وي؛ یانې له صادراتو څخه یې واردات زیات وي، نو د صـادر شـویو توکو بیه یې د وارد شـویو توکو له بیي

څخه ټيټه وي او کوم کسر چې د صادراتو او وارداتو تر منځ موجود دی، باید له طبیعي سرچینو لکه د سروزرو کانونو څخه جبران کړي.

## استقراضي پانګه

کله داسې هم پیښیږي چې پانګوال په واک کې پیسې لري، خو هماغه وخت يې نه وي په کار. دغه پانګه چې بیکاره پرته ده؛ کومه ګټه نه تولیدوي. همدا ډول کله داسې هم پیښیږي چې پانګوال غواړي د تولید نوي ماشینونه وپېري، خو د پیسو له کمښت سره مخامخ کیږي. نو له همدې کبله پانګوال باید یوه اندازه پیسې د سپما په توګه ولري، ترڅو د ماشینونو او نورو توکو د پېرلو پر مهال د پیسو له کمښت سره مخ نه شي او که چېرې ورسره مخامخ شي؛ نو وکولای شي چې د اړتیا پر مهال ترې ګټه واخلي.

له دغو سپما شویو پیسو څخه چې کله پانګوال له ستونزو سره مخ کیږي؛ کولای شي کار واخلي او په هغو وختونو کې چې ورته اړتیا نه لري، له لګښت او مصرفولو پرته پاتې کیږي. ګورو کله چې یو پانګوال یوه اندازه د سپما پیسې ولري او هغه وخت هم ورته اړتیا نه لري، نو بل پانګوال د توکو د پیرلو لپاره هغو پیسو ته اړتیا پیدا کوي. په داسې حالت کې هغه پانګوال چې بې مصرفه پیسې لري؛ هغه د یو معین او مشخص وخت لپاره هغه پانګوال ته چې پیسو ته اړتیا لري؛ ورکوي د معیني او مشخصې مودې په پای ته رسیدو سره له ټاکلو پیسو سره یوه اندازه اضافي پیسې هم ورکوي او دې اضافي پیسو ته

سود ویل کېږي. استقراضي پانګه هغه پولي پانګه ده چې د یو مشخص وخت لپاره د اضافي پیسو په مقابل کې یو چاته په پور ورکول کېږي.

کله چې پانګوال د یو بل پانګوال بې مصرفه پیسې په پور اخلي؛ هغه په تولیدي کار اچوي او له دې لارې اضافي ارزښت په لاس راوړي. دغه پانګوال د معیني مودې له پای ته رسیدو سره له ټاکل شوې اندازې سربېره یوه اندازه زیاتې پیسې پور ورکونکي ته ورکوي. په دې سره ګورو چې ګټه په واقعیت کې د اضافي ارزښت یوه برخه ده.

کارګران په آسانی سره دې ته نشي متوجه کېدای چې پور ورکوونکي پانګوال هم د دوی په استثمار کې پوره لاس لري، ځکه کارګران هغوی هېڅکله نه ویني او پور ورکونکي پانګوال له کومه ځایه چې د اضافي ارزښت د یوې برخې مالکان دي؛ هم د کارګرانو په استثمار کي پوره دخیل دي .

## بانکونه

د بانکونو یوه مهمه دنده دا ده چې له پانګوالو څخه بې مصرفه پانګه را ټوله او هغو پانګوالوته وسپاري چې ورته اړتیا لري. د توضیح وړ ده چې وویل شي چې په لومړیو کې بانکونه په دې ډول نه وه، بانک ۵۸۰ کاله وړاندې د ایټالیا په جمهوریت کې رامنځته شو. کله چې سوداګرۍ پراختیا پیدا کړه؛ په تدریجي ډول په نورو ځایونو کې هم بانکونه تاسیس شوه، د بانکونو د مالکانو دنده دا وه چې سمې پیسې له ناسمو پیسو څخه جلا کړي، خو نن لکه وړاندې چې مو وویل، د بانکونو دنده د بې ګټو پانګو را ټولول او په

ګټورې پـانګې بـانـدې یې بدلول (په ســود ورکول) دي. همدا راز، د خلکو سپما (پس انداز) هم په بانکونو کې ساتل کېږي.

امکـان لري چې څو تنه بانکونو ته ورشـــي او خپل ټولې یا یوه اندازه پیســـې وغواړي، البته د دغو اخیسـتلو شـویو پیسـو ځای بانک ته نوري داخل شـوې پیسـې نیسـي. کله چې هېواد له بحران یا جګړې سره لاس و ګریوان شي؛ نو د پیســو مـالکـان ډلـه ډله ځي او له بانکونو څخه خپلې پیســې غواړي. په دې صـورت کې که د بانکونو مالکانو له دولت څخه د پور اخیسـتلو د غوښتونکو ځواب ورنـه کړي، نو لـه منځـه ځي. د بـانکونو لـه منځـه تلـل د هغو پانګوالو شتمني چې د بانکونو مالکان کېدل له منځه وړي. پر دې سربېره هغو پانګوالو چې خپلې پیســې یې بـانکونو تـه ســپـارلې وي؛ هم له منځه ځي او کوچني بورژوایان هم خپله سپما له لاسه ورکوي.

## بانکي ګټې (سود)

کله چې پانګوال د پور غوښــتلو لپاره بانک ته ځي؛ د بانک مالک چې کومه اندازه پیســې په پور ورکوي، په مقابل کې یې له معین وخت وروســته مثلاً ۳ سلنه زیاته ګټه ګرځوي. یانې بانکوال نورو ته د پور ورکولو په بدل کې ۳ سلنه زیاته ګټه غواړي، خو دلته اوس دا پوښتنه پیدا کېږي چې آیا بانکوال هم کله چې څوک ورته خپلې پیسې سپاري؛ ۳ سلنه ګټه ورکوي؟

روښــانه ده چې نه، که چېرې داســې وای نو بانکوال ته به نوره ګټه نه وه پاتې شــوې، له همدې کبله، پانګوال چې خپله پانګه بانکونو ته ســپاري؛ په مقابل

کې يې بانکوال ۲ سلنه ګټه ورکوي. ګورو چې بانکوال په خپله ۲ سلنه ګټه پیسې اخلي او په ۳ سلنه ګټه يې نورو ته ورکوي او په پایله کې دوی ته هغه یو سلنه پاتې کېږي چې بانکي ګټه ورته ویل کېږي،

## ونډه ایز (سهامي) شرکتونه

د لویو تاسیساتو د را منځته کولو لپاره لکه لوی صنعتي شرکتونه د اوسپنې پټلۍ او نور.... ډېرې پانګې ته اړتیا لري چې یو پانګوال يې په یوازیتوب سره نشي تامینولای، نو له دې کبله د دې تاسیساتو د جوړولو لپاره اړینه ده چې څو تنه سره یو ځای او خپل پانګه سره یوځای کړي، تر څو په دې کار و توانیږي.

ښه سمه ده، له همدې کبله سهامي شرکتونه رامنځته شول، یانې سهامي شرکت له دې کبله را منځته شو چې لویه پانګه را ټوله او په وسیله يې لوی تاسیسات جوړ کړي، هر څوک چې وغواړي په سهامي شرکت کې ګډون وکړي، نو یو یا څو سهمه باید واخلي. مثلاً فرض کړئ د یو لوی صنعتي شرکت لپاره یو میلیون افغانیو ته اړتیا ده او که چېرې دغه یو میلیون په زرو برخو وویشو، نو د هرې برخې لپاره باید زر افغانۍ سره یوه برخه او په ۲۰۰۰ سره دوه برخې وګڼو، یانې که یو شریک یوه برخه اخلي؛ زر افغانۍ او یا کولای شي په ۲۰۰۰ سره دوه برخې واخلي. په سهامي شرکتونو کې بزګران، کارګران او نورې طبقې هم کولای شي د ځان لپاره یوه برخه وپېري او په دې ترتیب په لوی سهامي شرکت کې برخوال کېږي.

ظاهراً داسي مالومېږي چي پانګوال بزګرانو او کارګرانو ته د دې لار هواروي چي دوی هم پانګوالي وکړي، دوی وايي د سهامي شرکت په ودې سره د کارخانې کارګران هم کولای شي چې په لويو سهامي شرکتونو کې برخه واخلي، نو له دې سره سهامي شرکت هغه وسيله ده چې د پانګوال او کارګر تر منځ اختلاف له منځه وړي.

څه شوي؟ ايا پانګوال په کارګرانو باندې خپل زړه سوځوي چې دا فکر ور سره پيدا شوی؟ روښانه ده چې نه، پانګوال چې ترڅو په يو کار کې خپله ګټه ونه ويني؛ په هغه کار لاس نه پورې کوي، نو سل په سلو کې دا فريب او دوکه ده. پانګوال له دې لارې زياتي پيسې د ځان په ګټه کاروي او يوازې ورڅخه ګټه پورته کوي. کوچني ونډه وال په سهامي شرکتونو کې هيڅکاره وي، خو پانګوال چې لويه برخه يا ډېره برخه لرونکي دي، تر دې چې که چېرې له ټولو برخو څخه يو يا دوه هم د دوی وي؛ بيا هم په شرکت کې هر کاره وي.

فرض کړئ، له يوه کال وروسته شرکت ۵۰۰ زره ګټه کوي؛ په دې صورت کې پانګوال پريکړه کوي چې ۲۰۰ زره يې د سپما په توګه وساتي او پاتي ۳۰۰ زره بايد د برخوالو تر منځ وويشل شي.

## په پانگوالي نظام کې د مالکانو گټه

### پانگواله اجاره

فرض کړئ يو پانگوال دي چې ډېرې ځمکې په واک کې لري. هغه وايي ځمکې زما دي او هیڅوک نشي کولی چې زما له اجازې پرته په هغه کې کرکیله وکړي. یو بل پانگوال دی چې دځمکوال ځمکې په اجاره اخلي، آیا په ځمکو کې په خپل سر څه زرغونېږي؟ ښکاره ده چې نه، ښه نو چې پانگوال هم په خپله کار ونه کړي، نو په دې صورت کې باید څوک په ځمکو کې کرکیله وکړي؟ مالومه ده چې کارگران، هو! پانگوال یو شمېر مزد اخیستونکي کارگران په خپل شرکت کی استخداموي، تر څو چې په ځمکو کې کار وکړي. کارگران په ځمکو کې کار کوي او اضافي ارزښت رامنځته کوي. پانگوال ځان د دې اضافي ارزښت د یوې برخي مالک گڼي او بله برخه یې د ځمکې د اجارې له کبله لوی ځمکوال ته ورکوي.

پانگوالي اجاره له فیوډالي اجارې سره توپیر لري. په فیوډالي نظام کې فیوډالان د ټولو هغو محصولاتو چې د بزگرانو له اضافي کار څخه تر لاسه شوي؛ ځانونه مالکان گڼي، په داسې حال کې چې په پانگوالي نظام کې ځمکوال یوازې د هغه اضافي ارزښت چې د کارگرانو له کار څخه تر لاسه شوي؛ ځانونه د هغه د یوې برخې مالکان گڼي.

## تفضیلي اجاره ( د غوره ځمکې اجاره)

دوه ډوله ځمکه په پام کې ونیسئ. لومړی ډول یې یو غوره او حاصلخیزه ځمکه ده. دغه راز دویم ډول ځمکه بې حاصله او بې کیفیته ده او د لومړي ډول ځمکې د حاصلاتو په پرتله یې حاصلات کم دي. که الف پانګوال لومړی ډول ځمکه اجاره کړي او پکې د ۱۰۰ زره افغانیو پانګې په قیمت بانډې ورته کاري ځواک او تخم و پیري؛ له یو کال وروسته د ۲۰۰ زرو په اندازه غنم ترې تر لاسه کیږي.

ب، پانګوال چې دویم ډول ځمکه یې په اجاره نیولې وي؛ په هماغه ۱۰۰ زرو افغانیو کولای شي ۱۲۰ زره کیلو ګرامه غنم په لاس راوړي.

ګورو چې په دواړه ډوله ځمکو یو ډول مصارف شوي، خو لومړی ځمکه چې حاصلخیزه وه؛ ډېر محصول ورڅخه تر لاسه کیږي، اوس که یې متوسطه ګټه ۲۰ سلنه وي، نو هر پانګوال له ۱۰۰ څخه ۲۰ سلنه ګټه ترلاسه کوي. تفضیلي ګټه هغې ګټې ته ویل کیږي چې له متوسطې ګټې څخه زیاته وي او با کیفیته او حاصلخیزي ځمکې څخه په لاس راغلې وي.

الف پانګوال ډېر مایل دی چې دغه اضافي ګټه ټوله په خپل جیب کې واچوي، خو ترسره کول یې ورته ستونزمن دي، ځکه پانګوال دا اضافي ګټه د تفضیلي اجارې په توګه ځمکوال ته ورکوي او ۲۰ سلنه متوسطه ګټه د ځان لپاره ساتي. دغه اضافي او متوسطه ګټه په خپله نه ده راغلې، بلکې کارګرانو

هغه رامنځته کړې ده. په همدې سره هغه اضافي ګټه چې ځمکوال ته ورکول کېږي؛ د اضافي ارزښت یوه برخه ده.

## مطلقه (ځانګړې ) اجاره

ځمکوال ځان د ځمکي مالک ګڼي. له همدې کبله دې ته نه چمتو کېږي چې د بې کفایته ځمکې څخه چې د بل پانګوال سره اجاره ده تېر شي، پانګوال په متوسطي ګټي باندي هیڅ ډول اضافي ګټه په لاس نه راوړي، نو له همدې پلوه مجبور دی چې خپل محصولات په داسي ډول وپلوري، چې زیاته اندازه متوسطه ګټه په لاس راوړي او د اجارې له درکه یې ځمکوال ته ورکړي. هغه ډول اجاره چې د بزګري د محصولاتو د پلورلو بیه چې د هغه د تولید له بیي څخه لوړه وي؛ مطلقه اجاره نومېږي، د تولید بیه څرنګه مو چې وړاندې وویل عبارت ده، له: متوسطه ګټه + د پانګوال لپاره د تولید لګښت = د تولید بیه.

د پانګوال لپاره د تولید لګښتونه عبارت دي له: متغیره پانګه + ثابته پانګه = د پانګوال لپاره د تولید لګښتونه.

متغیره پانګه د کارګرانو د کاري مزد سره برابره ده، مطلقه اجاره هم د تفضیلي اجارې په څېر د هغه اضافي ارزښت بیه ده چې د کارګرانو د اضافي کار په پایله کې رامنځته شوې وي.

# شپږم څپرکی

## د پانګوالۍ کړکېچونه (بحران)

کلـه چې د خلکو د تقـاضـا له اندازې څخه لوړ پوښــاک تولید شـــي، نو په تـدریجي ډول د پوښــاک شـــمېر زیـاتېږي. پـه پـایله کې کارخانه لرونکي د کارخانې کارونه ځنډوي، زیات کارګران بیکاره کېږي او هغه مزد چې وړاندې یې اخیست؛ هم ورباندې بندېږي. کله چې د خلکو د رانیولو د توان له اندازې څخه په لوړه بیه غنم تولید شـي، نو ډېر کارګران بېکاره کېږي او کاري مزد یې بندیږي، په دې سره هغوی باید لوږه تېره کړي، ځکه چې دوی پیسې نه لري، د هغه با وجود بیکاره شوي هم وي او دا ځکه چې غنم ډېر تولید شوي دي!

ډېرو سـکرو ګودامونه جوړ شـوي وي، خو زیارکاښـان د سـکرو د نه لرلو له کبله، په خپلو کورونو او کوټو کې له یخه لړزېږي، داغوسـتلو توکي تر خپلې اندازې زیات تولید شـوي وي، خو زیار ایستونکې طبقه ژوند له پوښاک پرته تېروي. د غنمو حاصـلات په خرواروونو موجود وي، خو سلګونه زره کسان به له لوږې مري.

### ذیرمي څنګه ډکېږي؟

کارګران او زیارکښـه طبقه چې د ټولنې اصـلي مصـرفونکي دي؛ له دې امله چې په شـدیده توګه د پانګوالو له لوري استـثماریږي، کاري مزد یې کم دی او دا کموالی د دې سـبب کېږي چې هغوی ونشـي کولای، د خپلې اړتیا وړ توکي وپېري. په پایله کې توکي ډېر لږ پلورل کېږي یا ځیني وخت هیڅ نه

پلورل کېږي او په دې ترتيب ذېرمې ډکېږي. په پايله کي وينو چې توکي هم د خلکو له اړتياوو څخه زيات توليدېږي.

د اضافي توليد د کړکيچ (بحران) نښاني عبارت دي له: د سوداګرۍ په ټپه درېدل، په بازار کې د توکو نه پلورل کېدل، د توليد درېدل (توقف) او د کار خانو ځنډ او د کارګرانو بيکاره کېدل. کړکېچونه په اصل کې، د ټولنيز توليد او کارګر تر منځ د تضاد او په توليدي وسايلو باندې د خصوصي مالکيت د حاکميت په سبب پېښېږي.

له کومه ځايه چې پانګوال په ډېرې ګټې پسې ګرځي؛ تکتيکونو ته غوره والی ورکوي او د توليد پرمختللي ماشينونه خپلې کارخانې ته راوړي او له دې لارې بې حسابه توکي توليدوي، بل خوا د کارګرانو د مزد کموالي او د بيکارۍ بيوزلۍ او لاستنګۍ د زياتوالي لامل د محدودو توکو مصرفول دي، په ټوله ايزه توګه تر څو چې د پانګوالي نظام موجود وي؛ نو کړکېچ (بحران) به هم ورسره ملګری وي. د ټولنيز توليد او په توليدي وسايلو خصوصي مالکيت ترمنځ به هم تضاد موجود وي.

## د پانګوالۍ دورې او پړاوونه

ديو بحران د پيل څخه د راتلونکي بحران د پيل ترمنځ واټن ته يوه دوره ويل کېږي، چې له څلورو پړاوونو جوړه شوې ده.

**لومړی** پړاو د بحران دوره ده دغه پړاو د داخلي او خارجي سوداګرۍ د له منځه تلو د پيسو د کموالي، د بيکارۍ د زياتوالي، دکاري مزدونو ټيټوالي، د

توکو له زیات تولید، د ماشین الاتو له منځه تللو او د بیو د ټیټېدو سره ملګرې ده.

**دویم** پړاو د رکود دی. په دې پړاو کې د توکو بیه ټیټه وي، صنعتي تولید د رکود په حالت کې ژوند تېروي. د اضافي توکو یوه برخه له منځه ځي او یوه بله برخه یې په ډېره ټیټه بیه پلورل کېږي، پانګوال له دې پړاو څخه د وتلو لپاره هڅه کوي، چې د کارګرانو په شدید استثمار او کارخانې ته د نویو تولیدي ماشینونو په وسیله د تولید لګښتونه را کم کړي.

**دریم** پړاو د ژوند د نویوالي یا غوره والي پړاو دی، په دې پړاو کې د موسساتو او ماشین آلاتو هغه برخه چې له منځه نه ده تللې؛ تولیداتو ته پراخوالی ورکوي او په تدریجي ډول تولیدات خپل عادي حالت ته راګرځي او بیه یې بیرته لوړېږي، پانګوال لویو ګټو ته لاسرسی پیدا کوي او په دې ترتیب د راتلونکي پړاو د غوره والي او ښه والي سبب ګرځي.

**څلورم** پړاو د غوره والي پړاو دی. غوره والی د دورې وروستی پړاو دی. په دې پړاو کې نوي صنعتي موسسات او د اوسپنې پټلۍ جوړېږي، بیې لوړېږي پانګوال دلا تولید لپاره کوښښونه کوي. سوداګر پانګوالو ته د زیاتو توکو په تولید سپارښتنه کوي او په پایله کې په ناڅاپي توګه مالومېږي چې د توکو غوښتونکي د توکو له حجم څخه ډېر کم دي او په دې ترتیب ذخیرې تر خولې ډکېږي او بیاځلي بحران رارسېږي او د دورې پړاوونه بیا له سره تکرارېږي.

## د بزګرۍ کړکیچونه ( بحران)

د بزګرۍ د اضافه تولید د لاسته راوړلو بحران ته د بزګرۍ بحرانونه ویل کېږي. د دې بحرانونو لامل هم لکه د صنعتي بحرانونو د پانګوالي تضاد یانې د اجتماعي تولید او خصوصي مالکیت تر منځ تضاد دی، د بزګرۍ کړکیچونه معمولاً د صنعتي کړکیچونو څخه اوږد مهاله وي. د دې خبرې یو لامل دا کېدای شي چې زراعت له صنعت څخه وروسته پاتې دی، بل دا چې ځمکه د یو شمېر ځمکوالو تر خصوصي مالکیت لاندي ده. پانګه نه شي کولای په خپلواکه توګه په بزګرۍ کې په جریان کې واچول شي.

د کړکیچونو له کبله د پانګوالي تضادونو زیاتوالی په داسې حال کې چې لویې شتمنۍ له منځه ځي؛ په میلیونونو کارګران او زیارکښ د بېوزلۍ له خوا په مرګ باندې ګواښل کیږي، پانګوال هیڅ نشي کولای چې رامنځته شوی کړکېچ کنټرول کړي.

دلته بیا د پانګوال کمزورتیا را څرګندېږي، په کړکېچونو سره په میلیونونو کارګران بیکاره کیږي او دغه راز بې شمېره بزګران بیوزله او بې کوره کیږي، له همدې ځایه بحرانونه د کارګرانو او پانګوال تر منځ تضاد لا هم شدید او لا زیاتوي.

# اووم څپرکی

## امپریالیزم

امپریالیزم د امپریال له کلمې څخه اخیستل شـوی، چې د امپراطور په مانا ده. پـه همـدې سـره امپریـالیزم د امپراطورۍ لـه پلویتوب څخـه عبـارت دی، لـه امپراطورۍ څخـه موخـه دا ده چې یو هیواد زیات ځایونه تصـرف کړي او د هغو ځایونو خلگ مجبور کړي، تر څو د یرغلگر هیواد تابع واوسـي. په دې ترتیب د امپریالیزم سـاده مانا په نورو هېوادونو د یرغل او د نړۍ نیونه ده، ټول سـرمایه داري هیوادونه وړاندې تر دې چې د امپریالیزم پړاو ته ننوځي؛ د لویو او کوچنیو پانگوالو تر منځ سـخته سـیالي پکې موجوده وه. پانگوال یوازې په دې فکر وه چې څه ډول ډېره گټه لاسـته راوړي له همدې کبله خپل یې خپلو تخنیکونو ته غوره والی ورکاوه.

پانگوال پرمختللي او نوي ماشـینونه کارخانو ته راوړي او کارگران په شـدت سـره نور هم استثماروي، لوی پانگوال چې له ۱۰ سلنه څخه زیات نه دي؛ ٦۰ سلنه کارگران به یې په واک وه او پاتې پانگوالو یانې ۹۰ سلنه نورو به ٤۰ سلنه کـارگران پـه خپلو کـارخانو کې په کار اچولي وه. په پایله کې به لویو پانگوالو چې ډېر کارگران به یې په لاس کې وو؛ ډېر توکي تولیدول تر دې چې د هېواد پـه کچه به یې نیم تولیدات کول. همدا وو چې د دې سـیالۍ دوام به دوی ته هیڅ ډول زیـان نـه اړاوه. د لویو او متوسـطو پـانگوالو ترمنځ د یووالي فکر په داسې حال کې چې ټولو یو له بل سره سیالي کول؛ یو ناممکنه چاره وه، خو په

لس سلنه پانګوالو کې د یووالي فکر دومره ستونزمن نه وو او په پایله کې لویو پانګوالو په خپل منځ کې فکر وکړ.

اوس چې د ټولو پانګوالو سـیالي د دې لامل شـوه، چې د تولیداتو لویه برخه زموږ سره او ۱۰ سلنه یې د لویو پانګوالو په لاس کې شي؛ غوره به وي چې یو لـه بل سـره یوځای شـو او آزاده سـیالي یوې خواته کېږدو. په دې ډول هم کولای شـو خپل توکي په هره بیه مو چې زړه وي وپلورو او هم په پوره آسانی سره کولی شو، خپل تولیدات کنټرول کړو او په دې ترتیب به کوچنیو پانګوالو تـه چې اوس هم غواړي سـیـالی ته دوام ورکړي؛ په مخ کلکه څپېړه ورکړو. آزاده سیالي د دې سبب شوه چې تولیدات تقریباً یو ځای سره را ټول شي او پـه یو ځای کې د دې تولیداتو را ټولېدل هم په تدریجي ډول انحصـارات را منځته کړل.

لوی پانګوال د دې لپاره چې ټول تولید په پوره ډول په خپل لاس کې واخلي؛ کوښښ به یې کاوه چې کوچني او متوسط پانګوال داسې لارو ته مجبور کړي چې یا له دوی سره یوځای شي او له سیالی څخه لاس واخلي یا له دې پرته له منځه ځي. ځینې لارې یې په دا ډول وې، چې د توکو له پلورونکو سـره خپل قرارداد بندوي، یانې یوازې باید له لویو پانګوالو څخه خپل توکي وپېري او یا هم لـه کـارګرانو سـره خپـل قراردادونـه بنـدوي چې یوازې د دوی لپـاره کار وکړي.

یوه لار چې لویو پانګوالو به یې په وســیله ټیټې پانګې ســره راټولولې؛ هغه د سـهامي شرکتونو پراخوالی وو، پانګوال د آزادې سیالۍ مخالف وه او دا ټولې هڅې به یې د ازادې سیالۍ سره د مبارزې لپاره کولې.

کله به چې د تولیداتو نیمه برخه چې د لویو پانګوالو له خوا چې ټول ۱۰ سلنه وو؛ تولیدوله نو د تولید انحصــارولو لپاره یووالی یوازینۍ لار وه چې د هغوی ګټې بـه یې ســاتلې. لـه همـدې کبلـه دوی د یووالي ټولنې را منځتـه کړې او تړونونه یې لاسـلیک کړل چې له هغو سـره سـم، اول یو پانګوال د دې حق نه درلود چې پـه بـل پـانګوال بـانـدې هماغه توکي چې دی یې هم تولیدوي؛ په ګرانـه یـا ارزانـه بیـه پلوري، دوهم د هغو توکو انـدازه چې پـانګوال باید تولید کړي وای؛ ټـاکل شــوې وه، دریم د خرڅلاو مارکیټونه د ټولو پانګوالو ترمنځ ویشــل کېده، څلورم معینه او مشــخصــه اندازه خام مواد به هرې کارخانې ته ورکول کېده.

انحصار که څه هم وتوانېد چې پانګوال مجبور کړي چې په توکو باندې د بیې پر مهـال یو له بل ســره ســیالۍ ونه کړي او که څه هم امپریالیســتان وایي؛ د انحصـاراتو حاکمیت بحرانونه او سیالۍ له منځه یوړې، خو هغوی په خپله ښه پوهېږي چې انحصـاراتو نه یوازې سـیالۍ له منځه نه دي وړي، بلکې سـیالۍ یې نورې هم بې رحمانه کړي. د انحصـاراتو په حاکمیت سـره لوی پانګوال د ډېرکي بازارونو خام موادو او نورو په لاسـته راوړلو کې یو له بل سره شدیده او له تاوتریخوالي په ډکې مبارزې پیل کوي.

## مالي پانگه

کله چې پانگوال خپله پانگه په کار اچوي، نو باید د هغې د گټې په تمه پاتې شـي او دا گټه يې يو ځلي پـه لاس نـه ورځي، ځکـه توکي په تدريجي ډول توليد او پلورل کېږي. مثلاً يو پـانگوال پـه پـام کې ونيسـئ، چې ۱۰۰ ميليونه پـانگه يې د توکو په توليد باندې په کار اچولې ده. پانگوال غواړي چې د دې د گټې يوه برخه له پانگې سـره يوځای کړي او په دې ترتيب خپلې کارخانې تـه لا هم پراخوالی ورکړي، خو لـه هغـه ځايـه چې هر ورځ يوه انـدازه توکي توليد او پلورل کېږي او گټـه هم لږ لږ را ټولېږي؛ لـه همدې پلوه پانگوال بايد په مياشـتو مياشـتو په تمه پاتې شـي، تر څو چې لومړنۍ پانگه يې له اضـافي ارزښـت سـره په پوره ډول لاس ته ورشـي، نو په دې موده کې هره ورځ يوه اندازه پيسې د پانگوال لاس ته ځي چې بې مصرفه پاتې کېږي.

ولې بې مصـرفه پاتې کېږي؟ ځکه پانگوال نشـي کولای د يوې ورځې په گټه خپلې کارخانې ته پراختيا ورکړي. په پايله کې دغه بې مصـرفه پيسـې بانکونو ته سپارل کېږي، ټول پانگوال خپله بې مصرفه پانگه بانکونو ته سپاري، چې په دې سـره لويې پانگې په بانکونو کې جمع کېږي چې نورې بې مصرفه نه پاتې کېږي، ځکه پانگوالو نوره دې پانگې ته اړتيا پيدا کړې او د پورونو په توگه يې له بانکونو څخه اخلي او له يوې مودې وروسـته هماغه پيسـې له اضـافي گټې سره بېرته گرځوي.

صـنعتي پانگوال د خپلو کارخانو د پراختيا لپاره هغې پانگې ته چې په بانکونو کې ده؛ اړتيا ورته پيداکوي، ياني د صـنعتي انحصـاري پانگې پر مهال بانکي انحصاري پانگې ته اړتيا لري او دواړه سره يوځای کېږي. د صنعتي انحصاري او بـانکي انحصـاري پـانگې لـه گـډېـدو څخـه مـالي پـانگـه رامنځته کېږي، انحصاري صنعتي پانگه + بانکي انحصاري پانگه = مالي پانگه.

د صـنعتي انحصاري پانگي جوړښت او بانکي انحصاري پانگه دا دواړه په ښه ډول ليدلی شـو، چې ډېر لوی پانگوال چې هر کاره وي؛ په بانکونو کې هم به مقام لري او په کارخانو او صنعتي شرکتونو کې هم لوړ مقام لري.

مثلاً اويـا کاله وړاندې په يو امپرياليسـتي هېواد کې درې لوی اداره کوونکي بانکونه ۱۸۰ صـنعتي موسسـې او ۲۰۰ سـهامي شرکتونه موجود وه، ياني دغو درې بانکونو په ۳۸۰ شـرکتونو کې لوړ مقام درلود، له بل پلوه پينځه ويشـت لويې کـارخـانې هم د دې درې اداره کوونکو بـانکونو يوه برخـه وې. لـه دې څخـه مـالومېږي چې څنگـه بـانکوالان پـه صـنعتي او تجـارتي کارخانو کې ځانگړی مقام لري او هم د لويو کارخانو مالکان په بانکونو کې ځانگړی مقام لري.

پردې سربېره دا هم جوتېږي، چې صنعتي انحصاري پانگه له بانکي انحصاري پانگې سره يو ځای کېږي، وړاندې مو هم وويل د صنعتي انحصاري پانگې او له بانکي انحصاري هغې له ترکيب څخه مالي پانگه رامنځته کېږي.

## مالي الیګارشي

پانګوال د دې لپاره چې خپل ژوند اوږد کړي؛ د دې کار لپاره تبلیغاتي دستګاوې ( راډیو تلویزون، مطبوعات او نور) د پانګوالي نظام د تبلیغاتو او د خلکو غولولو لپاره په خپله ولکه کې اخلي. دغه راز ترڅنګ یې له پولیسو او نورو نظامي ځواکونو څخه هم ګټه پورته کوي، تر څو د اعتراض کوونکي خولې وتړي. په امپریالیستي او لویو سرمایه داري هېوادونو کې دا چې شمېره یې هم ډېره کمه ده؛ د هغه هېواد ټولي تولیدي منابع د همدوی په لاس کې وي، لکه ارزښتناک کانونه د بزګرۍ ځمکي تولیداتي شرکتونه او بانکونه. دوی ددې شیانو او ځایونو د ساتلو لپاره پولیس او نور ساتونکي هم په واک کې لري.

مالي الیګارشي یانې هغه کم افراد چې د ټولنې ټولې اقتصادي او سیاسي چارې یې په لاس کې وي. د دې ډول افرادو شمېره کېدای شي ۱۰ سلنه هم نه وي، او یا غوره ده ووایو چې مالي الیګارشي، یاني په ټولو افرادو باندې د کم شمېر افرادو لوړوالی، مثلاً په امریکا کې ټول شیان ځمکي، کارخانې، بانکونه، لوی صنعتي شرکتونه، د تبلیغ وسایل، دولتي دستګاوې او نور د ٦۰ کورنیو په لاس کې دي. دغه ٦۰ کورنۍ په اووه ډلو ویشل کیږي او ټول اقتصادي او سیاسي چارې په اشتراکي ډول په خپل واک کي اخلي.

## د پانګې صدور (انتشار)

پانګوال خپله ټوله پانګه د هېواد په دننه کې په کار نه اچوي، ځکه دا کار د هغوی لپاره ګټه نه لري. وړاندې مو وویل چې هر څومره چې پانګه پراخوالی پیدا کوي، نو د ګټې بیه یې راټیټېږي، له همدې کبله پانګوال خپل ټوله پانګه د هېواد په داخل کې په کار نه اچوي او کومه پانګه یې چې زیاتېږي؛ بهر ته لېږدوي.

بهر هېواد ته د پانګوالو د پانګې لېږد مهم لامل دا دی چې دګټې بیه یې راکمېږي. په همدې سره لوی پانګوال چې تل د ډېرې ګټې په لټه کې وي، نو خپلې پانګې وروسته پاتې هېوادونه ته صادروي. ځکه په دې هېواد کې کاري مزد کم دی او ورسره ځمکې او خام مواد هم ارزانه دي. معمولاً پانګوال له دوو لارو خپل پانګه صادروي، هغه دا چې د یو هېواد پانګوال د بل هېواد پانګوال ته خپله پانګه په پور ورکوي او له هغو څخه په ټوله ائیز ډول ګټه پورته کوي.

دویمه لار یې دا ده چې په بهرنیو وروسته پاته هېوادونو کې لوی شرکتونه بانکونه او نور صنعتي او سوداګریز تاسیسات او کارخانې جوړوي، له دې سره چې په امپریالیزم کې د پانګې صدور ډېر ارزښت پیدا کوي، خو دا کار د توکو د صدور مخنیوی کوي. اتفاقاً د پانګې صادرول د توکو تر صدور وړاندې کېږي. مثال کله چې یو امپریالیستي هېواد بل هېواد ته پور ورکوي؛ نو هغه هېواد مجبوروي چې خپل توکي له پور ورکونکي هېواد څخه وپېري. په

زړه پورې دا ده چې پانګوال کله خپله پانګه صادروي؛ د وروسته پاتې هېوادونو خلکو د غولولو لپاره وايي زموږ خوښېږي چې صنعت په ټول هېواد کې پرمختګ وکړي. له همدې کبله يې وينو چې په دې ځای کې د صنعت څرک هم نه ليدل کېږي او د خلکو ژوند ښه نه دی زړه مو وسوځېد او راغلو چې له دې وروسته ستاسي د هېواد سره مرسته وکړو، خو په حقيقت کې دوی د هغه هېواد د کانونو شتمنيو او نور منابعو او د زيار کښو د کاري ځواک د لوټولو لپاره دا کار کوي او د هغوی ګټې په خپل جېب ننباسي. له همدې کبله د ډېرې ګټې لپاره خپله پانګه صادروي.

## د امپرياليستي هېوادونو ترمنځ د پانګې ويش

کله چې د امپرياليستي هېوادونو لوی پانګوال نورو هېوادونو ته خپله پانګه صادروي او د نړيوالو بازارونو په لاسته راوړلو کې د دوی تر منځ شديده سيالي رامنځته کېږي. د امپرياليستانو تر منځ د شتمنۍ ويش هغه امپرياليستان چې اضافي پانګه يې زياته وي، نو لويه برخه يې په لاس راځي او برعکس، خو څومره چې د امپرياليستانو پانګه کمه وي، نو لږ بازارونه يې په لاس ورځي. له همدې کبله نړۍ د اضافي پانګې په نسبت چې هر امپرياليستي هېواد يې لري؛ د هغوی ترمنځ ويشل کېږي. امپرياليستان وايي، نړۍ ويشنه د جګړې پيښېدو د مخنيوي لپاره وي، خو د نړۍ په ويشلو يې هم ستونزې حل نه شوې او د جګړې د زياتوالي ګواښ نه يوازې له منځه نه ځي، بلکې نور هم زياتېږي.

ولې؟ د دې لپاره چې ځيني امپرياليستي هېوادونه د نړۍ وېشنې پر مهال لږ اضافي پانګه لري؛ نو لږه برخه ورته رسېدلې او وروسته يې چې اضافي پانګه زياته شي؛ نو ډېره برخه غواړي يا مثلاً ځيني هېوادونه د نړۍ ويشنې پر مهال د بيلابيلو لاملونه له کبله په ويش کې ګډون نه لري، له همدې کبله يې کومه برخه په لاس نه راځي، خو وروسته د اضافي پانګې خاوندان ګرځي او غواړي چې نړۍ ويشنه بيا له سره پيل شي، تر څو چې يوه برخه يې په لاس ورشي.

# پای